
EUROPEAN UNION

د افغانستان
د څېړنې او
ارزونې اداره

AREU
څېړنه د ښه افغانستان لپاره



# د هلمند د خوړو زون:

## یوه خیالي بریا

ډیوډ منسفیلد

مرغومی ۱۳۹۸

د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره
تلفیقي څېړنه

# د هلمند د خوړو زون:
## یوه خیالي بریا

ډیوېډ منسفیلد

مرغومی ۱۳۹۸

ISBN: ۹۷۸-۹۹۳۶-۲۴۱-۴۵-۷
انځورونه: ډيويد منسفيلډ
ژباړه عبدالحليم اچکزی
د خپروني کوډ پ ۱۹۰۸
©۱۳۹۸ د افغانستان د څیړنې او ارزونې اداره

دغه خپرونه کيدای شي يواځې د غيری سوداګريزو موخو لپاره نقل، خبر او يا بيا ځلي چاپ شي په دی شرط چې ليکوال او منبع يې خبره شی. په ياده خپرونه کې ځای شوی نظرونه ليکوال پوری اړه لري او په حتمی ډول د افغانستان د څيړنې او ارزونې اداری او اروپايې ټولنې نظرونه نه منعکوسوی که چيری دغه خپرونه بيا چاپ، ذخيره او يا بريښنايې بڼه يې ليږدول کيږی بايد يو لينک يې د AREU کورپاڼې (www.areu.org.af") ته واستول شي. او يا هم د بريښناليک او يا هم ټليفون شميری له لياری اړيکه ونيسئ ۰۰۹۳۲۰۲۲۱۲۴۱۴.

# د افغانستان د څېړنې او ارزونې ادارې په اړه

د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره په کابل کې د څېړنو یو خپلواک بنسټ دی چې په ۲۰۰۲م کال په افغانستان کې د نړیوالې ټولنې له خوا جوړ شو. د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداری موخه د شواهدو پر بنسټ د لوړ کیفیت او په پالیسۍ پورې اړوند څېړنو برابرول او په فعاله توګه د دغو څېړنو د پایلو خپرول او همدارنګه د شواهدو پر بنسټ د څېړنو او زده کړې د کلتور خپرول دي. د پنسیلوانیا پوهنتون د راپور پر بنسټ، د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره په افغانستان کې د یو څېړنیز بنسټ په توګه د لوړ مقام لرونکی ده او په منځنۍ آسیا کې د څېړنیزو بنسټونو په منځ کې په پنځم مقام کې ځای لري. د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره د خپلې موخې د لاسته راوړلو لپاره د پالیسۍ جوړونکو، مدني ټولنو، څېړونکو او زده کونکو سره کار کوي چې دوی د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداری له څېړنو او کتابتون څخه ګټه پورته او د څېړنې په برخه کې خپله وړتیا لوړه کړي او د نظریاتو د څرګندولو، د شننو، او بحثونو لپاره لاره هواره کړي. د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره د مشرانو د بورډ لخوا چې د مرستندویه ادارو، سفارتخانو، ملګرو ملتونو، ځینې نوروسازمانونو، مدنې ټولنو او د خپلواکو کارپوهانو استازي پکې شامل دي، اداره کیږي.

په همدې ډول، دغه اداره په برېتانیا کې د پروسپیکټ (Magazine Prospect) د مجلې د ۲۰۱۸ کال، د ډېرې ښې نړۍ واله څېړه نیزې ادارې جایزه ګټونکې شوه.

**مالی مرسته کوونکې:**

د دې ادارې مالی مرسته کوونکې د سویدن نړیواله پراختیایي اداره (SIDA) او لاندې نور نړیوال بنسټونه دي:

European Union (EU), Global Challenges Research Fund (GCRF), Norwegian Institute of International Affairs (NUPI), Central Asia Regional Economic Cooperation Institute (CAREC), The Foundation to Promote Open Society (FPOS), The French Medical Institute for mother and children (FMIC), The Royal United Services Institute (RUSI), Institute for Integrated Transitions (IFIT), UN Women and Save the Children.

**همدا راز دا اداره د لاندی نړیوالو بنسټونو غړیتوب هم لری:**

RESOLVE Network, Global Challenges Research Fund (GCRF), Secure Livelihoods Research Consortium (SLRC), A Conflict Sensitive Unpacking of The EU Comprehensive Approach to Conflict and Crisis Mechanism (EUNPACK), ADB-Asian Think Tanks Network (ATTN) and The Regional Environmental Centre for Central Asia (CAREC). For more information visit www.areu.org.af

Prospect Think Tank Awards
WINNER
International · Social

## د ليکوال په اړه

ډيوډ منسفلډ د لندن د اقتصاد په پوهنتون کې لوړپوړی ښوونکی دی. نوموړي په افغانستان کې د کليوال معيشت او کوکنارو د کرنې په اړه د يو ويشت پرله پسې فصلونو په اړه څېړنې ترسره کړې دي. ډيوډ منسفيلډ د لندن پوهنتون د ختيځ او افريقايي مطالعاتو د ښوونځی څخه د پرمختيائی مطالعاتو په برخه کې دوکتورا (پي ايچ ډی) لری. نوموړی، پر شګو جوړ دولت: ترياک څنګه افغانستان کمزوری کوی، د کتاب ليکونکی دی. ډيوډ له **۲۰۰۵** ز کال راهيسی د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداری سره کار کوی.

## مننه

د السیس لمیټډ (Alcis Ltd) څخه د دوی لخوا د لیری څخه د لوړ کیفیت انځور پیژندنې د تحلیل او د تلپاتي پراختیا او څېړنې د سازمان (OSDR) څخه په ساحه کې د دوی د دومداره سخت کار مننه کوو. همدارنګه د ریچارډ بریټن، پاول فیشتاین، مایک عثمان او دوه ناشناس مرورګرانو څخه په مخکنی مسودې باندی د دوی د نظریاتو څخه مننه کوو.

## سریزه

د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره خوښه ده چې د «هلمند د خواړو زون: یوه خیالي بریا» تر عنوان لاندې لیکل شوی تلفیقی مقاله چې د ډاکټر ډیویډ منسفیلډ لخوا لیکل شوی خپلو لوستونکو ته وړاندې کوي. دغه اداره د اروپایې ټولنې څخه په درې اړخیزه پروژو کې د مالي مرستې په اړوند د دوي د همیشني ملاتړ څخه مننه کوي.

دا څېړنه د هلمند د خوړو زون د پراختیا، ریښو، طرحو او همدارنګه هغو بېلابېلو خواوو چې د هغو د پلي کیدو په بهیر کې ښکېلې وې او وروسته بیا د عملي کېدو په جریان کې راټوکېدونکې ننګونې په مستنده توګه وړاندې کوي. هغه ژورې ساحوي څېړنې چې د هلمند د خوړو زون پروګرام تر پیلېدو وړاندې، د هغه په جریان کې او تر بشپړېدو وړاندې شوې دي، د بریا د هغه روایت چې د هلمند په هکله د خلکو پر ژبو و او دا چې په واقعیت کې څه وشول، ترمنځ تضادونه را سپړي. البته په څېړنه کې یوازې د هلمند د خوړو زون پروګرام په حدودو کې پر واقعیتونو بحث نه کېږي، بلکې د دې پروګرام تر حدودو د باندې واقعیتونه هم پکې څېړل کېږي.

د دې څېړنې اړینه برخه له کورنیو سره مرکې دي چې د مرکزي هلمند د لښکرګاه، مارجې، نادعلي، نهر سراج او ناوه بارکزي ولسوالیو په بېلابېلو څېړنیزو ساحو کې شوې ده. د اوو پرلپسې کلونو په اوږدو کې، په هرو شپږو میاشتو کې ساحوي کار شوی او د ۲۰۱۱ میلادي کال له مې څخه بیا د ۲۰۱۳ میلادي کال تر ډسمبر پورې، دغو ساحوي کارونو له ۲۸ څخه تر ۳۰ بېلابېلې څېړنیزې ساحې تر خپل پوښښ لاندې راوستلې دي چې په دې ډله کې اته یې د بغرا کانال شمال لور ته په لملمي سیمه کې وې. په ټوله کې تر ۱۱ کلونو په زیاته موده کې د ۴،۱۲۲ کورنیو له کروندګرو سره په ټولو او یا هم په ۲۸ څېړنیزو ساحو کې مرکې شوې دي.

تر ټولو وروستی ساحوي کار چې ددې ځانګړي راپور په سر کې ځای لري، له ۳۰۰ مرکو څخه جوړ شوی دی چې د ۲۰۱۷ میلادي کال په مې میاشت کې د هلمند د خوړو زون په ۱۲ څېړنیزو ساحو او همدارنګه د بغرا ویالې شمال لور ته په اتو څېړنیزو ساحو کې دننه شوې دي. د ساحوي کار وروستی پړاو د ۲۰۱۸ میلادي کال په پسرلي کې وشو چې په هماغو څېړنیزو ساحو کې ۳۱۰ مرکې وشوې او په پخوانیو لملمي سیمو کې د اوسېدونکو ښځو د **۵۲** مرکو په ترسره کولو سره بشپړ شو.

د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره، د دوامدارۍ پراختیا او څېړنیزې ادارې، د سیمه ییزو کارونو د کوښښونو څخه، همدارنګه هغه کسان چې دا څېړنیزه مقاله یې کتلې او سمونه یې د دې څېړنې د لا غني کیدو لپاره کړي، او د ډاکټر ډیویډ منسفیلډ د ژمنې څخه چې د داسې څېړنې په سر ته رسولو کې یې کړې مننه ده.

هیله منده یم، چې دغه تلفیقی څېړنیزه مقاله به د پالیسۍ جوړوونکو لپاره د پالیسۍ په تدوین او د کوکنارو د کښت او په افغانستان کې د دې په پایلو باندې متمرکزه خپرونو څخه ګټه واخیستل شي.



ډاکټره اورځلا نعمت

د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداری رئیسه

# د موضوعاتو لیکلړ


د لیکوال په اړه ........ ج

مننه ........ د

سریزه ........ ه

په پښتو کې د لنډیزونو ژباړه ........ ۱

لنډیز ........ ۳

۱. سریزه ........ ۵

۲. څېړندود ........ ۷

۱.۲ د څېړنیزو ساحو ټاکل ........ ۸

۲.۲ ساحوي کار ........ ۱۲

۳.۲ د انځورونو ادغام «یوځای کول» ........ ۱۳

۴.۲ له پالیسي جوړونکو او ښکېلو کسانو سره مرکې ........ ۱۳

۳. د هلمند د خوړو زون: د پروګرام رېښې او بنیادونه ........ ۱۴

۴. د هلمند خوړو زون: طرحه او لیکوالان ........ ۱۶

۵. د هلمند خوړو زون: برخې، پلي کېدل او ښکېلې خواوې ........ ۱۸

۱.۵ یوازې خبرې؟ د معلوماتي کمپاین عملیات ........ ۱۸

۲.۵ څه چې کرې هغه به رېبې؟ د کرنیزو توکو وېش ........ ۲۱

۳.۵ په شپه کې د غله په شان؟ د کوکنارو تخریب! ........ ۲۴

۶. د هلمند د خوړو زون: پایلې ........ ۳۲

۱.۶ د هلمند په خوړو زون کې دننه ........ ۳۷

۲.۶ د هلمند د خوړو له زون څخه بهر ........ ۴۹

۷. پایله: د بې لارۍ (انحراف) لمانځل؟ ........ ۶۳

۱.۷ د پروګرام په کچه ........ ۶۴

۲.۷ په ملي کچه ........ ۶۶

۸. ضمیمې ........ ۶۷

اخځلیکونه ........ ۸۴

# په پښتو کې د لنډیزونو ژباړه

| | |
|---|---|
| ADIDU | د افغانستان د مخدره توکو لپاره بین الاداري واحد |
| AEF | د کوکنارو د تخریب افغان ځواک |
| ANDSF | افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونه |
| ANP | افغان ملي پولیس |
| ASI | د افغانستان د باثباته کولو نوښت |
| ATV | هرځای تلونکی موټر(نقلیه واسطه) |
| AVIPA | د افغانستان په کرنیز تولید کې د زیاتوالي لپاره کوپون |
| CERP | د قوماندانانو د بېړني غبرګون پروګرام |
| CN | د مخدره توکو پر وړاندې مبارزه |
| CNAT | د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې ټیم |
| DFID | د برېتانیا نړیواله پراختیایي اداره |
| DoD | د امریکا د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزارت |
| FCO | د برتانیا د بهرنیو چارو او مشترکو ګټو وزارت |
| GIRoA | د افغانستان اسلامي جمهوري دولت |
| GLE | د والي په مشرۍ د کوکنارو د تخریب عملیات |
| GPI | د ښو کړنو نوښت |
| GPS | د موقعیت موندنې نړیوال سیستم |
| HFZ | د هلمند د خوړو زون |
| HMG | د اغلي حکومت (برتانیا) |
| IFI | نړیوالي مالي ادارې |
| INCSR | د نړیوالو مخدراتو د مخنیوي د تګلاري راپور |
| INL | د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې او قانون د تنفیذ نړیوال ریاست |
| IRD | د نړیوالې هوساینې او پراختیا سازمان |
| ISAF | د امنیت ساتنې نړیوال مرستندویه ځواک |
| MAIL | د کرنې، اوبو لګونې او مالدارۍ وزارت |
| MATTP | د مارجې د چټک کرنیز بدلون پروګرام |

| | |
|---|---|
| MCN | د نشه يي توکو پر وړاندې د مبارزې وزارت |
| MEB | د سمندری ځواکونو عملي لوا |
| MISFA | د افغانستان لپاره د کوچنيو پورونو د پانګونې د ملاتړ اداره |
| MoD | د افغانستان د ملي دفاع وزارت |
| NATO | د شمالي اتلانتيک تړون سازمان |
| NSP | د ملي پيوستون پروګرام |
| PEF | د کوکنارو د کښتونو د له منځه وړلو ځواک |
| PRT | د ولايتي بيارغونې ټيم |
| RIAB | په بکس کې راډيو |
| SSR | د امنيتي سکتور اصلاحات |
| UNODC | د ملګرو ملتونو د جرمونو او مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې دفتر |
| USAID | د متحده ايالاتو نړيواله پراختيايي اداره |
| USG | د امريکا د متحده ايالاتو حکومت |
| WHO | د روغتيا نړيوال سازمان |

## لنډيز

د ملګرو ملتونو د جرمونو او مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې د دفتر (UNODC) د اټکلونو پر بنسټ، د افغانستان په سوېلي هلمند ولايت کې د کوکنارو کرکيله د هلمند د خوړو زون په لومړي کال کې په ډراماټيکه توګه ۳۷ سلنه راټيټه شوه چې په ۲۰۰۸ ميلادي کال کې له **۱۰۳,۵۹۰** هکتارو څخه په ۲۰۰۹ ميلادي کال کې د **۲۹,۸۳۳** هکتارو ته ټيټېدل د کوکنارو په کښت کې د پام وړ کموالی دی. په ۲۰۱۰ ميلادي کال کې بيا هم د کرل شويو کوکنارو په اندازه کې کموالی تر سترګو شو ـ که څه هم دا ځل کموالی د پام وړ نه و ـ او شاوخوا **۲۵,۰۰۰** هکتاره کوکنار پاتې شول.

دا لاسته راوړنه هغه مهال تر ګوتو شوه چې د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې په اړه ښه خبرونه ډېر لږ خپرېدل او په داسې حال کې چې پر پاليسي جوړونې يو سياسي چاپېريال حاکم و او په هغه چاپېريال کې د لوېديځو سياستوالو او بسپنه ورکوونکو له خوا د افغانستان د دولت جوړونې د پروژو په برخه کې د ملموسو پرمختګونو په اړه غوښتنې مخ پر زياتېدو وې. په حقيقت کې هغه مهال د هلمند د خوړو زون د ترياکو کموالي، د حکومتولۍ د ښه کولو او همدارنګه پر ځايي وګړو د يوه ثبات لرونکي اغېز له امله پېژندل شوی و.

د مخدره توکو د کنترول په برخه کې د کوکنارو د کرکيلي پر دغسې ډراماتيک کمښت بحث کېدای شو او همدارنګه د داسې ساده منطق لرونکي اقدام لپاره ډېرې زياتې غوښتنې کېدې. د هلمند د خوړو زون د بريا توضيح ډېر ساده وه، هغه دا چې يو پياوړی والي او د کوکنارو د کښتونو قوي ګواښ کولای شي چې کروندګر د ترياکو له کرکيلې څخه را وګرځوي، په ځانګړې توګه کله چې دوی ته د غنمو په څېر يو بديل وړاندې شي. دا کار يو ډول معامله او دولت محوره نړۍ ليد و، چې له لوېديځوالو پاليسي جوړونکو سره يې دا هيله پيدا کړه چې دغه پايلې په هلمند او د افغانستان په نورو برخو کې ترلاسه کېدای شي.

هغه څه چې په لومړيو کلونو کې يې د هلمند د خوړو زون د کرکيلې له کمښت سره مرسته وکړه، هغه د اوړو په مقدار کې هغه د پام بدلون و چې يوه بزګر کولای شول د ترياکو د حاصلاتو له ټولولو او د ترلاسه شوي حاصل له پلور څخه وروسته يې رانيسي. د افغانستان په نورو برخو«لکه په مرکزي او شمال ختيځو سيمو»کې چې د ترياکو حاصلات تر ډېره د پام وړ نه دي، دا بدلون په داسې ډول و چې يو بزګر کولای شول د خپلې کورنۍ لپاره چې څومره يې زړه وغواړي پر خپله ځمکه هغومره غنم وکري، له دې پرته چې کوکنار وکري او د هغو د حاصل پر پيسو غنم وپېري. په هلمند کې د ترياکو او غنمو په بيو کې نسبي بدلون راغی او د دواړو خالصه ګټه تقريباً سره مساوي وه، خو تر ګټې د خوړو د خونديتوب په اړه انديښنې ډېرې اړينې وې، په تېره بيا په داسې وخت کې چې په نړيواله کچه د غنمو بيې مخ پر لوړېدو وې او په جنوب لوېديځ کې جګړو د کروندګرو او سوداګرو لپاره دا ستونزمنه کړه چې غنم په بازار کې وپېري. ريښتيا دا و، چې کروندګرو غوره ګڼله چې پخپله غنم وکري او په دې برخه کې يې يوازې ډېرې کمې هڅونې ته اړتيا وه چې د ترياکو د کر کچه را ټيټه کړي. والي محمد ګلاب منګل – له خپلو ټولو نيمګړتياوو سره سره - د امريکا متحده ايالاتو او برېتانيا د پوځي امکاناتو په مرسته دا زمينه برابره کړه.

څه چې د دغو مساعدو حالاتو په تعقيب وشول، هغه په هلمند کې د افغان او نړيوالو پوځي ځواکونو د شمېر د پام وړ زياتوالی او همدارنګه د امريکا متحده ايالاتو او برېتانيا د حکومتونو له اړخه د ترهګرۍ پر وړاندې د مبارزې په برخه کې د دواړو حکومتونو له لوري د هغه ولايت په پرمختيايي مرستو کې ډراماټيک زياتوالی و. د ۲۰۰۹ او ۲۰۱۱ ميلادي کلونو ترمنځ په پرمتخيايي برخه کې لګښتونکې پيسې د هلمند د خوړو زون د پروګرام د لګښتونو په پرتله ډېرې زياتې وې - تر ۲۰ ځله زياتې - چې دا ادعاوې يې له پامه غورځولې چې د ترياکو په کرکيله کې کموالی په مستقيمه توګه د خوړو له زون سره تړاو لري. او د امنيت په ټينګېدو سره ـ يا په اصطلاح «په هر کونج کې د ايساف يوه اډه»[۱] ـ يې نه يوازې کروندګر تر ډېره له دې ګواښ سره مخامخ کړل چې ممکن کښتونه يې تخريب شي؛ بلکې ددې شونتيا هم زياته شوه چې که دوی پر لوړ ارزښت لرونکي کښت پانګونه وکړي، کاروبار يې پيل کړي، يا ان د ورځني کار د موندلو په خاطر بازار ته ولاړ شي نو دوی ته به اقتصادي ګټه ولري.

د هلمند د خوړو زون د منفي پايلو څرګندېدو زيات وخت و نه نيو. ان د ۲۰۰۹ ميلادي کال په لومړيو کې دا احساس مخ پر زياتېدو و چې د هلمند په خوړو زون کې دننه د ترياکو د کچې ټيټېدل، له دې زون څخه بهر په کرکيله کې د زياتوالي له امله بېرته جبران شوي دي. تر ۲۰۱۳ ميلادي کال پورې د هلمند د خوړو له زون څخه بهر د بغرا کانال شمال لور ته دښتو او همدارنګه د لويې لارې په امتداد شمال لور ته په نهر سراج ولسوالي کې د کرکيلې کچې، د هلمند په خوړو زون کې دننه هر ډول کمښت تر سيوري لاندې راووست. پر دې سربېره، د هلمند د خوړو له زون څخه بهر د کرکيلې په کچه کې زياتوالی نشو راتلای چې «د پوکانۍ اغېز» د يوې نه بېلېدونکې برخې په توګه له پامه وغورځول شي. يعنې تر هغو چې تقاضا پر خپل ځای پاتې وي، که په يوه سيمه کې عرضه کمېږي، په بله سيمه کې بېرته زياتېږي، په پايله کې نه يوازې دا چې کرکيله پخوانيو للمي سيمو ته چې پخوا پکې لږ کرنيز توليد کېده ولېږدول شوه، بلکې کروندګر يې هم هماغه کسان وو چې د هلمند په خوړو زون کې دننه يې ترياک

۱ مايک مارټين، يوه دوستانه جګړه: د هلمند د شخړې يو شفاهي تاريخ (هرسټ: لندن، ۲۰۱۴)، ۲۴۹ پاڼه.

کرل – چې دوی تر ډېره بې ځمکې خلک وو او ځمکې يې په اجاره او يا هم په شريکه کرلې- يعني پخوانيو للمي سيمو ته د کوکنارو د کرکيلې لپاره هغه کروندګر راغلي وو. دا کسان د هلمند د خوړو زون د يوه داسې پروګرام له امله در په در شوي وو چې د ځمکې د اړيکې څرنګوالی يې له پامه غورځولی و او د مرستې د ترلاسه کولو لپاره يې يوازې ځمکه لرونکي کسان په نښه کړي وو. د کوکنارو پر کرلو يې ځکه بنديز لګولی و چې ترياک د لږ زيار د کښتونو (په ځانګړې توګه د غنمو ) په بدل کې پرېښودل شي. له همدې امله دغو کروندګرو ځانونه له ځمکو، اوبو، پور او سرپناه څخه محروم ومومندل. دغو کسانو له دې پرته چې پخوانيو للمي سيمو ته ولاړ شي او هلته کوکنار وکري بله لاره نه درلوده او کله چې به هلته ورسېدل، نو دوی به نور هم وهڅول شول چې د ځمکو د کرکيلې د نامساعدو شرايطو پر اساس ان زيات کوکنار وکري. دوی ته دا کمزورې هيله هم ورکول کېده چې که «ښه کال» راشي نو دوی هم کولای شي چې يوه ټوټه للمي ځمکه وپېري.

په ۲۰۱۴ ميلادي کال کې، کله چې نړېوال پوځي ځواکونه له هلمنده ووتل، د کوکنارو کرکيله په زياته پيمانه د هلمند د خوړو زون ته بېرته را وګرځېده. که چېرې پرلپسې درې کاله د کوکنارو حاصلات لږ شوي نه واى، نو د کوکنارو د کرکيلې رفتار به نور هم چټک واى. خو کله چې په ۲۰۱۲ ميلادي کال کې حاصلات ښه شول او د هلمند ډېرې سيمې د افغان ملي او دفاعي ځواکونو له ولکې ووتې، نو تر پخوا ډېرو کروندګرو د کوکنارو کرکيلې ته مخه کړه. د کوکنارو کرکيله تر دې کچې زياته شوه چې په ۲۰۱۷ ميلادي کې د جرمونو او مخدره توکو پر وړاندې د ملګرو ملتونو د مبارزې دفتر(UNODC) د اټکلونو پر بنسټ په ټوليز ډول په هلمند ولايت کې په ۱۴۴,۰۰۰ هکتار ځمکه کې کوکنار کرل شوي وو. د کوکنار په اړه د امريکا حکومت اټکلونو وښودله چې د هلمند په خوړو زون کې دننه تر ۲۰۰۹ ميلادي کال، چې دا پروګرام پيل شو، لازيات کوکنار کرل شوي دي.

د فساد تورونو د هلمند د خوړو زون په اړه د ځايي خلکو نظريات اغېزمن کړل. دا يو عام نظر و چې د کرنيزو توکو چمتو کول (او په دې نوم د کښتونو له منځه وړل) د والي، قومي مشرانو او د دوی تر ملاتړ لاندې کسانو په ګټه و. په لښکرګاه کې د غنمو د اصلاح شويو تخمونو او کيمياوي سرې تور بازار وغوړېد چې د کلي مشرانو او ولايتي چارواکو به هغه توکي پکې پلورل چې بايد پر کروندګرو وېشل شوي واى. که څه هم په دې کار کې ښکېل ځينې جګپوړي افغان چارواکي ونيول او زنداني شول، خو د ځايي خلکو پر اند دا په اوړو کې د مالګې برابر وو. له مالي امکاناتو را نيولې بيا تر ترانسپورت او لوژستيک پورې پر مرسته کوونکو د والي ګلاب منګل اتکا - او د کليوالو پر ژوند او د هغوی پر معيشت باندې اغېزو ته له پام کولو پرته د ترياکو پر کښت د بنديز پر لګولو ټينګار – کروندګر پر دې باور کړل چې والي د سيمې د خلکو د ګټې پر ځای تر ډېره د خپلو بهرنيو بادارانو ګټو ته وفادار دی. په دې توګه د هلمند د خوړو زون پروګرام د ولايتي چارواکو پر وړاندې د خلکو د لا زياتې کرکې د راټوکېدو لامل شو او د دولت جوړونې هغه موخې يې کمزورې کړې چې د مرسته کوونکو له خوا د داسې يو اقدام د ملاتړ د دليل په توګه وړانديز شوې و.

دا څېړنه د هلمند د خوړو زون د پراختيا، ريښو، طرحو او همدارنګه هغو بېلابېلو خواوو چې د هغو د پلي کېدو په بهير کې ښکېلې وې او وروسته بيا د عملي کېدو په جريان کې راټوکېدونکې ننګونې په مستنده توګه وړاندې کوي. هغه ژورې ساحوي څېړنې چې د هلمند د خوړو زون پروګرام تر پيلېدو وړاندې، د هغه په جريان کې او تر بشپړېدو وړاندې شوې دي، د بريا د هغه روايت چې د هلمند په هکله د خلکو پر ژبو و او دا چې په واقعيت کې څه وشول، ترمنځ تضادونه را سپړي. البته په څېړنه کې يوازې د هلمند د خوړو زون پروګرام په حدودو کې پر واقعيتونو بحث نه کېږي، بلکې د دې پروګرام تر حدودو د باندې واقعيتونه هم پکې څېړل کېږي. د دې څېړنې پايلې ښيي چې د هلمند خوړو زون پروژې د بريا پر ځای، برعکس داسې شرايط رامنځته کړل چې تر پخوا په بېخې ډېرو ځمکو کوکنار وکرل شول، بېلابېل فسادونه ورسره بنسټي شول چې دې کار د خلکو او چارواکو ترمنځ واټن نور هم زيات کړ او د کرنيزې ودې يو داسې چټک بهير ته يې زمينه چمتو کړه چې په راتلونکې لسيزه کې ممکن لږ تر لږه نيم ميليون خلک له خپلو مېنو بېځايه کړي.

# ۱. سریزه

چارواکي د هلمند د خوړو زون پروګرام ته لېوال وو. د جرمونو او مخدره توکو پر وړاندې د ملګرو ملتونو د مبارزې دفتر(UNODC) د تریاکو په اړه په خپله کلنۍ سروې کې د کوکنارو د کرکیلې په کموالي کې د هلمند د خوړو زون ونډه وستایله.[۲] د امریکا متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزارت د نشه یي توکو د مخنیوي د نړیوالې تګلارې راپور (INCSR) وویل «د هلمند والي ګلاب منګل د یوه داسې صفت وړ والي بیلګه وړاندې کوي چې کولای شي د عامه معلوماتو، کرنیزې مرستې او د قانون د پیاوړي پلي کیدو د ترکیب له لارې پرمختګ وکړي».[۳] د برېتانیا نړیوالې پراختیایي ادارې هم په دې بهیر کې ګډون وکړ او په ۲۰۱۱ میلادي کال کې یې د یوې ویډیو په خپرولو سره د هلمند د خوړو زون لاسته راوړنې وستایلې.[۴]

د کوکنارو د کرکیلې د کمېدو له امله والي وستایل شو او دغه ولایت ته د ښو کړنو د نوښت (GPI) پر اساس د امریکا د بهرنیو چارو وزارت د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې او قانون د تنفیذ د نړیوال ریاست (INL) له خوا ۱۰ میلیونه اضافي ډالر ورکړل شول.[۵] د هلمند د خوړو زون ملموسه بریا همدارنګه ددې سبب شوه چې په نورو ولایتونو کې د ورته پروګرامونو د عملي کېدو غوښتنه وشي.[۶] که څه هم د اتو نورو خوړو زونونو لپاره هم پلانونه وو. د امریکایي سناتور ډاین فاینشټاین په مستقیمه سپارښتنه او د امریکا د بهرنیو چارو وزارت د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې او قانون د تنفیذ د نړیوال ریاست (INL) پر لارښوونه، د هغه مهال د مخدره موادو پر وړاندې د مبارزې وزیر ضرار احمد مقبل د کندهار ولایت د خوړو زون له پروګرام سره **۲۵** میلیونه امریکایي ډالر مرسته وکړه.[۷]

هغه مهال هغو کسانو چې د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې د پالیسۍ په برخه کې یې کار کاوه، په دې کې هیڅ شک نه درلود چې د هلمند په خوړو زون کې د تریاکو په کرکیله کې ډراماتیک کموالی د هلمند د خوړو زون له کړنو سره مستقیم تړاو نه لري. په دغو کړنو کې د غنمو د اصلاح شویو تخمونو او سرې وېش، ورسره د هغه مهال د والي ګلاب منګل اغېزناکه رهبري او ترڅنګ یې د کوکنارو د لمنځه وړلو کره ګواښ شامل وو . په دې ډول د «خوړو زون» اصطلاح د هغو کسانو لپاره چې د مخدره توکو د مخنیوي په برخه کې یې کار کاوه یو داسې ځانګړې نښه وګرځېده چې غوښتل یې په رسنیو او رسمي راپورونو کې یې د بریا د نمونې په توګه وړاندې کړي: چې دې کار ته په داسې وخت کې اړتیا لیدل کېده چې په دې اړه شکونه مخ پر زیاتېدو وو او هغه مالي مرستې چې د بدیل معیشیت پروګرام له دوو لویو مرسته کوونکو، د امریکا متحده ایالاتو نړیوالې پراختیایي ادارې (USAID) او د برېتانیا د نړیوالې پراختیایي ادارې (DFID) او نړیوالو مالي موسساتو (IFIs) لکه نړیوال بانک له خوا ورکول کېدې، له کمښت سره مخ وې.

خو پر دې ټولو سربېره، داسې شکونه وو چې ایا په رښتیا هم په هلمند ولایت کې د کوکنارو په کرکیله کې کمښت د هلمند د خوړو زون پروګرام پایله ده او که نه. د بیلګې په ډول، د برېتانیې حکومت – چې د هلمند د خوړو زون له اصلي مالي مرسته کوونکو څخه و - له خوا په یو لړ شویو ارزونو کې د کوکنارو د کرکیلې د کموالي په برخه کې د دغه پروګرام ونډه تر پوښتنې لاندې راغلې وه، خو په ورته وخت کې یې د حکومتولۍ او ثبات په برخه کې د دې پروګرام ونډه ستایله.[۸] دغه ارزونې چې د برېتانیا حکومت د بېلابېلو وزارتونو د مختلفو چارواکو له خوا کېدې – استدلال یې کاوه چې د کوکنارو د کمښت په برخه کې د هلمند د خوړو زون اغېز کم دی او نور بهرني عوامل په دې برخه کې تر دغه پروګرام

۲ د ملګرو ملتونو د جرمونو او مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې دفتر(UNODC)، افغانستان، د تریاکو سروې ۲۰۰۹، کابل: (UNODC)، د ۲۰۰۹ کال دسامبر.

۳ د امریکا د بهرنیو چارو وزارت د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې او قانون د تنفیذ د نړیوال ریاست(INL)، «د مخدره توکو د مخنیوی د نړیوالې ستراتیژۍ راپور ۲۰۱۰،» د ۲۰۱۰ کال مارچ، د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزارت: واشنګټن، ډي سي. https://۲۰۰۹-۲۰۱۷.state.gov/j/inl/rls/nrcrpt/۲۰۱۰/vol۱/۱۳۷۱۹۴.htm

۴ د نړیوالې پراختیا اداره، «قضیوی مطالعه: په افغانستان کې د تریاکو پر ځای د غنمو کرل – امنیتي وضعیت څنګه بهتره شو او څنګه د برتانیې له خوا کرنیز ملاتړ له افغان بزګرانو سره مرسته کوي چې د تریاکو له کرکیلې څخه لاس واخلي او زیات پایښت لرونکو کښتونو ته مخه کړي،» د ۲۰۱۱ کال د مې پر ۲۲ مه نېټه خپور شوی، https://www.gov.uk/government/case-studies/growing-poppies-instead-of-opium-in-afghanistan

۵ د امریکا د بهرنیو چارو وزارت د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې او قانون د تنفیذ د نړیوال ریاست(INL)، «د مخدره توکو د مخنیوی د نړیوالې ستراتیژۍ راپور ۲۰۱۰،» د ۲۰۱۰ کال مارچ، د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزارت: واشنګټن، ډی سی. https://۲۰۰۹-۲۰۱۷.state.gov/j/inl/rls/nrcrpt/۲۰۱۰/vol۱/۱۳۷۱۹۴.htm

۶ د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې وزارت، «د خوړو زون پروګرام، کندهار، فراه، ارزګان او بدخشان.» http://mcn.gov.af/en/page/۵۱۳۸/۵۱۴۱

۷ د افغانستان د بیارغونې لپاره ځانګړی سرمفتش، «د مخدره توکو پر وړاندې مبارزه: په افغانستان کې د متحده ایالاتو له تجربې څخه ترلاسه شوی درسونه،» د ۲۰۱۸ کال جون، SIGAR: واشنګټن، ډی سی، ۱۲۴مه پاڼه. https://www.sigar.mil/pdf/lessonslearned/SIGAR-۱۸-۵۲-LL.pdf

۸ رایډر، م. او ریډ، س. (۲۰۰۹، اګست). د هلمند د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې پلان بیاکتنه. د افغانستان د مخدره توکو د بین الاداري واحد لپاره ناچاپ شوی سند.؛ زبیډی، ګ. (۲۰۱۰، مارچ). د هلمند د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې د ولایتي پلان بیاکتنه: دوهم راپور. دا بیاکتنه د هلمند ولایتي بیارغونې ډلې د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې د ټیم په سپارښتنه ترسره شوه؛ مک پیرسن، س. او هانا، س. (۲۰۱۰). د هلمند د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې پلان بیاکتنه: دریېم راپور. د هلمند د ولایتي بیارغونې ډلې د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې د ټیم لپاره ناچاپ شوې ارزونه.

ډېره ونډه لري چې پکې د کوکنارو د بیو ډېر را ټیټېدل او ترځنګ یې په نړیواله کچه د غنمو د بیو لوړېدل شامل دي. همدارنګه په هلمند کې د ځواکونو او ورسره د پراختیایي مرستو پام وړ زیاتوالی هم پکې ونډه لري.

دا راپور پرته له دې چې د هغه مهال د ثبات ټینګولو بې حده سیاسي شوی چاپېریال تر اغېز لاندې راشي، د هلمند د خوړو زون پروګرام پایلې پر حقایقو د پوهېدو لپاره څېړي. دا راپور له هغو ساحوي کارونو په ګټې اخیستنې سره چمتو شوی دی چې د هلمند په کلیوالي سیمو کې د هلمند د خوړو زون له پروګرام څخه وړاندې، د هغه د عملي کېدو په جریان کې او تر دې پروګرام وروسته شوي دي. په راپور کې له سپوږمکیو څخه اخیستل شوي د لوړ کیفیت لرونکي انځورونه او په دې پروګرام کې له ښکېلو اړینو برتانیوي، امریکایي او افغان چارواکو سره مرکې را یو ځای شوې دي. دا راپور د هلمند د خوړو زون پیل، پلي کېدو، پایلې او له سیمې د نړیوالو پوځي ځواکونو تر وتلو پنځه کاله وروسته د دې پروګرام دوامداره اغېزې څېړي.

دا څېړنه پر اووه نورو برخو وېشل شوې ده. دوهمه برخه یې څېړندود بیانوي او په دې اړه جزئیات وړاندې کوي چې څنګه د هلمند په کلیوالي سیمو کې کره ساحوي کار او د سپوږمکۍ باکیفیته «H.D»انځورونه سره را یو ځای کړل شوي دي او د هغو کسانو د ژوند معیشت بدلونونو یې انځور کړي دي چې د هلمند د خوړو زون پروګرام په داخل او تر هغه بهر سیمو کې اوسېدل. د راپور درېیمه برخه د هلمند د خوړو زون ریښې څېړي، دغه ریښې د امریکا او برېتانیا له سیاسي اړیکو سره تړاو لري او همدارنګه له هغو اندېښنو سره تړاو لري چې د مخدره توکو د کنټرول په برخه کې تر غوره هلو ځلو ډېرې له مخدره توکو سره د مبارزې د رهبرۍ پر سر وې. څلورمه برخه د هلمند د خوړو زون د طرحې کلي انځور وړاندې کوي، ولې یې اوسنۍ بڼه غوره کړه او په دې برخه کې اصلي ښکېل لوبغاړي څوک وو؟ پنځمه برخه د پروګرام پر جزئیاتو او د هغو پر پلي کېدو تمرکز کوي – د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې پیغامونه، د غنمو د اصلاح شویو تخمونو او سرې چمتو کول او همدارنګه د کوکنارو د لمنځه وړلو هڅې - او دا چې د وخت په تېرېدو سره په هره برخه کې بدلون څنګه راغی، شپږمه برخه د هلمند د خوړو زون په دننه او بهر کې د پروګرام پایلې تحلیلوي. دا کار د بېلابېلو معیارونو پر اساس د پروګرام اغېزو ته په کتو – نه یوازې د کوکنارو د کرکیلې کچې ته په کتوکېږي او دا چې څنګه د وخت په تېرېدو ، موقعیت، ټولنیزو-اقتصادي ډلو او تر یو محدودې پیمانې جنسیت ته په کتو سره په دې برخه کې بدلون راغی. بالاخره په اوومه برخه کې پایلې او سپارښتنې وړاندې کېږي.

## ۲. څېړندود

دا څېړنه د پراخ ساحوي کار او د سپوږمکۍ د لوړ کیفیت لرونکو «H.D» انځورونو په مرسته چې د هلمند د خوړو زون پروګرام تر پیل وړاندې، د عملي کېدو پر مهال او تر هغه را وروسته راټول شوي وو، چمتو شوې ده (۱ شکل وګورئ). د دې څېړنې اړینه برخه له کورنیو سره مرکې دي چې د مرکزي هلمند د لښکرګاه، مارجې، نادعلي، نهر سراج او ناوه بارکزي ولسوالیو په بېلابېلو څېړنیزو ساحو کې شوې ده. د اوو پرلپسې کلونو په اوږدو کې، په هرو شپږو میاشتو کې ساحوي کار شوی او د ۲۰۱۱ میلادي کال له مې څخه بیا د ۲۰۱۳ میلادي کال تر ډسمبر پورې، دغو ساحوي کارونو له ۲۸ څخه تر ۳۰ بېلابېلې څېړنیزې ساحې تر خپل پوښښ لاندې راوستلې دي چې په دې ډله کې اته یې د بغرا کانال شمال لور ته په للمي سیمه کې وې (۱ شکل وګورئ). په ټوله کې تر ۱۱ کلونو په زیاته موده کې د ۴,۱۲۲ کورنیو له کروندګرو سره په ټولو او یا هم په ۲۸ څېړنیزو ساحو کې مرکې شوې دي.

۱ جدول: له کورنیو سره مرکو ته کتنه، ۲۰۰۷ – ۲۰۱۸ میلادي کلونه

| کال | میاشتې | څېړنیزو ساحو شمیر (شمېر) | ځواب ویونکو (شمېر) |
|---|---|---|---|
| ۲۰۰۷ | نومبر/ډسمبر | ۷ | ۴۲ |
| ۲۰۰۸ | نومبر/ډسمبر | ۱۰ | ۹۹ |
| ۲۰۰۹ | نومبر/ډسمبر | ۱۱ | ۱۱۲ |
| ۲۰۱۰ | اپرېل/مې | ۱۱ | ۸۷ |
| | نومبر/ډسمبر | ۲۳ | ۳۲۰ |
| ۲۰۱۱ | اپرېل/مې | ۲۸ | ۴۴۷ |
| | نومبر/ډسمبر | ۲۸ | ۳۷۳ |
| ۲۰۱۲ | اپرېل/مې | ۲۸ | ۴۲۲ |
| | نومبر/ډسمبر | ۳۰ | ۴۰۴ |
| ۲۰۱۳ | اپرېل/مې | ۳۰ | ۴۲۲ |
| | نومبر/ډسمبر | ۳۰ | ۴۷۲ |
| ۲۰۱۵ | اپرېل/مې | ۱۰ | ۱۴۰ |
| ۲۰۱۷ | اپرېل/مې | ۲۰ | ۳۰۰ |
| ۲۰۱۸ | اپرېل/مې | ۱۹ | ۳۲۲ |

تر ټولو وروستی ساحوي کار چې ددې ځانګړي راپور په سر کې ځای لري، له ۳۰۰ مرکو څخه جوړ شوی دی چې د ۲۰۱۷ میلادي کال په مې میاشت کې د هلمند د خوړو زون په ۱۲ څېړنیزو ساحو او همدارنګه د بغرا ویالې شمال لور ته په اتو څېړنیزو ساحو کې دننه شوې دي. د ساحوي کار وروستی پړاو د ۲۰۱۸ میلادي کال په پسرلي کې وشو چې په هماغو څېړنیزو ساحو کې ۳۱۰ مرکې وشوې او په پخوانیو للمي سیمو کې د اوسېدونکو ښځو د **۵۲** مرکو په ترسره کولو سره بشپړ شو.

د ۲۰۱۱ او ۲۰۱۸ میلادي کلونو ترمنځ د ساحوي کار د هر پړاو په بهیر کې تر ۲۰ زیاتې مرکې شوې دي. دغه مرکې پر هغو کسانو متمرکزې وې چې په څېړنیزو ساحو کې پر مېشتو وګړو یې ټوکي او خدمات پلورل یا یې له هغوی څخه یې پېرودل. په دې ډله کې د هرزه بوټو وژونکو کیمیاوي درملو، سولرونو، ډیزلو سوداګر، مزدورکاران او همدارنګه هغه کسان چې غنم او سبزیجات یې پېردول شامل وو. دغه مرکې په ګرشک، لښکرګاه او همدارنګه د هلمند په ځینو کوچنیو بازارونو لکه نادعلي کې شوې دي او موخه یې دا وه چې هغه معلومات چې پخپله د کروندګرو له خوا وړاندې شوي وو، تایید او وڅېړي.

## ۱.۲ د څېړنیزو ساحو ټاکل


څېړنیزې ساحې د ځینو ځانګړتیاوو پر بنسټ غوره شوې وې. د هلمند د خوړو زون پوله د ځانګړي اهمیت وړ موضوع وه او همدارنګه پر دې ډاډمنېدل وو چې د وګړو هغه بېلابېلې ډلې چې په دې پوله کې اوسي تر پوښښ لاندې راوستل شي، په ځانګړي ډول هغه مهال چې پولې د پراخېدو په حال کې وې (۱ شکل وګورئ).

په هماغه لومړیو کې دا موضوع روښانه وه چې د هلمند په خوړو زون کې دننه وګړي له مشابه ټولنیزې - اقتصادي ډلې سره تړاو نه لري او همدارنګه د خړوبولو اوبو، ځمکې، کرنیزو او کارګري بازارونو او همدارنګه زېربناوو لکه سړکونو ته متفاوت لاسرسی او د کوکنارو د کرکیلې په تړاو متفاوتې مخینې لري. د بیلګې په ډول، د هلمند د خوړو زون په دننه کې ځینې سیمې لکه بولان له پېړیو راهیسې ابادې دي، دغه سیمه د ټول کال په اوږدو کې د ځمکو د خړوبولو لپاره اوبه لري. دا سیمه د ولایت مرکز لښکرګاه ته نږدې موقعیت لري چې ورسره نورو ښېګڼو لکه تنخواه، حق الزحمه، فعالو کرنیزو بازارونو او همدارنګه دولتي خدماتو لکه پوهنې، روغتیا او پراختیایې مرستو ته لاسرسی یې اسان دی. نورې سیمې، لکه لوی باغ، دشت عینک، او دشت شرشرک پخوا شاړې دښتې وې، دا للمې ځمکې دي چې د کرکیلې لپاره کمزورې ځمکې لري او د خړوبولو لپاره پر ژورو څاګانو بسنه کوي، یا ښه ده چې ووایو په واټر پمپونو د ځمکې لاندې اوبه را باسي او کروندې پرې خړوبوي. په اوړي کې په دې سیمو کې کمې ځمکې تر کرکیلې لاندې وي او د وروستیو مهاجرینو په څېر، هلته مېشت خلک د متنفذو قومي مشرانو او دولتي چارواکو له ملاتړه برخمن نه دي.


د څېړنیزې ساحې د ټاکلو لپاره بل معیار د هلمند د خوړو زون له لوري د اقدام «مرستې» د کولو ماهیت و. که موږ فرض کړو چې له دې امله د وګړو یوه برخه د هلمند د خوړو زون په دننه کې واقع ده نو دوی له بېلابېلو مرستو لکه: کرنیزو توکو، د کښتونو له لمنځه وړل او د مخدره توکو پر وړاندې له معلوماتو څخه برخمن دي، دا به غلطه وي. د بیلګې په ډول، په داسې حال کې چې په ټوله کې د هلمند خلک د مخدره توکو پر وړاندې د افغان دولت او د هغه د متحدینو له موقف څخه خبر وو، خو د کښتونو د له منځه وړلو ګواښ له یوې سیمې څخه د بلې سیمې په پرتله توپیر درلود، یعنې په داسې حال کې چې د هلمند په خوړو زون کې دننه په ځینو څېړنیزو ساحو کې هرکال کښتونه اړول کېدل مګر په نورو ساحو کې دا کار ببېخي شوی نه و. د هلمند د خوړو زون پروګرام په بهیر کې د وخت په تېرېدو سره د کښتونو د له منځه وړلو ګواښ زیات شو، ځکه د افغان او نړیوالو پوځي ځواکونو شتون زیات شو او د پروګرام پولې پراخې شوې.

له بلې خوا مرسته شویو کرنیزو توکو ته لاسرسی تر ډېره د ملاتړي سیستم تر نفوذ لاندې و او ډېر وسایل به د ټولنې د شتمنو کسانو لاسونو ته لوېدل. هغوی چې ځمکې او ځواکمن خپلوان او ملګري نه درلودل معمولاً به د هلمند د خوړو زون له لارې د مستقیمو پراختیایې مرستو له ترلاسه کولو څخه بې برخې وو. ددې لپاره چې د کوکنارو د لمنځه وړلو او همدارنګه د کرنیزو توکو د وېش په برخه کې دغه بدلونونه په ډاګه شي، دواړه اقدمات د نقشې په بڼه انځور شوي (۲ او ۳ شکلونه وګورئ) او داسې څېړنیزې ساحې غوره شوې دي چې د وخت په تېرېدو سره وګړو ته د دغو مختلفو اقداماتو د جوړښت تجربه وړاندې شي، په دوی کې داسې کسان شامل دي چې هیڅکله یې د کرنیزو توکو مرستې نه دي ترلاسه کړې او د هلمند د خوړو زون پر مهال هیڅکله د دوی کښتونه اړول شوي نه دي، لکه مالګیر، دشت اب پاشک، شین غزی او د سرې کلا سیمې.


دا حقیقت درک شو چې د څېړنې له دوام او د هلمند د خوړو زون له پراخېدو سره، په لومړي سر کې د هلمند د خوړو له زون څخه بهر، په ښه شویو ۱۱ څېړنیزو ساحو پوښښ بسنه نه کوله. هر څومره چې د څېړنیزو ساحو شمېر کم و په هماغه اندازه یوازې په دې اړه معلومات وړاندې کېدل چې ځینو خلکو د هلمند د خوړو زون او د کوکنارو پر کرکیلې د غځېدونکي بندیز په مقابل کې څنګه مخالفت ښکاره کاوه، دوی د بغرا ویالې شمال ته پرتو پخوانیو للمي سیمو ته وخوځېدل. په پایله کې، په ۲۰۱۰ میلادي کال کې ۱۲ او په ۲۰۱۱ میلادي کال کې پنځه نورې څېړنیزې ساحې اضافه شوې چې د هلمند د خوړو زون د اغېزو له ژوري شنني سره مرسته وکړي، په پخوانیو للمي ځمکو کې د مېشتېدو د بهیر په اړه غوره څېړنه وشي او همدارنګه د هغې ونډې په هکله څېړنه وشي چې د هلمند د خوړو زون د دې ځمکو د غصب په برخه کې درلوده او د کوکنارو پر کرکیلې د هغې د ټولیزو اغېزو په تړاو معلومات ترلاسه شي.




۱ شکل: په مرکزي هلمند کې څېړنیزې ساحې




۲ شکل: په مرکزي هلمند کې د کوکنارو لمنځه وړل، ۲۰۰۲ - ۲۰۱۳میلادي کلونه




۳ شکل: په مرکزي هلمند کې د اصلاح شویو
غنمو چمتو کول «وبش» ۲۰۰۹میلادي کال

## ۲.۲ ساحوي کار

ساحوي کار د يو داسې سيمه ييز ټيم له خوا وشو چې د هلمند د مرکزي سيمو په اړه يې هر اړخيز او پراخ معلومات درلودل او تر يوې لسيزې ډېر يې له سر ځېړونکي او ليکوال سره له نږدې کار کړی دی. له دې امله چې د يو ناقانونه او پټ فعاليت په اړه له ځېړنې سره له ترليو ستونزو سره د مخامخ کېدو مخنيوی وشي، دې ځېړنې د کورنيو د معيشيت پر تګلارو تمرکز وکړ. پر افغان دولت د مخدره توکو د کرکيلې او سوداګرۍ پر وړاندې د اقداماتو د کولو فشارونو، د مخدره توکو د موضوع په اړه د ۱۹۹۰ او د ۲۰۰۰ ميلادي کلونو د لومړيو وختونو په پرتله له کروندګرو او نورو ښکېلو کسانو سره بحث پر يوې حساسې موضوع بدل کړ. خو سره له دې، اوس هم کليوالي کورنۍ د کوکنارو د ملي اقتصاد د ځېړنې په برخه کې د تر ټولو زيات د لاسرسي وړ واحد په توګه پر خپل ځای دي، ځکه دا هم د کليوالي معيشيت په اړه د نورو کارونو د موندنو د مقايسې په برخه کې او هم په افغانستان او د نړۍ په نورو برخو کې، په ځانګړي ډول د کوکنارو د توليد په اړه د نورو ځېړنو لپاره يو بنسټ چمتو کوي.

نارينه ځواب ويونکي په ساحو کې ټاکل شوي وو. ددې لپاره چې په ځېړنيزو ساحو کې ټولنيزه او اقتصادي تنوع او همدارنګه هغه بېلابېلې تجربې چې کورنۍ يې د هلمند د خوړو زون په اړه لري تر پوښښ لاندې راوستل شي، سيمه ييز ځېړونکو هڅه کړې چې د ځمکې د خاوندانو له بېلابېلو ډلو سره د ځېړنو په ساحو کې مرکې وکړي: (الف) بې ځمکې کسان هغوی چې ځمکې نه درلودې او يا يې د خپلو کورنيو د اړتياوو په تناسب کمې ځمکې درلودې، نو له همدې امله اړ وو چې د مزدورکار او يا هم د شريک کروندګر په توګه د نورو کسانو پر ځمکه کار وکړي (ب) د ځمکې خاوند کروندګر - هغوی چې د خپلو کورنيو اړتياوو د پوره کولو لپاره کافي ځمکې درلودې او (ج) د ځمکو خاوندان - هغوی چې د خپلو اړتياو په تناسب يې زياتې ځمکې درلودې او نور کسان يې په خپلو ځمکو کې د کار کولو لپاره د د مزدورکار او يا د شريک کروندګر په توګه په کار ګومارل.

له نارينه او ښځينه ځواب ورکوونکو سره بحثونو ددې پر ځای چې په يوه پراخه جغرافيايي سيمه کې پر پېښو او پديدو تمرکز وکړي، چې په اړه يې ځوابونه هم ډېر وخت اټکلي وي، تر ډېره يې د دوی او د دوی د کورنيو پر مستقيمو تجربو تمرکز درلود.۹ له نارينه وو سره انفرادي مرکې په کروندو کې وشوې، هلته دوی په خپلو کښتونو کې په کار بوخت وو، ځکه په کورنو کې مرکې ممکن اخلال شي او يا کېدای شي چې مرکه کېدونکی کس پکې د يوه لوري پلوي وکړي. له کروندګرو سره د ډلهييزو مرکو له کولو څخه ډډه وشوه، ځکه داسې مرکې تر ډېره د سيمې يا د سيمي د مشرانو له خوا تر اغيز لاندې راځي او همدارنګه د حساسو موضوعاتو لپاره نامناسب او د افغانستان په کليوالي سيمو، په ځانګړې توګه د هېواد په جنوبي سيمو کې د ځواب ويونکو او ځېړونکو امنيت ته جدي ګواښ پېښولای شي.

ښځينه مرکه کېدونکې د يوه داسې ټيم له لوري مشخص کېدې چې له يوه ښځينه او يوه نارينه خپلوان ځېړونکي څخه به تشکيل شوی و. له دې امله چې پخوانيو للمي، نا امنه او خورا ډېرو محافظکارو او دوديزو سيمو ته ان د يوې ښځينه ځېړونکې سفر له ننګونو ډک دی. د بغرا وياليې شمال ته په پرتو سيمو کې له ښځينه ځواب ويونکو سره هغه مهال مرکې وشوې چې دوی د مرکزي هلمند له کاناله په خړوبېدونکو سيمو کې خپلو اصلي کليو ته بېرته ستنې شوې وې. دغه ښځې به يا په فصلي توګه يعنې په اوړي کې هغه مهال چې د بغرا وياليې شمال ته پرتې للمې ځمکې تر ډېره بې کښته پرتې وې، بېرته را ستنې شوې وې او يا به هم په پخوانۍ للمې سيمه کې تر څو کلونو تېرولو وروسته بېرته خپلو مېنو ته را ستنې شوې وې. د ټيم نارينه غړو به د خپلې سيمې په جومات کې بحثونه کول او له دې لارې به يې هغه کورنۍ په نښه کولې چې بېرته به سيمې ته را ستنې شوې وې. دې ځېړونکي به د کورنۍ له نارينه څخه اجازه غوښته چې ايا د دوی د کورنۍ ښځينه غړې د د ځېړونکي له يوې ښځينه خپلوانې«د ټيم له ښځينه غړي» سره خبرې کولای شي؟ د اجازې تر اخيستلو وروسته به ښځينه ځېړونکې له دغو ښځو سره د دوی په کورونو کې تفصيلي مرکې کولې.

ساحوي کار به د کوکنارو د کرلو او يا هم د کوکنارو د راټولولو پر مهال ترسره شو چې ځواب ويونکي به د تېر فصل د کرنيزو او مالي پايلو په اړه ډېر پوهاوی درلود. په ځمکو کې چې کوکنار ښکاره کرل شوي وي، نو ځېړونکی بيا کولای شي چې د ځينو کروندګرو د ځوابونو رښتيا او دروغ معلوم کړي، همدارنګه که کروندګر د خپلو کرل شويو فصلونو او د کښتونو په تړاو د پوره رښتيا په ويلو کې زړه نا زړه وي، نو ځېړونکی يې د پوره رښتيا ويلو ته هڅولای او سملاسي ترې نورې پوښتنې کولای شي.

۹ د افغانستان لپاره د سوېډن کمېټه، «د نادعلي ولسوالۍ د دهقانۍ سيستمونه، هلمند ولايت،» د افغانستان کرنيزه سروې، ۱۵ راپور، پېښور، ۱۹۹۲: ۱ پاڼه.

## ۳.۲ د انځورونو ادغام «یوځای کول»

د څېړنيز ميتود بل اړين عنصر د لوړ کيفيت او له لرې څخه د اخيستل شويو انځورونو کارول دي. لکه وړاندې مو چې وويل چې د څېړنيزو ساحو د پېژندنې لپاره له جغرافيايي معلوماتو څخه کار واخيستل شو. خو له لرې څخه د اخيستل شويو انځورونو د کارولو لپاره يوازې ددې طريقې پر کارولو بسنه نه ده شوې. له لرې څخه اخيستل شوي انځورونه ددې لپاره هم کارېدلي دي چې له دې ډاډ ترلاسه شي چې ساحوي کارکوونکي په نښه شوې سيمې ته تللي او همدارنګه لومړني معلومات وپلټل شي. له سر څېړونکي سره د معلوماتو د شريکولو پر مهال به د هرې څېړنيزې ساحې او د هغې د شاوخوا چاپېريال په اړه خبرې اترې کېدې چې په دې برخه کې هم له نقشو او هم له تاريخي انځورونو څخه کار اخيستل کېده چې د وخت په تېرېدو سره رامنځته شوي بدلونونه په ګوته شي. داسې انځورونو به د سيمه ييزو پديدو په اړه له مفصلو خبرو اترو سره مرسته کوله؛ د بيلګې په ډول پر کرکيلې د امنيت اغيز، د کرکيلې لاندې سيمو پېژندنه، د ښورو (مالګينو) ځمکو او همدارنګه نويو او په فزيکې توګه د زيانمنو شويو زېربناوو د اندازې معلومول. انځورونو همدارنګه دا زمينه چمتو کړه چې د دغه ډول ډېرو پديدو اندازه ملعومه شي.

بالاخره، د جغرافيايي معلوماتو شننه له ځانګړو څېړنيزو ساحو ور هاخوا په يوه پراخه جغرافيايي ساحه کې د څېړنې د موندنو له پراخولو سره مرسته کوله. د بيلګې په ډول، کله چې به په سيمه کې په يو شمېر څېړنيزو ساحو کې ځانګړې پديدې وپېژندل شوې، د انځورونو په کارولو سره ددې امکان و چې په ټولو څېړنيزو ساحو او په لويه ساحه کې ددې پديدې د عاموالي اندازه وڅېړل شي. ددې يوه بيلګه به د لمريزې برېښنا پر مټ د چلېدونکو ژورو څاګانو نقشې وي. دا چې دغه ډول څاګانې د اوبو د ورسره نږدې ذخيرې او د لمريزو هيندارو (سولرونو) د ځانګړو نښو په واسطه ځانګړې کيدلي، له دې سره دا اسانه شوه چې دغه پديده په اسانۍ سره د سپوږمکۍ د لوړ کيفيته انځورونو په واسطه وپېژندل شي او په شاوخوا ۱,۰۰۰ کيلومتر مربع ساحه کې د هغې د پراخوالې اندازه وڅېړل شي.

## ۴.۲ له پاليسي جوړونکو او ښکېلو کسانو سره مرکې

د څېړنې يوه بله برخه له هغو کسانو سره مرکې وې چې په هلمند کې د پاليسي او عملياتي پرېکړو په برخه کې ښکېل وو. ډېرو يې ډېر کلونه په افغانستان کې دندې ترسره کړې وې چې په دوی کې ځينو يې بيا په بېلابېلو برخو کې دندې ترسره کړې وې. په دې ډله کې له هغو پاليسي جوړونکو سره مرکې شاملې دي چې د افغانستان، امريکا، او برېتانيا په حکومتونو کې يې دندې درلودې او همدارنګه په نړيوالو سازمانونو لکه ملګرو ملتونو کې يې دندې ترسره کړې وې. دا څېړنه د سرڅېړونکي له خوا په افغانستان کې د مخدره توکو د پاليسي په اړه د نوموړي د دوامداره څېړنو يوه برخه ده. مرکه کوونکي د نوم د نه ښوولو په شرط مرکو ته حاضر شول او مرکې د پاليسي پر بهيرونو تمرکز درلود: يعنې پرېکړې څنګه کېږي؟ پرېکړې څوک کوي؟ او همدارنګه د هغو انګېزو په اړه د دوی آندونه چې د داسې پرېکړو د ملاتړ سبب کېږي.

د دغو مرکو پايلې د هلمند د خوړو زون او په افغانستان کې د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې د پاليسي په اړه له ځينو شته مطالبو سره هم پرتله شوې. د شته مطالبو له ډلې ځينې يې پخواني او ناچاپ دي، خو د پاليسي جوړونې او د هغو کسانو د آندونو په اړه چې د پاليسي جوړونې په بهير کې ښکېل وو اړين معلومات وړاندې کوي. د دولت له خوا چمتو شوي مطالب هم د ځينو مقايسو لپاره ګټور مواد وړاندې کوي، دغسې مواد رسمي دريځ څرګندوي او بله دا چې هغه روايت وړاندې کوي چې هغه مهال پاليسي جوړونکو د هلمند د خوړو د زون څنګه انځور وړاندې کوي.

## ۳. د هلمند د خوړو زون: د پروګرام ریښې او بنیادونه

د هلمند د خوړو زون د حالاتو او شرایطو تولید و؛ اصلي لاملونه يې دا وو چې د برېتانيا حکومت د خپلو امریکایي سیالانو له خوا تر سخت فشار لاندې و، همدارنګه د برېتانيا د حکومت د جګړې چارواکو له خوا هم فشار و، ځکه د‌غه مهال په هلمند ولايت کې د کوکنارو کرکیله په بېساري ډول زیاته شوه. په هلمند کې د ولایتي بیارغونې د ټیم او له نشه يي توکو سره د اتو سترو صنعتي هېوادونو د مبارزې مشري برتانیوي پوځیانو کوله. هغه مهال د کوکنارو په کرکیله کې زیاتوالی د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې په برخه او همدارنګه د یوه اړین ولایت د باثباته کولو په برخه کې، د برېتانيا د حکومت د ناکامۍ نښه وګڼل شوه. د افغانستان د بیارغونې هڅو او همدارنګه د طالبانو د بیا را پورته کېدو شالید ته په کتو سره، برتانیه اړ شوه چې په دې برخه کې اقدام وکړي.

په ۲۰۰۲ میلادي کال کې د برتانیا د دفاع وزارت (MoD)، د بهرنیو چارود ګډو کتووزارت (FCO) او د برېتانيا نړیوالې پراختیایي ادارې (DFID) ځانونه د هلمند په څېر ولایت کې چې په افغانستان کې د کوکنارو د تولید یو اړین ولایت ګڼل کېده، ښکېل ولیدل. په داسې حال کې چې معمولاً د افغانستان د ټولو کوکنارو ۵۰ سلنه په هلمند ولايت کې کرل کېدل. برتانیا په دغه ولایت کې د ولایتي بیارغونې د ټیم مشري کوله او د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې په برخه کې يې د یوه مخکښ هېواد په توګه شهرت درلود، همدا د دې لامل شول چې د برتانیا حکومت اړ شي چې د کوکنارو د تولید پر وړاندې یو یرغلیز دریځ غوره کړي. له یوې خوا برتانیوي سرتېري د کوکنارو کروندو محاصره کړي وو، له بلې خوا د امریکا حکومت په دغه ولایت کې د مخدره توکو پر وړاندې مبارزه پڅه او کمزورې بلله. د برتانیا مختلف وزارتونه او ادارې تر فشار لاندې وې، د کوکنارو کرکیله کال په کال زیاتېده، دغه ادارې اړې وې چې په دې تړاو په اقدام لاس پورې کړي.

برتانیا له وړاندې د دې لپاره پلان نه درلود او نه يې هم پر دغه اقدام پخپله لاس پورې کړی و. د برتانیا دفاع وزارت د ۲۰۰۲ میلادي کال له پیل څخه، هغه مهال چې برتانیا د مخدره توکو پر وړاندې د هڅو مسوولیت پر غاړه واخیست، شکونه درلودل.[10] په حقیقت کې، د برتانیا حکومت د یو لوړ پوړي چارواکي په وینا «پوځ نه غوښتل چې د مخدره توکو پر وړاندې په مبارزه کې برخه واخلي.»[11] خو په ۲۰۰۸ میلادي کال کې، د برتانیا پوځ د عراق له بصرې څخه تر شاتګ وروسته[12] او همدارنګه د هلمند په موسی کلا کې د سولې د یوې ناکامې معاملې په پایله کې تر فشار لاندې و. په ځانګړې توګه دغه وروستی مورد د امریکا د دفاع وزات منفي غبرګون را وپاروه، په تېره بیا هغه مهال چې د سولې معامله له منځه ولاړه او د ۲۰۰۷ میلادي کال په فبرورۍ کې طالبانو د هلمند شمالي ولسوالۍ تر خپلې ولکې لاندې راوستې.[13] د نورو وروستیو بدلونونو په څېر، په هلمند کې د برتانیا پوځي مشرانو ډېر ځله د خپلو پوځي ماموریتونو پر مهال د کوکنارو د کرکیلې له ختمولو سره زیاته لېوالتیا درلوده.[14]

د برتانیا د بهرنیو چارو وزارت او د افغانستان د مخدره توکو لپاره د دغه وزارت بین الاداري واحد (ADIDU) چې په افغانستان کې د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې مشري يې کوله (وروسته بیا د دې مبارزې له همکارانو یو و)، د امنیتي سکتور د اصلاحاتو (SSR) د بهیر پر اساس، له ۲۰۰۴ میلادي کال راهیسې په پرلپسې ډول د امریکا د بهرنیو چارو وزارت د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې او قانون د تنفیذ د نړیوال ریاست له خوا په افغانستان کې د هوا له لارې د کوکنارو پر کښتونو د دوا د پاشلو پر وړاندې مقاومت کاوه. دا چې د برتانیا د سترګو پر وړاندې په هلمند کې د کوکنارو د کرکیلې په کچه کې د زیاتوالي له امله د دې کار پر وړاندې په سیاسي ډول مقاومت سخت ښکارېده، په تېره بیا په ۲۰۰۷ میلادي کال کې چې د کوکنارو کرکیله د افغانستان په ختیځ ننګرهار ولایت کې را ټیټه شوې وه – ننګرهار هم د کوکنارو یو لوی تولیدوونکی ولایت دی - هلته امریکایي پوځي او ملکي چارواکو پر دې کارونو تمرکز درلود. په هلمند کې (ADIDU) او په کابل او لښکرګاه کې د هغې ټیمونو ددې اړتیا احساسوله چې یو قانع کوونکی دلیل وړاندې کړي، دې ته په کتو سره چې د فشار وسیلې باید لږ تر لږه د دوی تر ولکې لاندې وای.

۱۰ شخصي مراسله، د برتانیې د حکومت پخواني لوړ پوړي چارواکي# ۱، د ۲۰۱۲ کال اګست.

۱۱ تیو فاریل، ناګټونکي: په افغانستان کې د برتانیې جګړې ۲۰۱۱ – ۲۰۱۴، (پنګوین: لندن، ۲۰۱۷)، ۱۴۸مه پاڼه.

۱۲ شخصي مراسله، د برتانیې د حکومت پخواني لوړ پوړي چارواکي# ۱، د ۲۰۱۲ کال اګست

۱۳ تیو فاریل، ناګټونکي: په افغانستان کې د برتانیې جګړې ۲۰۱۱ – ۲۰۱۴، (پنګوین: لندن، ۲۰۱۷)، ۱۴۸مه پاڼه.

۱۴ لیکوال ددې شاهد دی چې یوه لوړ پوړي نظامي چارواکې د هوا له لارې د دوا د پاشلو ملاتړ کاوه سره له دې چې پدې اړه د برتانیې موقف ددې برعکس وو.

د برتانیا نړیوالې پراختیایي ادارې هم د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې په برخه کې له ښکېلتیا سره لېوالتیا نه درلوده. دې ادارې د اغلې د حکومت «برتانیا» له خوا د مخدره توکو د ولکې په برخه کې د پخوانیو هڅو په اړه اندېښنې درلودې؛ لکه په ۲۰۰۲ میلادي کال کې د کوکنارو د لمنځه وړلو په بدل کې د پیسو د ورکړې کمپاین. همدارنګه له دغې ادارې سره دا وېره هم وه چې دغه موخې د دې وزارت د دندو له قانوني کړنلارې سره مطابقت نه لري، دغه کړنلاره د ۲۰۰۲ میلادی کال د نړیوالې پراختیا قانون و، د دې کړنلارې پر اساس «پرمختیایې مرستې د بېوزلۍ له را کمولو سره مرسته کولای شي».[۱۵] د برتانیا نړیواله پراختیایي اداره همدارنګه په کور دننه هم له نیوکو سره مخ وه چې د مخدره توکو پر وړاندې د برتانیا له اصلي دندې ملاتړ نه کوي. دا اداره د امریکا د متحده ایالاتو له نړیوالې پراختیایي ادارې (USAID) سره پرتله کېده. سره له دې چې دغو دواړو ادارو له مخدره توکو سره مبارزې ته د شک په سترګه کتل، خو بیا دغه ادارې تر سخت فشار لاندې وې چې بدیل پراختیا د بدیل ستر پروګرامونه پلي کړي. د دغو سترو پروګرامونو په لړ کې هغو سیمو ته چې کوکنار پکې کرل کېدل زښتې زیاتې پیسې ځانګړې شوې چې جنوبي سیمې او هلمند هم پکې شامل وو.[۱۲]

پر دې سربېره د کوکنارو د کرکیلې کچې ته تر ډېره د یوه داسې شاخص«معیار» په سترګه کتل کېدل چې پر بنسټ یې ممکن د نړیوالو، ملي او ولایتي لوبغاړو د کړنو په اړه قضاوت وشي. د کوکنارو کمېدونکې کچې ته د بریالۍ مشرۍ او اقداماتو د نښې په سترګه کتل کېدل چې دا کار د ستاینې او مالي مکافات د جذب سبب شو. د هغو ولایتونو والیانو ته به «شاباسی» ویل کېده او اضافي پراختیایي مرستې به ورسره کېدې چې د کوکنارو کرکیله به پکې کمېده. له بل پلوه د کوکنارو په کښت کې زیاتوالی به له جرمونو او مخدره توکو سره د مبارزې د دفتر، د امریکا د حکومت، ولسمشر کرزي او په کابل کې د نورو سفیرانو غوسه را پاروله او سختې نیوکې به یې پرې کولې. د ولایتي بیارغونې د ټیم (PRT) مشران به پر دې هم مشهورېدل چې ژمنې به یې کولې:«زما په شتون کې به د کوکنارو کرکیله زیاته نشي» دغه مشران پر دې پوهېدل چې که د کوکنارو کرکیله زیاته شي، نو دوی به له سختو نیوکو سره مخ شي او په خپلو چارو کې به ناکام وبلل شي.[۱۷]

پر دې سربېره؛ څومره چې برتانیه په عراق کې د خپلو کړنو له امله تر نیوکو لاندې وه، تر هغه زیات په هلمند کې د خپلو کارونو او په افغانستان کې د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې په برخه کې تر نیوکو لاندې وه. د برتانیا په حکومت کې داسې ګنګوسې هم وې چې د برتانیا لومړی وزیر ټوني بلېر چې په افغانستان کې د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې په برخه کې د برتانیا د ژمنتیا او همدارنګه هلمند ولایت ته د برتانیوي پوځیانو د استولو په برخه کې یې اساسي ونډه لرله، په هلمند کې د کوکنارو د کرکیلې پر وړاندې د مبارزې په برخه کې د پرمختګونو لیدو ته ډېر لېوال وو. په ځانګړې توګه انګېرل کېده چې لومړی وزیر د ولسمشر جورج بوش له هغې طرحې سره همغږی دی چې پر بنسټ یې د هوا له لارې د کوکنارو پر کروندو باید زهري کیمیاوي مواد وپاشل شي. داسې اندېښنې هم وې چې په هلمند کې د کوکنارو د کرکیلې د کمښت په برخه کې د ناکامي په صورت کې به د برتانیا لومړی وزیر د امریکا د ولسمشر ملاتړ وکړي او د افغانستان پر حکومت به فشار راوړي چې د هوا له لارې د کوکنارو د کروندو د له منځه وړلو له طرحې سره هوکړه وکړي. په دې ډول، داسی شرایط مساعد شول چې د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې په برخه کې د برتانیا حکومت بېلابېلې ادارې خپلې هڅې نورې هم سره همغږې او په لا زیات شدت ترسره کړي؛ ځکه ویل کېدل چې د یوې ډېرې بدې پالیسي د مخنیوي لپاره غوره دا ده چې یوه لږه بده پالیسي وځارل شي.

۱۵ د نړیواله پراختیایي اداره، د برتانیې حکومت، ‹د نړیوال پراختیا قانون ۲۰۰۲›، ۱ برخه، ۱ پاراګراف.

۱۲ د برتانیې د نړیوالې پراختیایي ادارې له یوه پخوانی سلاکار سره مرکه، د ۲۰۱۲ کال اپریل.

۱۷ کابل او لښکرګاه ته د ځو سفرونو او همدارنګه له بېلابېلو لوړپوړو چارواکو سره د مباحثو په جریان کې د لیکوال شخصي تجربه.

## ۴. د هلمند خوړو زون: طرحه او ليکوالان

د هلمند د خوړو زون اصلي طرحه دوو بهرنيانو چمتو او وړاندې کړه. په دوی کې يوه يې د والي په دفتر کې د امريکا په مالي ملاتړ د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې د ټيم (CNAT) د يوه غړي په توګه کار کاوه. بل يې د ولايتي بيارغونې په ټيم (PRT) کې دنده درلوده. دواړه يې پخواني پوځيان وو، خو يوه هم د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې د کرنې په تړاو او همدارنګه په افغانستان کې يې هم وړاندې تر دې دندې نه وې ترسره کړې. دوی پر دې فشارونو پوهېدل چې په هلمند کې د کوکنارو په اړه بايد يو کار وشي او له دې څخه يې ګټه واخيسته. په داسې حال کې چې د هلمند د خوړو زون په اړه د پروژې وړانديز«په ننګرهار او لغمان کې د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې په برخه کې د کاميابو موډلونو د چمتو کېدو خبره کوله»[18] او پر دې شوننتيا يې بحث کاوه چې د ختيځو سيمو موډلونه په هلمند کې پلي شي، خو په عمل کې ددې کار د عملي کېدو لږ امکانات تر سترګو کېدل. په حقيقت کې هغه فرضيه ډېره ساده وه چې پر بنسټ يې د هلمند د خوړو زون رامنځته شوی و؛ د کافي ګواښونو او فشار په پايله کې به کروندګر اړ شي چې د غنمو په څېر د لږ عايد لرونکي کښت په بدل کې د کوکنارو کرکيله پرېږدي.

هغه «پروپوزل» چې دوو نړيوالو سلاکارانو چمتو کړی و، داسې پلان په پام کې درلود چې پر اساس به يې کروندګرو ته د کوکنارو پر کرکيله د يوه احتمالي بنديز په اړه د يوه معلوماتي کمپاين له لارې خبر ورکړل شي او دا کمپاين به د کوکنارو د کرلو تر موسم وړاندې پلي شي. تر دې وروسته به د غنمو اصلاح شوي تخمونه او کيمياوي سره کروندګرو ته د کوکنارو د يوه بديل او همدارنګه د کوکنارو له حاصل څخه د ترلاسه کېدونکي عايد په نشتوالي کې د خوړو د يوې وسيلې په توګه ورکړل شي. دې پلان همدارنګه له کروندګرو غوښتل چې د «د ښو کړنو يوه ژمنه» په نوم يو تړون لاسليک کړي. د دې تړون پر بنسټ به دوی د غنمو د اصلاح شويو تخمونو او کيمياوي سرې له ترلاسه کولو وړاندې کوکنار نه کري.[19] د پلان پر اساس به بالاخره په پسرلي کې د کوکنارو د لمنځه وړلو يو کمپاين پلي شي، په دغه کمپاين کې به د هر هغه سرغړونکي کروندګر کښت لمنځه ويوړل شي چې د چارواکو خبرداريو ته يې غوږ نه وي نيولی او د کوکنارو کرکيله يې پرېښې نه وي.

دا د «بديل کښت» يو کلاسيکه بيلګه وه، له مخدره توکو سره د مبارزې دغه ډول طرحه تر ډېره ځينو سازمانونو پرېښې وه؛ لکه د جرمونو او مخدره توکو پر وړاندې د ملګرو ملتونو د مبارزې دفتر په ۱۹۸۰ميلادي کلونو کې دغسې طرحې پرېښې وې. ويل کېږي چې په دغسې طرحه کې په پوره سادګۍ د يو کښت پر بل تعويضولو ته د بېځايه تمرکز په سترګه کتل کېږي. په دغسې پروګرام کې فزيکي زېربنا، د بازار موندنې په برخه کې مرستې او هغه ټولنيز بدلون ته چې د مخدره توکو له کرکيلې څخه د کروندګرو له مخ اړولو سره مرسته کوي، پام نه وي شوی. له همدې امله په ۱۹۹۰ميلادي کلونو کې د کښتونو د بديل يوه جامع کليوالي پراختيايي پروګرام، چې د پراختيايي بديل په نامه يادېده، د دې پروګرام ځای ونيو.

د هلمند د خوړو زون طرحې د بديل کښت د موډل هغه نيمګړتياوې چې پر غنمو يې تمرکز درلود نورې هم څو برابره کړې. په داسې حال کې چې د بديل کښت پروګرامونو هڅه کوله چې د مخدره توکو کښتونه له لوړ ارزښت لرونکو کرنيزو کښتونو سره عوض کړي، د هلمند د خوړو زون پر کروندګرو فشار راووړ چې کوکنار د خوړو له يوه کښت لکه غنمو سره عوض کړي. ستونزه دا وه چې غنم په ابتدايي توګه د خوراکي لګښتونو لپاره نه کرل کېدل، بلکې د هغو د کرکيلې لپاره بېلابېلو توکو ته اړتيا وه، په ځانګړي ډول ډېر زيار او خواري يې نه غوښتل. لکه په راتلونکې برخه کې به چې بيان شي، دا په تېره بيا د هلمند د خوړو زون د اوږدمهاله اغېزو او د کوکنارو د کرکيلې نمونو په برخه کې اغېزناک ثابت شو.

د هلمند د خوړو زون د پلان مسوده د دوو لنډمهاله سلاکارانو له خوا په انګليسي ژبه چمتو شوې وه. په دغه مسوده کې په تېر کې د هلمند د کليوالي معيشيت په برخه کې تجربو ته پام نه و شوی. دا پلان وروسته بيا دري ژبې ته ترجمه او د والي دفتر ته د بياکتنې لپاره وسپارل شو. دا پلان د والي د دفتر له خوا، پرته له دې چې کوم بدلون پکې راشي، د «والي د پلان» تر عنوان لاندې خپور شو.[20] سره له دې چې دغه وړانديز ډېرې نيمګرتياوې درلودې خو د والي ملاتړ ته په کتو سره د هغه پر وړاندې غږ اوچتول او مقاومت ګران ښکارېده.

په هلمند کې د برتانيوي پوځ او د ولايتي بيارغونې ټيم په تېره بيا د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې په برخه کې نوښتونو ته د «افغاني څېرې» ورکولو ته لېواله وو. نوي ګومارل شوي والي «ګلاب منګل» دوی ته دا فرصت چمتو کړ.[21]

۱۸ د هلمند د والي دفتر، «د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې په برخه کې لنډمهاله ولايتي تګلاره،» د پروژې ناچاپ شوی سند، د ۲۰۰۸ کال د جولای ۲مه، ۴مه پاڼه.

۱۹ د هلمند د والي دفتر، «د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې په برخه کې لنډمهاله ولايتي تګلاره،» د پروژې ناچاپ شوی سند، د ۲۰۰۸ کال د جولای ۲مه، ۱۵مه پاڼه.

۲۰ شخصي مراسله، د برتانيې د حکومت پخوانی لوړ پوړی چارواکی# ۴۲، د ۲۰۱۲ کال اګست.

۲۱ شخصي مراسله، د برتانيې د حکومت پخوانی لوړ پوړی چارواکی# ۲، د ۲۰۱۲ کال جولای.

والي ګلاب منګل لېوال و چې د ځان په اړه يو سملاسي اغيز پرېږدي.[22] نوموړی پر تکړه مدير مشهور و.[23] نوی والي چې تر «ليسانس» پورې يې لوړې زده‌کړې کړې وې، د افغانستان د خلق ډموکراټيک ګوند پخوانی غړی و او د افغانستان په اردو کې يې د ډګروال په توګه دنده ترسره کړې وه. نوموړی په پکتيا (۲۰۰۴ - ۲۰۰۷) او همدارنګه لغمان کې (۲۰۰۷ - ۲۰۰۸) د خپل ولايت پر مهال د يوه اغېزمن رهبر په توګه اعتبار پيدا کړی و. امريکا پر دې اند وه چې نوموړی په «يو خطرناک رول کې يو تکړه والي» دی.[24] امريکايي جنرال بارنو چې په افغانستان کې د ايتلافي ځواکونو پخوانی قوماندان و، د ګلاب منګل په اړه پر دې باور و: «که تر ټولو اغېزمن يې و نه بولم، نو ګلاب منګل په افغانستان کې له ډېرو اغېزمنو واليانو څخه خامخا يو دی.»[25] د نوموړي همکار امريکايي جنرال لارنس نيکولسن د خولې خبره ده چې ويلي يې دي: «دا کس د طالبانو پر وړاندې زما تر ټولو اغېزمنه وسله ده.»[26]

برتانيا هم تر ډېره په هلمند کې د نوموړي د ولايت پر مهال هغه ته د قدر په سترګه کتل او د امريکا تر څنګ يې ډېر ځله له ولسمشر کرزي څخه په کلکه غوښتنه وکړه چې هغه پر خپل منصب کې پاتې شي.[27] والي په نړيواله ټولنه کې دومره مشهور و چې د برتانيا د پخواني سفير شيرارډ کوپرکولز په وينا نوموړي «د هلمند عملياتي ځواکونو د پرلپسې قوماندانانو او ولايتي بيارغونې د ډلو د مشرانو پر وړاندې او په افغاني او برتانيوي رسنيو کې د جادويي شخصيت حيثيت درلود.»[28]

پخپله والي هم لېوال و چې په چارو کې ښکېل شي، ځکه هغه پر دې اړتيا پوهېده چې په ولايت کې د ملکي او پوځي لورو زړونه بايد لاس ته راوړي او دا حقيقت يې درک کاوه چې له نوموړي څخه مخکې والي شېرمحمد اخندزاده له هغه وروسته د برتانيويانو پر سپارښتنه لرې شو چې له کوره يې نهه (۹) ټنه کوکنار را ووتل. هلمند ته د ځواکونو د لېږلو يو شرط له ولايته د اخندزاده لرې کول وو.[29] د برتانيا يو پخوانی لوړپوړی چارواکی وايي چې د هلمند والي د هلمند د خوړو زون د ملاتړ لپاره ځينې دلايل درلودل. لومړی دا چې والي پر دې پوهېده چې له کوکنارو څخه ترلاسه شوې پيسې په هلمند کې د نوموړي د رقيبانو جېبونو ته لوېږي، په ځانګړې ډول هغوی چې له پخوانۍ ادارې سره يې کار کاوه. دوهم دا چې والي ته پته وه چې د ولسمشر کرزي په سترګو کې يې موقف کمزوری و. دا ټولو ته ښکاره وه چې ولسمشر کرزی د شېر محمد اخندزاده د بيا والي کېدو پلوی وو[30] او د نوموړي د لرې کېدو او له هغه وروسته د هلمند د امنيت د خرابېدو پړه يې پر برتانيا وراچوله. د مخدره توکو په برخه کې د ښو کړنو له امله والي ګلاب منګل وړاندوينه کوله چې نوموړی به د دوو سترو مرسته کوونکو يعنې د امريکا متحده ايالاتو او برتانيا له ملاتړه برخمن شي او که ولسمشر کرزی د نوموړي د لرې کولو هڅه وکړي نو دغه ملاتړ کوونکي به يې مرستې ته را ودانګي.[31]

بالاخره والي وليدل چې د هلمند د خوړو زون نوموړي ته داسې لوژستيکي او مالي وسيلې په لاس ورکوي چې پر مټ يې کولای شي خپل ځان په ولايت کې د ننه او په لويه کې په سياسي توګه مطرح کړي. د ايتلافي ځواکونو له امکاناتو څخه ګټه اخيستنې والي ته د دې زمينه چمتو کړه چې د ولايت زياتو سيمو ته سفرونه وکړي او خپلو متحدينو او رقيبانو ته خپل زور او نفوذ وښيي. د هلمند د خوړو زون مالي امکاناتو نوموړي ته دا وسيله چمتو کړه چې هغه کسان چې د ده ملاتړ يې کاوه حمايه کړي–او که د فساد په اړه اوازې رښتيا وي[32]–خپل موقف نور هم ټينګ کړي. پر دې سربېره، د يوه داسې قدرت غوښتونکي کس په توګه چې پر يوه وزارتي منصب ته يې سترګې نيولې وې، د ننګرهار د والي ګل اغا شيرزي په څېر، نوموړی پر دې اند هم و چې د کوکنارو د کرکيلې د کمښت په برخه کې د ده کارونه به امريکا او برتانيه وهڅوي چې د افغانستان په کابينه کې د يوه وزارت د ورکولو په برخه کې يې ملاتړ وکړي. که والي ګلاب منګل نه وای، نو په هلمند کې د خوړو زون پروګرام به هيڅکله هم دومره دوام نه وای کړی. خو که د برتانيا پوځي او ملکي امکانات نه وای، نو دغه پروګرام به بېخي را پيل شوی لا نه و.

۲۲ ګارډين، «د متحده ايالاتو د سفارت مراسلات: متحدين د هلمند والي ستاينه کوي،» د ۲۰۰۸ کال د مې ۲۲مه، د ۲۰۱۰ کال د دسامبر په ۲مه نېټه خپور شو.

۲۳ ډيويډ رينالډز، «افغانستان: په هلمند کې د برتانيې جګړه: يو تاريخي روايت،» (د DRA مطبعه: پلايموت، ۲۰۱۲)، ۷۵مه پاڼه.

۲۴ ګارډين، «د متحده ايالاتو د سفارت مراسلات: کرزی هڅه کوي چې نامتو جنګسالار او مجرم وګوماري،» د ۲۰۰۹ کال جون، د ۲۰۱۰ کال د دسامبر په ۲مه نېټه خپور شو: ګارډين، «ګورډن براون له کرزي غواړي چې د هلمند والي لرې نه کړي،» د ۲۰۰۸ کال د ۲۲ اګسټ ۲۲مه نيټه، د ۲۰۱۰ کال د ډسمبر پر ۲مه نېه خپور شو.

۲۵ وال سټريټ ژورنال، «د کابينې په چارواکو کې د امريکا يو متحد له دندې ګوښه شو» د ۲۰۱۲ کال د سپټمبر ۲۰مه نېټه.

۲۶ چندراسيکاران، ر.، وړوکې امريکا د افغانستان لپاره په جګړه کې دننه جګړه، (نيويارک، ۲۰۱۲)، ۷۹مه پاڼه.

۲۷ کارټر مالکيسيان، جګړه ګرمسېر ته راځي: د افغانستان پر پوله د جګړې دېرش کاله، (د اکسفورډ پوهنتون مطبعه، ۲۰۱۳)، ۱۲۸مه پاڼه.

۲۸ کاپر-کولز،س. له کابل څخه مراسلې: په افغانستان کې د لوېديځ د مبارزې داخلي داستان (لندن: د هارپر مطبعه، ۲۰۱۱)، ۱۲۲مه پاڼه.

۲۹ تيو فاريل، نه ګټل کېدونکې جګړه: په افغانستان کې د برتانيې جګړې ۲۰۰۱ – ۲۰۱۴، (پنګوين: لندن، ۲۰۱۷)، ۱۲۷مه پاڼه.

۳۰ ګارډين، «د متحده ايالاتو د سفارت مراسلات: کرزی هڅه کوي چې نامتو جنګسالار او مجرم، والي وګوماري،» د ۲۰۰۹ کال د جون ۲۷مه، د ۲۰۱۰ کال د دسامبر په ۲مه نېټه خپور شو.

۳۱ شخصي مراسله، د برتانيې د حکومت پخوانی لوړ پوړی چارواکی # ۲، د ۲۰۱۲ کال جولای: مايک مارټين، يوه دوستانه جګړه: د هلمند د شخړې يو شفاهي تاريخ (هرسټ: لندن، ۲۰۱۴)، ۲۱۸ پاڼه.

۳۲ شخصي مراسله، د برتانيې د حکومت د ولايتي بيارغوني ټيم (PRT) پخوانی لوړ پوړی چارواکی # ۴۲، د ۲۰۱۲ کال اګسټ: شخصي مراسله، د برتانيې د نړيوالې پراختيا اداره (DFID) پخوانی چارواکی # ۵، د ۲۰۱۲ کال اګسټ: مايک مارټين، يوه دوستانه جګړه: د هلمند د شخړې يو شفاهي تاريخ (هرسټ: لندن، ۲۰۱۴)، ۲۱۲ - ۲۱۳ پاڼې.

## ۵. د هلمند خوړو زون: برخې، پلي کېدل او ښکېلې خواوې

د هلمند د خوړو زون په پلي کېدو کې د برتانيا، د امريکا متحده ايالاتو او افغان حکومت ډېرې خواوې ښکېلې وې. په دغو حکومتونو کې په دې اړه چې په ريښتيني ډګر کې کارونه څه ډول وشي بېلابېل اندونې شتون درلود. د دوی پر وړاندې موخه بايد نسبتاً واضح وای او هغه دا چې د کوکنارو کرکيله بايد په ډراماتيکه توګه کمه شي. دا چې دغه کار بايد څه ډول وشي او په ځانګړې توګه څنګه بايد د کوکنارو د کرکيلې د را کمولو د بهير، سيمه ييز امنيت او د کروندګرو د اقتصادي هوساينې ترمنځ توازن رامنځته شي تر ډېره ناڅرګند و. په دې اړه د ملکي او پوځي ادارو او همدارنګه د وخت په تېرېدو سره د ښکېلو حکومتونو په آندونو کې د پام وړ توپير راغی. د بېلابېلو پاليسيو په څېر، نهايي پايله د خبرو اترو، جوړجاړي او ځينې وخت تر وروستي حده پورې د مذاکراتو رسول وو.

که څه هم ويل کېدل چې دا د افغانانو په مشرۍ يو بهير دی او د هلمند د خوړو زون پروګرام د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې لپاره د والي پروګرام دی؛ خو د وخت په تېرېدو سره د هلمند د خوړو زون پروګرام بڼه بدله شوه. د برتانيا له خوا ترسره شويو پرلپسې بياکتنو برتانيوي چارواکي دې پايلې ته ورسول چې د هلمند د خوړو زون تر ډېره له حکومتولي او د ثبات له هڅو سره مرسته کوي او د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې په برخه کې يې اغېز د پام وړ نه دی.[33] د هلمند په مرکزي او شمالي سيمو کې د نړيوالو پوځي ځواکونو د شمېر او شتون له زياتېدو سره، د هلمند د خوړو زون پولې پراخې شوې. له دې سره د نورو ولسواليو چارواکو ته هم دنده ورکړل شوه چې د ولايتي بيارغونې ټيم د ثبات او حکومتولي د پروګرامونو د يوې برخې په توګه په لرې پرتو ولسواليو کې زيات شمېر کروندګرو ته کرنيز توکي ورسوي (**۴ شکل وګورئ**). د هلمند د خوړو زون د يوه داسې ميکانزمي بڼه غوره کړه چې پر مټ يې د افغان حکومت داسې انځور وړاندې شي چې د خپلو خلکو پر وړاندې خپلې دندې ترسره کوي؛ يوازېنۍ ستونزه دا وه چې هغه مهال حکومت له خپلو خلکو غوښتل چې د کوکنارو کرکيله پرېږدي که داسې و نه کړي نو بيا دې کوکنارو د کروندو د له منځه وړلو ګواښ ته غاړه کېږدي، له همدې امله دا کار افغان چارواکو ته ډېر زيات ګران تمامېده او په عين حال کې نورې ستونزې هم ورسره تړلې وې.

### ۱.۵ يوازې خبرې؟ د معلوماتي کمپاين عمليات

د هلمند د خوړو زون لومړی کليدي عنصر معلوماتي کمپاين «تبليغاتی جګړه» وه. د دې موخه د کروندګرو هڅول وو چې په لومړي سر کې د کوکنارو له کرکيلې ډډه وکړي. والي ګلاب منګل د دې هڅې يو کلک ملاتړی و او د يوه فرصت غوندې يې ترې ګټه واخيسته، تر دې وړاندې چې د کوکنارو د کرکيلې فصل پيل شي، د ولايت بېلابېلو برخو ته يې په اوړي او منې کې سفرونه وکړل. دغو سفرونو خلکو ته د افغان حکومت د شتون پيغام ورکاوه او دا پيغام يې درلود چې افغان حکومت کولای شي د کوکنارو د پرېښودلو په بدل کې له خلکو او سيمې سره پراختيايي مرستې وکړي.


معلوماتي کمپاين له څو متفاوتو برخو څخه جوړ شوی و. تر ټولو د پام وړ يې په لښکرګاه او د ولسواليو په مرکزونو کې لويې غونډې يا شوراګانې وې چې معمولاً به پکې والي ګلاب منګل د غونډې اصلي ويناوال و.[34] دغو غونډو ته به مشران رابلل کېدل او له کوکنارو سره د تړلو ټولنيزو زيانونو او د کرکيلې په صورت کې د کوکنارو د لمنځه وړلو د ګواښ په اړه به يې ورته ويل. دوی به يې هڅول چې د خپلو ولسواليو مرکزونو او کليو ته تر ورتلو وروسته سملاسي دغه پيغامونه سيمه ييزو مشرانو او کروندګرو ته ورسوي.

د لښکرګاه په اصلي شورا کې به تر **۵۰۰** مېلمانه را بلل کېدل او داسې غونډې د کوکنارو د کرکيلې تر فصل وړاندې؛ معمولاً په جولای مياشت کې ترسره کېدې. تر دې غونډې وروسته به يوه بله غونډه د کوکنارو د لمنځه وړلو تر کمپاين وړاندې د هر کال په جنوري مياشت کې جوړېده. په هلمند کې د امنيتي وضعيت له ښه کېدو سره او تر دې وروسته چې په ډېرو ولسواليو کې د هلمند خوړو زون پروګرام عملي شو، والي د شوراګانو په غونډو کې د ګډون لپاره لرې پرتو سيمو ته سفرونه وکړل؛ خو بايد ووايو چې ډېر ځله به د برتانيا پوځ د هلمند والي ګلاب منګل ته د ترانسپورټ زمينه چمتو کوله.

د معلوماتي کمپاين بله برخه د پوسټرونو، معلوماتي پاڼو او نورو چاپي رسنيو له لارې د ورته پيغامونو رسول و چې دا کار په لويه کې د ډله‌ييزو رسنيو د معلوماتي کمپاين يوه برخه وه. په دې کار کې له راډيو او ان تلويزيون څخه هم کار اخيستل کېده. د هلمند د خوړو د زون پروګرام په وروستيو کلونو کې، د ډله‌ييزو رسنيو کمپاين نوره هم پرمختللې بڼه غوره کړه او د ټليفوني راډيويي خپرونو له لارې هغو کسانو ته چې غوښتل يې مشروع کښتونه وکري، کرنيزې مشورې وړاندې کېدې. د هلمند د خوړو زون د پروګرام په بهير کې د سوداګريزو راډيوګانو او تلوېزيونونو

۳۳ زبيډی، ګ. (۲۰۱۰، مارچ). د هلمند د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې د ولايتي پلان بياکتنه: دوهم راپور. دا بياکتنه د هلمند ولايتي بيارغونې ډلې د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې د ټيم په سپارښتنه ترسره شوه.

۳۴ د دفاع وزارت د انځوريزو معلوماتو د ويشنې خدمات «د هلمند حکومتی چارواکي د خوړو زون شورا جوړوي» د ۲۰۱۰ کال د اکتوبر ۱۷مه نېټه. https://www.youtube.com/watch?v=cjbQtOeHv۴A




۴ شکل: د هلمند د خوړو زون بدلېدونکې
پولې، ۲۰۰۹–۲۰۱۱ میلادي کلونه

پوښښ او کارول زيات شول او د «په بکس کې راډيو» د مفکورې پر اساس په هغو کليوالو سيمو کې راډيوګانې وويشل شوې چې له راډيو پرته د بلې وسيلې له لارې ورته لاسرسی نشو کېدلای.

سره له دې چې د هلمند د خوړو زون په بهير کې د عامه پوهاوي د کمپاين پوښښ زيات شو، خو د وړاندې کولو په برخه کې يې ګڼې ستونزې وې. ځينې ستونزې له رسنيو سره تړلې وې او پر دې سربېره تر ډېره نالوستو کليوالو ته د رسېدو ننګونه هم وه. خو دا ستونزه تر يو بريده د مختلفو رسنيو د کارولو له لارې حل شوه. خو نورو ستونزو د پيغامونو له ماهيت سره تړاو درلود؛ مطلب دا چې ليکوال يې څوک دی؟ او دغه پيغامونه به په څه ډول وړاندې کېږي؟

د ځينو چاپي رسنيو کمپاين به موخې ته نه رسېده. د بيلګې په ډول؛ دا سې پوسټرونه چاپ شول چې کروندګرو ته به يې ويل:«غنم وکرئ او خپله کورنۍ مړه کړئ.» دا يو ساده پيغام و چې موخه يې پر غنمو باندې د کوکنارو د بدلولو ملاتړ و. خو ډېرو کروندګر، په تېره بيا هغوی چې ځمکې يې نه درلودې، که دې پيغام بې باوره کړي نه وو، نو ابهام خو يې ورسره خامخا پيدا کړی و. که دغسې کسانو يوازې غنم کرلای نو حاصلات به يې دومره نه وو چې د دوی د کورنيو د خوړو اړتياوې دې پرې پوره شي او ممکن کورنۍ به يې وږې پاتې شوې وای. کروندګرو ځکه کوکنار کرل چې د ترياکو له پلورلو يې نغدې پيسې ترلاسه کولې. په دې پيسو دوی کولای شول چې د غنمو د حاصلاتو پر ځای زيات اوړه واخلي؛ دغه کروندګر پر دې پوهېدل چې که غنم وکري، دوی او کورنۍ به يې وږې پاتې شي.

دا چې دغه پيغامونه چا جوړول او بايد تر خلکو څنګه رسېدلي وای، ممکن دا به د هغه برتانيوي چارواکي په غاړه و چې د کمپاين د دې برخې مسووليت يې درلود. دوی سپارښتنه کوله چې «د دغو توليداتو اغېز او فعاليتونه د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت، والي او د خوړو زون د پروګرام له حيثيت سره له نږدې تړاو ولري او ګډې پايلې ترې ترلاسه شي.»[35] ستونزه دا وه چې خلکو له دغو بنسټونو څخه هيڅ يوه ته هم په درنه سترګه نه کتل.

په ځانګړي ډول والي ګلاب منګل نه يوازې د هلمند د خوړو زون پروګرام په برخه کې، بلکې په هلمند کې د نورو اقداماتو په برخه کې هم په زياتېدونکې توګه په فساد تورن شو. له برتانيا سره د نوموړي نږدې همکارۍ او د ځايي خلکو ترمنځ دا احساس چې د نوموړي د هڅو اصلي مخاطب افغان ولس نه بلکې نړيواله ټولنه ده؛ د دې لامل شو چې خلکو نوموړي ته«د انګريز د بچي» لقب ورکړي. ان د برتانيوي پوځيانو له خوا د ولسواليو مرکزونو ته په شوراګانو کې د ګډون لپاره د نوموړي لېږدولو دا سې اغيز رامنځته کړ چې نوموړی ان د ځان د ساتنې په خاطر هم د بهرنيانو پر امنيت متکي دی او دا سې اوازې چې نوموړی افغان نه؛ بلکې پخپله يو بهرنی دی. همدارنګه ځينې ډېر بې بنسټه تورونه پرې ولګېدل؛ ان ځينو ويل چې والي په حقيقت کې مسلمان نه دی. د هلمند د خوړو زون پروګرام په نورو برخو کې حالات لا نور هم کړکېچن کړل، نه يوازې دا آند چې غنم په يو ډول د ترياکو معتبر بديل دی، بلکې ډېر ځله په زياتو ناامنو سيمو کې د کوکنارو د کروندو له منځه وړل له ننګونو سره مخ و؛ همدارنګه په خلکو کې يې دا اغيز پيدا کړ چې والي د سيمه ييزو خلکو له ژوند او معيشيت څخه بې خبره دی او يا يې بېخي په کيسه کې نه دی.

معلوماتي کمپاين هم د هلمند د خوړو د زون د پروګرام له نورو برخو سره همغږي نه درلوده. د معلوماتي کمپاين په تېره بيا د ډله‌ييزو رسنيو له لارې کمپاين د هلمند زياتو سيمو ته رسېده، خو د هلمند د خوړو زون پروګرام کرنيزې برخې او د کوکنارو د کروندو د لمنځه وړلو برخه بيا امنيت را محدودې کړې وې - دغه برخې يوازې په هغو سيمو کې پلې کېدې چې برتانيوي او افغان ځواکونو امن کړې او ورتګ ورته خوندي ګڼل کېده (دويم شکل وګورئ) – پر دې سربېره مالي ستونزې هم وې. خو معلوماتي کمپاين بيا دغه ستونزې نه درلودې، معلوماتي کمپاين ټول ولايت ته رسېده او د ملي معلوماتي کمپاين پيغامونو يې لا نور ملاتړ هم کاوه، په ملي معلوماتي کمپاين کې د افغان وزيرانو او علماوو پيغامونه هم وو.[36]

ددې کار د پايلې عمومي پيغام دا و چې کروندګر به مرستې ترلاسه کړي او د کوکنارو د لمنځه وړلو له لارې به د کښتونو د له لاسه ورکولو له زيات ګواښ سره مخامخ وي، خو دا هغو کسانو ته متوجه نه وو چې ګواښ او ګټې به يې ليدې، هغوی په نهايت کې د ټولنې يو اقليت جوړوه. ډېرو کروندګرو، په ځانګړي ډول د هلمند د خوړو زون په لومړيو دوو کلونو کې، نه توکي ترلاسه کړل او نه يې هم د کوکنارو کروندې واړول شوې چې دې کار د معلوماتي کمپاين او د افغان حکومت حيثيت تر پوښتنې لاندې راووست او يو دا سې اغيز يې رامنځته کړ چې دا کمپاين هسې يو شور ماشور دی او لکه څرنګه چې ځينو کروندګرو به ويل:«هسې لافې دي».

۳۵ د ولايتي بيارغوني ټيم د چارواکي سره شخصي مراسله، د ۲۰۱۱ کال د مارچ ۱۰مه.

۳۶ د حکومت په مالي تمويل د مذهبي مشرانو يوه رامنځته شوې خپلواکه اداره.

## ۲.۵ څه چې کرې هغه به رېبې؟ د کرنیزو توکو وېش

د هلمند د خوړو زون دوهمه او تر ټولو ګرانه برخه د تریاکو د بدیل معیشیت په توګه د کرنیزو توکو چمتو کول وو. دا یو لوجستیکي جنجال و چې د هلمند د خوړو زون د مالي مرستو زیاته برخه یې وزبېښله او د ولایتي بیارغونې په ټیم کې د کارکوونکو او همدارنګه په هلمند کې د برتانیا د پوځ زیات وخت یې ونیو، تر دې حده چې د ۲۰۱۰ میلادي کال په مارچ کې ویل کېدل چې:«د ولایتي بیارغونې ټیم یې د ماتېدو تر پولې رسولی دی».[37]

د هغو توکو تأمنیول چې د بل کښت له کرکیلې سره مرسته وکړي او د تریاکو بدیل شي ځکه د توجیه وړ و چې د کروندګرو د احتمالي پراخ مقاومت د کمولو لپاره دوی ته یو څه ورکړل شي؛ ځکه له احتمالي پراخ مقاومته د ولایتي بیارغونې ټیم ملکي او پوځي مشرانو او په هلمند کې افغان چاراوکو ډېره وېره درلوده. د ولایتي بیارغونې په ټیم کې لومړنیو خبرو اترو، په ځانګړې ډول د برتانیا د نړیوالې پراختیایي ادارې او د امریکا متحده ایالاتو د نړیوالې پراختیایي ادارې له سلاکارانو سره، د بېلابېلو کرنیزو بدیلونو پر وړاندې کولو تمرکز درلود چې پکې د لوړ ارزښت لرونکو خوړو د کښتونو لپاره د تخمونو د وړاندې کولو امکان هم شامل و. خو د ۲۰۰۸ میلادي کال د اکتوبر په وروستیو کې د کوکنارو د کرل کېدو د راتلونکي فصل پر وړاندې د اقداماتو له امله دغه خبرې اترې لنډمهاله جوړتې شوې.

که څه هم د غنمو د اصلاح شویو تخمونو او کیمیاوي سرې(د یوریا او ډای امونیم فاسفیټ «DAP» سرې یوې کڅوړې) ته د لنډمهاله تګلارې په سترګه وکتل شول. کله چې د ۲۰۰۸ میلادي کال په جولای کې د هلمند د خوړو زون پروګرام مسوده چمتو شوه نو رسمي عنوان یې «د مخدره توکو پر وړاندې د ولایتي مبارزې لنډمهاله پلان» و . سره له دې چې په لندن او کابل کې برتانیوي چارواکو او همدارنګه د پراختیایي برخې متخصصینو په دې تړاو خپل ژور ملاحظات درلودل خو په دې پروګرام کې تر ډېره د کوکنارو د یوه بدیل کښت په توګه پر غنمو اتکا وشوه. د ۲۰۰۹ میلاډې کال د اوړي په لومړیو کې سپارښتنه وشوه چې په ۲۰۱۰/۲۰۰۹ میلادي کلونو کې راتلونکی پروګرام به «تر یوازېنې بدیل باید پر متنوع بدیلونو تمرکز وشي.»[38] وروسته بیا د ۲۰۱۰ میلادي کال په مارچ کې دغو بحثونو په ولایتي بیارغونې ټیم او همدارنګه په برتانیه کې د بېلابېلو آندونو له لارې دوام وموند تر هغو چې د هلمند په مرکزي سیمو کې په دومره پیمانه د غنمو د تخمونو د وېش د منطق په اړه یې پوښتنې راپورته کړې «او دا چې په کومه غوره طریقه ددې محصول له وېشه ځانونه خلاص کړي.» سره له دې چې دغه اندېښنې یو ځل بیا راپورته شوې خو د هلمند خوړو زون پر دې تمرکز درلود چې په اساسي توګه د پروګرام تر پایه پورې د اصلاح شویو غنمو وېش دوام ومومي.

هغوی چې د پراختیایي چارو په برخه کې پر کار بوخت وو د غنمو د سبسایډي شویو تخمونو ورکړه یې «په اوږدمهال کې د بازار د اصلي اصولو خلاف کار باله او په هر صورت کې یې د نغدو کښتونو په پرتله د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې په برخه کې بې اغېزې باله».[39] په لومړي کال کې کروندګرو له اصلاح شویو غنمو او د کیماوي سرې له لګښتونو یوازې تش په نامه ګټه واخیسته– شاوخوا اوه سلنه. په ۲۰۰۹ میلادي کال کې یوې ترسره شوې ارزونې د «وړیا ډالیو» پرځای د «څو کلن پلان د جوړولو» غوښتنه وکړه.[40] د ۲۰۱۰ میلادي کال تر مني پورې –د هلمند خوړو زون پروګرام د دریېم کال د پیلېدو په درشل کې– د کرنې، مالدارۍ او اوبو لګونې وزارت د ملي پالیسي د پیسو له ګډو ورکړې سره مطابقت درلود او د ارزښت **۳۵** سلنه برخه یې جوړوله. خو دا چې په دې را ټولو شویو پیسو څه وشي[41] د ولایتي بیارغونې د ټیم لپاره یوه اضافي لوجستیکي ننګونه جوړه کړه – په سبسایډي کې د کموالي هرکلی وشو او د وتلو له یوې تګلارې سره د مرستې او همدارنګه «د کرنې د یوې تګلارې تر چتر لاندې، د مرستو د متنوع ټولګې» پر لور د حرکت په سترګه کتل کېدل.[42] په هرصورت؛ د هلمند د خوړو زون د غنمو پر تخمونو او کیمیاوي سرې خپل تمرکز ته دوام ورکړ او په دې کې د پسرلي او اوړي په وروستیو مرحلو کې یوازې واړه عناصر شامل وو او پر نورو داسې پراختیایي پروګرامونو یې تکیه درلوده چې د کرنې او عاید له متنوع کولو سره د ملاتړ په خاطر پلي کېدل.

۳۷ زبیډی، ګ. (۲۰۱۰، مارچ). د هلمند د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې د ولایتي پلان بیاکتنه: دوهم راپور. دا بیاکتنه د هلمند ولایتي بیارغونې ډلې د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې د ټیم په سپارښتنه ترسره شوه.

۳۸ رایډر، م. او ریډ، س. (۲۰۰۹، اګسټ). د هلمند د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې د پلان بیاکتنه. د افغانستان د مخدره توکو د بین الاداري واحد لپاره ناخپور شوی سند.

۳۹ زبیډی، ګ. (۲۰۱۰، مارچ). د هلمند د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې د ولایتي پلان بیاکتنه: دوهم راپور. دا بیاکتنه د هلمند ولایتي بیارغونې ډلې د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې د ټیم په سپارښتنه ترسره شوه، ۱۲مه پاڼه.

۴۰ رایډر، م. او ریډ، س. (۲۰۰۹، اګسټ). د هلمند د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې د ولایتي پلان بیاکتنه. د د افغانستان د مخدره توکو د بین الاداري واحد لپاره ناخپور شوی سند.

۴۱ د ۲۰۱۰ کال په مني کې، د کارول شویو افغانیو، کالدارو او امریکایي ډالرو اټه بوجۍ چې تخمیني ارزښت یې ۱.۵ میلیون ډالره وو د کمپ باسټین د ولایتي بیارغونې د ډلې په اطاق کې وموندل شوې. تر یوې مودې وروسته، دغه پیسې په لښکرګاه کې په یو بانکې حساب کې جمع شوې (شخصي مراسلې، د برتانیې د حکومت یو پخوانی چاوراکی، ۲۰۱۵ جولای).

۴۲ زبیډی، ګ. (۲۰۱۰، مارچ). د هلمند د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې د ولایتي پلان بیاکتنه: دوهم راپور. دا بیاکتنه د هلمند ولایتي بیارغونې ډلې د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې د ټیم په سپارښتنه ترسره شوه، ۱۲مه پاڼه.

د ۲۰۱۰ میلادي کال په اوړي کې وړاندوینه وشوه چې د هلمند د خوړو زون پروګرام تر سیوري لاندې به نور د غنمو اصلاح شوي تخمونه نه وېشل کېږي. یو راپور چې د ولایتي بیارغونې د ټیم له خوا چمتو شوی و دې پایلې ته ورسېد چې د هلمند د خوړو زون «پنځه کاله د غنمو ۱۰۰ سلنه اصلاح شوي تخمونه وېشلي دي او د دې کار تکرار ته نوره اړتیا نه لیدل کېږي.»[43] دې راپور وړاندې استدلال کاوه:«د هلمند لپاره د ژمنه شویو پراختیایي لګښتونو اندازه د هغو پیسو تر اندازې ډېره زیاته ده چې د غنمو د اصلاح شویو تخمونو یو بېل پروګرام د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې او یا هم اقتصادي اغېز په برخه کې و.»[44] له والي سره له سلا مشورې پرته د ولایتي بیارغونې ټیم یوه بودیجه تایید کړه چې د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې په برخه کې یې یوازې یو میلیون امریکایي ډالر ځانګړي کړي وو او د یوه بل کال لپاره د ۱۲ ملیونو امریکایي ډالرو په ارزښت د غنمو د تخمونو د وېش یوه بله ټاکنه یې رد کړې و.[45]د ولایتي بیارغونې ټیم او رهبري یې پر دې نه پوهېدل چې د دې پروګرام له لارې والي او د هغه ملاتړي اقتصادي ګټې ترلاسه کوي او همدرنګه دا کار د هغوی د سیاسي ملاتړ سبب کېږي. د ۲۰۱۰ میلادي کال په مني کې والي ټینګار وکړ چې د غنمو د تخمونو پروګرام باید بیا پیل شي. که څه هم دوی په دې برخه کې چندان لېوالتیا نه درلوده،[46]خو د امریکا متحده ایالاتو نړیوالې پراختیایي ادارې په وروستۍ شېبه کې لاسوهنه وکړه او د ۴.۲۱ میلونو امریکایي ډالرو[47] مرستې په کولو سره یې د مالي تمویل دغه کسر پوره کړ او والي د دریېم پرلپسې فصل لپاره د غنمو د تخمونو د وېش پروګرام پیلي کړ.

۲ جدول: د هلمند خوړو زون پروګرام په بهیر کې وېشل شوي کرنیز توکي، ۲۰۰۸ –۲۰۱۱میلاډي کلونه

| کال | ټولګه | د برخمنو کسانو شمېر | موقعیتونه | مصرف |
|---|---|---|---|---|
| ۲۰۰۹/۲۰۰۸ | ۱۰۰کیلوګرام غنم ۱۰۰کیلوګرام ډای امونیم فاسفیټ ۲۰۰کیلوګرام سره | ۳۲۸۵۰[1] | ۲ولسوالۍ | ۱۲ میلیون امریکایي ډالره |
| ۲۰۱۰/۲۰۰۹ | ۱۰۰کیلوګرام غنم ۱۰۰کیلوګرام ډای امونیم فاسفیټ ۲۰۰کیلوګرام سره | ۳۹۶۴۰۲ | ۷ولسوالۍ | ۱۲.۹ میلیون امریکایي ډالره |
| ۲۰۱۱/۲۰۱۰ | ۱۰۰کیلوګرام غنم ۱۰۰کیلوګرام ډای امونیم فاسفیټ ۲۰۰کیلوګرام سره | ۴۶۵۳۴ | ۱۰ولسوالۍ | ۱۸ میلیون امریکایي ډالره |

۱ په دې کې ۱۹,۱۵۰کسان شامل وو چې د متحده ایالاتو د نړیوالې پراختیایي ادارې له Chemonics څخه یې وسایل ترلاسه کړل او ۱۳,۷۰۰ یوازې د والي د تخمونو د وېش له پروګرام څخه برخمن شول. رایډر، م. او ریډ، س. (۲۰۰۹، اګسټ). د هلمند د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې د پلان بیاکتنه. په افغانستان کې له مخدره توکو سره د مبارزې لپاره د بین الاداري واحد لپاره ناخپور شوی سند.

که څه هم د کوکنارو د نه کرلو په بدل کې د غنمو د اصلاح شویو تخمونو او کیمیاوي سرې د ورکولو پلان ساده ښکارېده خو په یوه جګړه ځپلې سیمه کې یې پلي کول له ستونزو ډک و. تر ټولو شدیده ستونزه امنیتي حالات وو، که څه هم د وخت په تېرېدو سره وضعیت ښه شو، خو د هلمند د خوړو زون پلان د پلي کولو په بهیر کې امنیت یوه لویه ننګونه وه،.

د هلمند د خوړو زون پروګرام د رامنځته کېدو په لومړي کال کې د تاوتریخوالي کچه دومره زیاته وه چې د غنمو د اصلاح شویو تخمونو او کېمیاوی سرې وېش د یوه پوځي تمرین بڼه غوره کړې وه. د ۲۰۰۸ میلادي کال په مني کې د برتانیا پوځ د ولایت مرکز لښکرګاه او د ګرشک، سنګین، موسی کلا، کجکي او ګرمسېر ولسوالیو مرکزونو ته کرنیز وسایل ولېږدول. د پوځي حضور له زیاتېدو سره امنیتي حالات ښه شول او دا امکان هم ورسره زیات شو چې د مرستو د پوښښ ساحه ورسره پراخه شي. د ۲۰۱۰ میلادي کال تر مني پورې کرنیز وسایل او توکي په لسو ولسوالیو کې د شلو مرکزونو له لارې وېشل کېدل، په دې برخه کې یوازې د نهر سراج، نادعلي او مارجې ولسوالیو ځینو سیمو ته د تګ لپاره پوځي ملاتړ ته اړتیا وه. امنیتي حالات تر دې حده خراب و چې نورو ټولو سیمو ته توکي یو بار وړونکي شرکت ورسول، له دې شرکت سره د همدې لپاره قرارداد شوی و، خو د اړتیا په صورت کې د پوځي کاروانونو د امنیت لپاره هم کار ترې اخیستل کېده. پر دې ښېګڼې سربېره بیا هم اړینه وه چې ایساف هغه ټیمونه چې د غنمو د تخمونو او همدارنګه د سرې د وېش دنده یې پر غاړه وه د هوا له لارې د وېش مرکزونو ته ولېږدوي.

۴۳ اېر کوارټایل، «د هلمند د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې او بدیل معیشیت ارزونه،» د برتانیې د بهرنیو چارو وزارت لپاره ناچاپ شوی راپور، د ۲۰۱۰ کال اګسټ، ۱۵مه پاڼه.

۴۴ اېر کوارټایل، «د هلمند د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې او بدیل معیشیت ارزونه،» د برتانیې د بهرنیو چارو وزارت لپاره ناچاپ شوی راپور، د ۲۰۱۰ کال اګسټ، ۱۵مه پاڼه.

۴۵ د افغانستان د بیارغونې لپاره ځانګړی سرمفتش (SIGAR)، «د مخدره توکو پر وړاندې مبارزه: په افغانستان کې د امریکا له تجربې ترلاسه شوی درسونه،» د ۲۰۱۸ کال جون، SIGAR: واشنګټن، ډي سی، ۱۲۱مه پاڼه. https://www.sigar.mil/pdf/lessonslearned/SIGAR-۱۸-۵۲-LL.pdf

۴۶ د ولایتي بیارغونې ډلې له#۴۶ چارواکي سره شخصي مراسله، د ۲۰۱۱ کال د مارچ ۱۰مه.

۴۷ د متحده ایالاتو نړیواله پراختیایي اداره (۲۰۱۴) «د افغانستان د کرنیز سکتور مرستې، د تریاکو کرکیله او په افغانستان کې د متحده ایالاتو د نړیوالې پراختیایي ادارې انکشافي هڅې: مسوده،» د ۲۰۱۴ کال د سپټمبر ۲۲مه نیټه، ۲۹مه پاڼه.

کله چې به مرسته کېدونکي توکي د وېش مرکزونو ته ولېږدول شول، کروندګر به د غنمو د تخمونو او سرې د ترلاسه کولو لپاره له شاوخوا کليو څخه د وېش مرکزونو ته راتلل. ډېرې ستونزې دلته را پورته شوې او له همدې پيله د هلمند دخوړو زون پر پروګرام د فساد تورونه پورې شول.[48] زيات تورونه پر والي او نورو افغان چارواکو لګېدل. دوی د دې پر ځای چې په انفرادي ډول کروندګر ثبت کړي، چې دا تر ټولو غوره لاره وه، پر دې ټينګار کاوه چې د مستحقو کسانو لېستونه دوی پخپله چمتو کوي. داسې ډېر راپورونه تر غوږو شول چې چارواکي او مشران تخمونه او کيمياوي سرې ساتي او بيا يې د هلمند په بازارونو کې خرڅوي. د تقلبي نومونو د لېستونو په اړه هم په پرلپسې ډول راپورونه خپرېدل چې چارواکو او مشرانو ته يې دا زمينه چمتو کوله چې په دې توګه اضافي توکي ترلاسه کړي، يا هم دوی کروندګر اړ کول چې په لېست کې يې د نومونو د ليکلو لپاره مشرانو ته پيسې ورکړي.[49] د فساد نور تورونه د تخمونو د کيفيت په اړه وو او ادعاوې کېدې هغه تخمونه چې د ولايتي بيارغونې ټيم له خوا پر کروندګرو د وېش لپاره ځانګړي شوي وو، خرڅ شوي يا هم پر نورو بې کيفيته تخمونه بدل شوي وو.[50] دغسې تورونه د هلمند د خوړو زون د پروګرام د پلي کېدو په بهير کې بيا بيا پورې شول او مسوول چارواکي پکې زنداني شول، په دغو چارواکو کې يو تن خپله د والي سلاکار هم و.

د غنمو د تخمونو له وېش سره تړلې نورې ستونزې د امنيتي وضعيت زېږنده وې، دغه ستونزې تر ډېره په لومړيو کلونو کې رامنځته شوې. پر ټاکلي وخت د توکو انتقال يوه لويه ننګونه وه. د غنمو د کرکيلې موسم لنډ او تنګ دی؛ د هوا تودوخې او د باران کچې ته په کتو سره توپير لري. د مرستو ناوخته ليږد،[51] لکه د **۲۰۰۸** ميلادي کال په منې کې چې هوا سړه وه او د کرکيلې موسم تر خپل وخت وړاندې پيل شو، له همدې امله کروندګرو شکايت وکړ چې دوی ته تخمونه پر وخت نه ور رسېږي.[52] تخمونه که به د ولسواليو مرکزونو ته ورسېدل، بيا به يې هم په وېش کې د نا امنيو له امله ځنډ رامنځته کېده. د بېلګې په ډول؛ هغه کروندګر چې د طالبانو تر واک لاندې سيمو کې اوسېدل زړه نا زړه وو چې د حکومت له خوا ورکړل شويو تخمونو سره يو ځای د ولسواليو له مرکزونو بېرته خپلو سيمو ته ستانه شي او که نه؟ ځينو کروندګرو به تخمونه بېرته په ساده بوجيو کې اچول چې ځوک پر دې پوه نشي چې دغه تخمونه له کومه راغلي دي او يا به هم خپلو ځمکو ته په ځنډ ورتلل. ځينو نورو کروندګرو به هغه تخمونه چې د هلمند د خوړو زون له پروګرامه يې ترلاسه کړي وو، د ولسوالۍ او يا هم د ولايت په مرکز کې پلورل چې طالبان پر دې پوه نشي چې دوی له حکومت څخه مرسته ترلاسه کړې ده. په دې توګه د غنمو د هغو تخمونو او کيمياوي سرې د خرڅلاو لپاره چې د هلمند د خوړو زون پروګرام وېشلي وو، يو بازار وغوړېد.

همدارنګه د هغو کسانو له خوا هم کرکه او بېزاري څرګندېده چې مرستې نه وې ور رسېدلې او د هلمند د خوړو زون په پولو کې دننه د لرې څخه د اخيستل شويو انځورونو په مرسته چې د شاخوا **۱۲۵,۰۰۰** کورونو حويلۍ يې په مستنده توګه په نښه کړې وې؛ د داسې کسانو شمېر په اکثريت کې وو چې هر کال به له داسې مرستو څخه بې برخې پاتې کېدل.[53] دا حقيقت چې ځينې بانفوذه کليوالي مشران به هر کال له کرنيزو وسايلو برخمن کېدل، په سيمه کې دا روايت لا پسې چاغوي چې په هلمند کې داسې اداره حاکمه ده چې چارواکي يې په فساد او ډلبازيو کې ښکېل دي. د حکومت په اړه آندونه به هغه مهال نور هم پسې خراب شول چې د کوکنارو د لمنځه وړلو موضوع به ياده شوه؛ مطلب عام آند دا و چې يوازې د هغو کروندګرو کښتونه اړول کېږي چې بېوزله دي او له ملاتړو شبکو سره اړيکې نه لري، خو په ورته وخت کې همدغو کسان ډېرې کمې پراختيايي مرستې ترلاسه کولې. دا هغه څه وو چې د هلمند د خوړو زون په دننه او بهر کې يې د حکومت په اړه پر عامه افکارو ژور اغېز درلود. دا موضوع به په راتلونکو برخو کې بيان شي.

۴۸ يادښت، د برتانيې د نړيوالې پراختيايي ادارې د پروژې مسوول، د ۲۰۰۹ کال د جون ۲۳مه.

۴۹ مانسفيلډ، ډ. (۲۰۰۹) «د کښتونو د تخريب د اغېزې مطالعه،» د برتانيې حکومت د افغانستان د مخدره توکو د بين الاداري واحد لپاره ناچاپ شوی راپور، د ۲۰۱۰ کال مې، ۱۱مه پاڼه.

۵۰ جين مکينزی، «په افغانستان کې تر بدو وروسته ښې پيسې،» ګلوبل پوسټ، د ۲۰۱۰ کال د جنوری ۱۸مه نېټه.

۵۱ په لښکرګاه کې د ولايتي بيارغونې په ډله کې له يو برېتانوي چارواکي سره شخصي مراسله، د ۲۰۰۹ کال فبروري.

۵۲ مانسفيلډ، ډ. (۲۰۰۹). د زوال دوام؟ د ۲۰۰۸/۲۰۰۹ کلونو د کرکيلې په موسم کې د ترياکو کرونکو کورنيو په کليوالي معيشيت کې د تغيير پر ماهيت پوهېدل. د برتانيې په حکومت کې د افغانستان له مخدره توکو سره د مبارزې لپاره د بين الاداري واحد لپاره يو راپور، ۴۰مه پاڼه.

۵۳ د السيس (Alcis) معلومات، د ۲۰۱۷ کال د اګسټ ۹مه نېټه.



**۵ شکل:** هغه تراکتورونه چې د والي په مشرۍ يې د کوکنارو د کروندو د لمنځه وړلو په برخه کې فعاليت کاوه.

## ۳.۵ په شپه کې د غله په شان؟ د کوکنارو تخريب!

په رسمي توګه د هلمند د خوړو زون اخري برخه «جز» د قانون پلي کيدل او د کوکنارو د لمنځه ړول و. په دې عنصر کې يوازې د کوکنارو د کروندو لمنځه وړل شامل و؛ د مخنيوي او بنديز مسووليت يې په افغان حکومت کې د قانون د پلي کوونکو چارواکو او همدارنګه د امريکا د متحده ايالاتو او برتانيا پر غاړه و او د هلمند د خوړو زون پروګرام له نورو برخو سره يې تړاو نه درلود چې تر ډېره د بهرامچې په سيمه کې چې د پاکستان له پولې سره نږدې او «د هلمند د خوړو زون» له ساحې په ۲۴۰ کيلومتره واټن کې موقعيت لري، ترسره کېده.

په هلمند کې د کوکنارو د کروندو د لمنځه وړلو شاليد ته په کتو سره دغه بهير د هلمند د خوړو زون «او په افغانستان کې د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې» تر ټولو زيات جنجالي عنصر جوړت شو. له ۲۰۰۰ ميلادي کال راهيسې هر کال په هلمند ولايت کې د کوکنارو د کروندو لمنځه وړل په يوه او بله بڼه ترسره کېده. په دې کې د ۲۰۰۰/۲۰۰۱ ميلادي کلونو د کرکيلې په موسم کې د طالبانو د واکمنۍ پر مهال کمې کروندې لمنځه يوړل شوې او همدارنګه په ۲۰۰۲ ميلادي کال کې د برتانيا په ملاتړ د پيسو په بدل کې د کوکنارو د کروندو د لمنځه وړلو کمپاينونه شامل دي. په هلمند کې د کوکنارو کروندې معمولاً په ټيکټرونو اړول کېدې. د کوکنارو د کروندو د لمنځه وړل د افغان ځواک (AEF) په رامنځته کېدو سره دا کار د هر ځای تلونکي موټر (AEF) په مرسته کېده. په ۲۰۰۲/۲۰۰۳ ميلادي کلونو او همدارنګه ۲۰۰۳/۲۰۰۴ ميلاډي کلونو کې هغه مهال چې شېر محمد اخندزاده والي و، د سړيو به ډانګي په لاس وو او په کرونده کې ولاړ کوکنار به يې اړول.

له ۲۰۰۲ ميلادي کال څخه وروسته په هلمند کې د کوکنارو د کروندو لمنځه وړل نور هم بنسټي شو. دا کار به د دوو جلا عملياتو له لارې کېده چې دواړه به په پسرلي کې پلي کېدل. لومړي عمليات چې د والي په مشرۍ (GLE) ترسره کېدل له ډېرو ټيکټرونو څخه پکې کار اخيستل کېده (۵ شکل وګورئ). د دې عملياتو امنيت به افغان ملي پوليسو نيوه او د هلمند د والي د کوکنارو د کروندو د اړولو د کمېټې له خوا به يې لارښوونه کېده.

دوهم ډول عمليات د کوکنارو د کروندو د لمنځه وړل افغان ځواک (AEF) چې وروسته بيا د کوکنارو د لمنځه وړلو ځواک (PEF) ونومول شو او ټيکټرونه او هرځای تلونکي موټر يې درلودل. دغه عمليات به د زيات شمېر امنيتي ځواکونو او لوجستيکي ملاتړ په واسطه ملاتړي کېدل (۲ او ۷ شکلونه وګورئ). دغه وروستي عمليات چې بوديجه يې په کال کې شاوخوا ۲۰ ميليونه امريکايي ډالرو ته رسېده او د يو شخصي قراردادي (Dyncorp) له خوا پلي کېدل، د امريکا متحده ايالاتو د حکومت لخوا تمويلېده.[۵۴] د کوکنارو د کروندو د لمنځه وړل افغان ځواک / د کوکنارو د کروندو د لمنځه وړلو ځواک د ۲۰۰۵ او ۲۰۰۹ ميلادي کلونو ترمنځ فعاليت کاوه او هغه مهال بند شو چې د اوباما حکومت پرې مالي مرستې بندې کړې. که څه هم دا ځواکونه به له کابل څخه استول کېدل او د هېواد په هره برخه کې يې فعاليت کولای شو، خو دې ځواک خپل زيات وخت په هلمند کې د کوکنارو د لمنځه وړلو په موسم کې تېراوه. د کوکنارو د لمنځه وړلو ځواک د ۲۰۰۷ او ۲۰۰۹ ميلادي کلونو ترمنځ، د کروندو د لمنځه وړلو ۹۰ سلنه کار ترسره کړ (۸ شکل وګورئ).

۵۴ انډرسن، ج.ل. (۲۰۰۷) «د طالبانو د ترياکو جګړه: د کښتونو د تخريب پروګرام سختۍ او خطرونه،» نيويارکر، د ۲۰۰۷ کال د جولای د ۹مې نېټې ګڼه.





۲ شکل: د کوکنارو د لمنځه وړلو ځواک / د کوکنارو د لمنځه وړلو افغان ځواک چې د
هرځای تلونکو موټرو په مرسته او د افغان ملي پولیسو په ملاتړ یې فعالیت کاوه.



۷ شکل: په هلمند کې د بغرا شمال لور ته په للمي سيمو کې د کوکنارو د لمنځه
وړلو ځواک / د کوکنارو د کروندو د لمنځه وړلو افغان ځواک مرکزي اډه

**۸ شکل: د هلمند په کچه او همدارنگه په ملي کچه د کوکنارو د کروندو د لمنځه وړلو اټکلونه، ۲۰۰۵ - ۲۰۱۸ میلادي کلونه**




د څو کلونو په اوږدو کې د والي په مشرۍ د کوکنارو د لمنځه وړلو پر ځواک او همدارنگه د کوکنارو د لمنځه وړلو پر افغان ځواک ډېر خونړي بریدونه وشول او دې ځواکونو ته ځاني زیانونه ورسېدل. پر دواړو ځواکونو د فساد زیات تورونه هم لگېدل چې له مخې یې کروندگرو کولای شول چې پیسې ورکړي او په بدل کې یې خپلې د کوکنارو کروندې له لمنځه وړلو وساتي.[۵۵] د دواړو عملیاتو په پایله کې د کوکنارو د کروندو د لمنځه وړلو د کچې معلومول؛ په ځانگړې توگه د ناامنیو لوړې کچې ته په کتو ډېر ستونزمن کار و.

په لومړي سر کې د جرمونو او مخدره توکو پر وړاندې د ملگرو ملتونو د مبارزې دفتر دې ته لېوال نه و چې د کوکنارو د لمنځه وړل د تایید په برخه کې ښکېل شي، ځکه د خپلو کارکوونکو د امنیت او همدارنگه د دوی له خوا پر ترسره کېدونکې کلنۍ سروې د تایید د ارزونې د ممکنه اغېزو په اړه یې اندېښنه درلوده. د جرمونو او مخدره توکو د مبارزې دفتر که څه هم ځینې ملاحظات درلودل، خو دوی دې ته وهڅول شول چې د کوکنارو د لمنځه وړلو د تایید ارزونه وکړي[۵۶] او د دې کار لپاره د برتانیا او د امریکا متحده ایالاتو له خوا ورسره مالي مرستې وشوې. د جرمونو او مخدره توکو د مبارزې دفتر یو داسې څېړندود خپل کړ چې له مخې یې د کوکنارو د لمنځه وړلو تر بشپړېدو وروسته، کلیوالي سیمو ته پر تللو باندې متکي و خو په ۲۰۰۶ میلادي کال او ۲۰۰۷ میالدي کلونو کې دوی له مبالغې ډکې شمېرې خپرې کړې او په دې تړاو یې اندېښنې زیاتې کړې، له همدې امله پرېکړه وشوه چې له سپوږمکۍ څخه انځورونه واخیستل شي. په دې برخه کې کرانفیلډ پوهنتون تخنیکي مرستې وکړې.[۵۷] په نورو ولایتونو کې هم د کوکنارو د کروندو د لمنځه وړلو شمېرې د ډاډ وړ نه وې.

۵۵ گورډن، س. د زړونو او مغزونو گټل؟ د افغانستان په هلمند ولایت کې د مرستو او امنیت ترمنځ د اړیکو څېړنه. (میډفورډ، MA: د فاینشټاین نړیوال مرکز، د تفتس پوهنتون، ۲۰۱۱)، ۲۸مه پاڼه.

۵۶ دا پروژه په ۲۰۰۵/۲۰۰۴ کال کې پیل شوه او د «د کوکنارو د تخریب د تایید د پروسې د ملاتړ» په نامه پېژندل کېږي او د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې وزارت او همدارنگه د کورنیو چارو له وزارت سره په گډه عملي کړه او د والي له خوا د کوکنارو د کروندو پر تخریب یې تمرکز درلود. تر دې وړاندې د کوکنارو د کروندو د تخریب د هڅو د څارنې لپاره کوم مستقل سازمان نه و او په دې اړه جدي اندېښنې موجودې وې چې د هلمند په شمول په ځینو ولایتونو کې د تخریب شویو کروندو اندازې تر خپلې اصلي کچې پورته او زیات راپورونه ورکول کېدل. د مثال په ډول؛ د ۲۰۰۳/۲۰۰۲ کلونو د کرکیلې په موسم کې افغان چارواکو راپور ورکړ چې ۲۱۴۳۰ هکتاره د کوکنارو کروندې اړول شوې دي. د جرمونو او مخدره توکو پر وړاندې د ملگرو ملتونو د مبارزې دفتر(UNODC) په خپل کلني راپور کې دغه شمېرې خپرې کړې خو ورسره یې لیکلي وو:«د افغانستان د ۲۰۰۳ کال د تریاکو له سروې یې نه څارنه کړې او نه یې هم د کوکنارو د کروندو د تخریب د کمپاین موثریت ارزولی دی» (په افغانستان کې د کوکنارو د ۲۰۰۳ کال سروې) د جرمونو او مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې دفتر: کابل، ۲۰۰۳، ۵۳مه پاڼه). په ۲۰۰۴ کال کې د جرمونو او مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې دفتر د کوکنارو د کروندو د تخریب په اړه هیڅ ډول شمېرې خپرې نه کړې (وگورئ «په افغانستان کې د کوکنارو د ۲۰۰۴ کال سروې». د جرمونو او مخدره توکو پر وړاندې د ملگرو ملتونو د مبارزې دفتر: کابل، ۲۰۰۴، ۷۷مه پاڼه).

۵۷ د دغو شمېرو د کره والي په هکله په ۲۰۰۶ او ۲۰۰۷ کلونو کې تر بل هر وخت زیاتې اندېښنې را پورته شوې. په دغو کلونو کې د تخریب شویو کروندو مجموعي مقدار ۱۵۳۰۰ او ۱۹۵۱۰ هکتاره را پور ورکړل شو (د جرمونو او مخدره توکو پر وړاندې د ملگرو ملتونو د مبارزې دفتر(UNODC) ۴۲:۲۰۱۰). دغه شمېرې تر هغو ډېرې پورته وې چې تر دې دمه یا تر دغو کلونو وړاندې یې راپور ورکړل شوی و. په دغو لومړیو کلونو کې د کوکنارو د کروندو د تخریب د بهیر په تړاو د ننگونو او میتودولوژۍ په اړه تفصیلي روایت د افغانستان د تریاکو په اړه د ۲۰۰۶ کال په سروې کې موندلای شئ (۲۰۰۶، ۲۴-۲۵).

د لمنځه وړل شويو کروندو له تاييد سره تړلې ځيرندود او امنيتي ننګونې د کوکنارو د کروندو د لمنځه وړلو د پاليسيو له امله نورې هم کړکېچنې شوې، د کوکنارو کروندو اړول ډېر ځله د دولت جوړونې په موخو پورې اړوند له مخدره توکو سره د مبارزې د معيار په توګه کارېده او همدارنګه د افرادو او ادارو لاسته راوړنې پر همدې معيار اندازه کېدې.[58] دا کار ددې لامل شو چې افغان چارواکي په خپلو راپورونه کې مبالغه وکړي او ناسمې شمېرې ورکړي. د نړيوالو سازمانونو کارکوونکو به هم له اغراق او مبالغې ډکو شمېرو ته ارزښت ورکاوه. دا په ځانګړې توګه د ۲۰۰۷ ميلادي کال په پسرلي کې هغه مهال رابرسېره شوې چې د کوکنارو د لمنځه وړلو افغان ځواک / د کوکنارو د لمنځه وړلو د ځواک له خوا په زياته پيمانه راپورونه ورکړل شول چې د بياکتنې اړتيا پېښه شوه، تر بيا کتنې وروسته په ارقامو کې بدلون راغی او په نوي راپور کې شمېرې ډېرې را ټيټې شوې.[59]

د والي په مشرۍ د کوکنارو د کروند د لمنځه وړلو اټکلونه له ورته ستونزو سره مخامخ وو او تر ۲۰۰۸ ملادي وړاندې يې لږ اعتبار درلود، ځکه د امريکا او برتانيا حکومتونو د هر لمنځه وړل شوي هکتار په بدل کې سخاوتمندانه بديل ورکاوه،[20] دې کار په راپورونو کې مبالغې ته لاره هواره کړه، پخپله پر والي ګلاب منګل د فساد ډېر تورونه ولګېدل.[21] د کوکنارو د لمنځه وړل شويو کروندو په شمېر کې مبالغې او له اصلي شمېر يې زيات ښوولو ته د لېوالتيا له امله د جرمونو او مخدره توکو د مبارزې دفتر ساحوي تاييدونکي تر زيات فشار لاندې وو، پر دوی فشار راوړل کېده چې د کوکنارو د لمنځه وړل شويو کښتونو په مقدار کې اغراق او مبالغه وکړي. تاييدونکي به تر فشار لاندې وو او دا به يې معلومولای نشول چې کوکنار په مناسب ډول اړول شوي دي او که نه. که کوکنار په سم ډول اړول شوي نه وای، نو د خړوبولو او کيمياوي سرې له کارولو سره بېرته را شنه کېدلای شول. مطلب دا چې ډېر کله به د دې اړتيا وه چې تاييدونکي په خپله اړول شوي کوکنار له نږدې وګوري او دغه شمېرې پخپله تاييد کړي.

د هلمند د خوړو زون په وروستي کال کې، د کوکنارو د لمنځه وړلو افغان ځواک تر منحل کېدو وروسته، د والي په مشرۍ د کوکنارو د لمنځه وړل ځارل زيات شول. په ټيکټورونو کې (GPS) نصب شو چې په دې سره يې د ټيکټرونو ورځنی حرکت تر آند لاندې ساتلای شو.[22] د ښورښ او بغاوت پر وړاندې پر مبارزه د اوباما حکومت ډېر ټينګار کاوه «د بيلګې په ډول ويل به يې خلک ډالی دي». له بلې خوا ريچارډ هالبروک د افغانستان لپاره د اوباما ځانګړی استازی وټاکل شو، ده په ښکاره د کوکنارو د لمنځه وړلو مخالفت کاوه، د امريکا متحده ايالاتو حکومت ومنله چې په هلمند کې د کوکنارو د لمنځه وړلو په برخه کې به يو موخه لرونکې لاره غوره کړي او په دې توګه د کوکنارو لمنځه وړل تر ډېره د کانال په مرکزي سيمو کې متمرکز شو. په پايله کې، د ۲۰۰۸/۲۰۰۷ او همدارنګه د ۲۰۰۹/۲۰۰۸ ميلادي کلونو د کرکيلې په موسم کې د والي په مشرۍ د کوکنارو د لمنځه وړلو د کمپاين په پرتله – چې په لږ حاصل ورکونکو سيمو کې د کوکنارو د لمنځه وړلو لپاره لرې پرتې ټولنې پکې په نښه شوې او د کوکنارو د لمنځه وړلو افغان ځواک / د کوکنارو د لمنځه وړلو ځواک د بغرا شمال لور ته پر پرتو هغو سيمو تمرکز وکړ چې پخوا للمي او شاړې ځمکې وې – په ۲۰۱۰/۲۰۰۹ ميلادي کلونو کې د کوکنارو د کرکيلې په موسم کې د کوکنارو د لمنځه وړلو ۹۵ سلنه کار په هغو حاصلخېزو کرنيزو سيمو کې ترسره شو چې د غنمو اصلاح شوي تخمونه او کيمياوي سرې پرې وېشل شوې وې. دا کار د هلمند د خوړو زون له اصلي او لومړني موخې سره په مطابقت کې و.[23] پر دې سربېره؛ په مرکزي هلمند کې د افغان ملي دفاعي او امنيتي ځواکونو او نړيوالو پوځي ځواکونو په شمېر کې د پام وړ زياتوالی راغی، کروندګر دې پايلې ته ورسېدل چې د کوکنارو د لمنځه وړلو ډلو ته د بډو ورکولو او د کوکنارو د لمنځه وړلو د مخنيوي امکان ډېر لږ دی. د ۲۰۱۰/۲۰۰۹ ميلاډي کلونو د کرکيلې تر موسم پورې، د کانال په مرکزي سيمه کې د کوکنارو لمنځه وړل ډېر پرېکنده او حتمي ښکارېده؛ کروندګرو ادعا کوله چې د کوکنارو د لمنځه وړلو دا کمپاين د پخوانيو کمپاينونو په پرتله ډېر جامع دی او ډېر لږ کښتونه له لمنځه وړلو څخه په امان کې پاتې شوي دي. ان د راپورونو پر بنسټ د کوکنارو د لمنځه وړلو ټيمونو ته د بډو د ورکولو هڅې رد شوې ځکه د کوکنارو د لمنځه وړلو ټيم په دې پوهېده چې تر کلکې څارنې لاندې دی.[24]

58 نيومن، ر. ی. بله جګړه: په افغانستان کې ګټل او بايلل. (واشنګټن، ډی سی: پوټومک کتاب پلورنځي، ۲۰۰۹).

59 د کرانفيلډ پوهنتون د ترياکو د تخريب لپاره د افغان ځواک د راپورونو او د ۲۰۰۷/۲۰۰۲ کلونو د کوکنارو د تخريب له کمپاين څخه هم وړاندې او هم ورسته له سپوږمکۍ د اخيستل شويو انځورونو څخه کار واخيست چې په دې اړه د اضافي راپورونو او د کروندو د بيا را شنه کېدو انځور يې وړاندې کاوه.

20 په لومړي سر کې د هر هکتار ترياکو پر سر ۱۲۰ امريکايي ډالر وو، په ۲۰۰۹ کال کې ۱۳۵ امريکايي ډالرو او بيا په ۲۰۱۰ کال کې ۲۵۰ امريکايي ډالرو ته ورسېدل. د ۲۰۱۱ او ۲۰۱۲ کلونو ترمنځ، د متحده ايالاتو حکومت يوازې هغو سيمو ته پيسې ورکولې چې د تخريب شويو کوکنارو په هغو سيمو کې به وې چې په نښه شوې به وې. په ۲۰۱۳ کال کې، امريکا بيا د والي د کوکنارو د تخريب د جبران له پروګرام سره مرسته کوله، موقعيت ته يې پام نه کاوه او په دې ډول د هلمند د خوړو له زون څخه بهر سيمې هم پکې شاملې شوې.

21 شخصي مراسله، د برتانيې د ولايتي بيارغونې ډلې لوړپوړی چارواکی#۷۳، د ۲۰۱۱ کال جون.

22 کاپر-کولز،س. د کابل څخه مراسلې: په افغانستان کې د لوېديځ د مبارزې داخلی داستان (لندن: د هارپر مطبعه، ۲۰۱۱)، ۱۲۲مه پاڼه.؛ د متحده ايالاتو حکومت د تفتش اداره (۲۰۱۰) «د افغانستان د مخدره توکو مخنيوی: د ستراتېژۍ تکامل او د پرمختګونو د راپور ورکونه، خو د موقتوکړنو اهداف او د قضايي اصلاحاتو د ارزونې هڅو ته اړتيا ده،» GAO-۱۰-۲۹۱، د ۲۰۱۰ کال مارچ، ۱۱ پاڼه.

23 مانسفيلډ، ډ.، السيس لمټډ.، او OSDR. د هم مهاله او پرلپسې خطرونو مديريت: په مرکزي هلمند کې د ۲۰۰۸ – ۲۰۱۱ کلونو ترمنځ د ترياکو په توليد کې د کموالي په اړه توضيحات. (کابل: د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد، ۲۰۱۱)، ۲۴ – ۲۵ پاڼې.

24 مانسفيلډ، ډ.، السيس لمټډ.، او OSDR. د هم مهاله او پرلپسې خطرونو مديريت: په مرکزي هلمند کې د ۲۰۰۸ – ۲۰۱۱ کلونو ترمنځ د ترياکو په توليد کې د کموالي په اړه توضيحات. (کابل: د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد، ۲۰۱۱)، ۳۹ - ۴۰ پاڼې.

واقعیت دا و چې د افغان او نړیوالو پوځي ځواکونو د شتون زیاتوالی هم د هلمند په مرکزي سیمو کې د کوکنارو د کمو کروندو د لمنځه وړلو سبب شو، ځکه په لومړي سر کې کروندګرو کوکنار نه وو کرلي. ان په ۲۰۰۸ او ۲۰۰۹ میلادي کلونو کې کروندګرو د کوکنارو د لمنځه وړلو کمپاین «په توره شپه کې غلا» وبلله، دوی نیوکه کوله چې دغه کار لنډمهاله دی (یوازې یوه چاپه وي)، په دغو سیمو کې دولت شتون نه لري او خلکو ته خدمات نه وړاندې کېدل، د ۲۰۱۰ میلادي کال په وروستیو کې د نادعلي، ناوه بارکزي او لښکرګاه په هغو سیمو کې چې له کاناله خړوبېدې د دایمی پوځي شتون احساس مخ پر زیاتېدو و. هغه څه ته چې مارټين (۲۰۱۴) «د هر واټ په کونج کې د ایساف یوه اډه»[25] باله په دغو مرکزي سیمو کې ډېر کروندګر پر دې اند وو چې د کوکنارو د لمنځه وړلو احتمال زیات دی او پر دې پوهېدل چې که په زیاته ځمکه کې کوکنار وکري، پر دغو ځمکو به د کارګرو، کیمیاوي سرې او اوبو ډېر لګښتونه وکړي، خو کوکنار به یې لا حاصل ته رسېدلي نه وي چې حکومت او پوځیان به یې لمنځه یوسي.

د هلمند د خوړو زون په دې پړاو کې کروندګرو نه یوازې په هغو سیمو کې د کښتونو لمنځه وړلو څخه وېره لرله چې افغان او ناټو پوځي ځواکونو پکې شتون درلود، بلکې د نیول کېدو او زنداني کېدو له ګواښ څخه هم وېرېدل. د ۲۰۱۰ میلادي کال په مني کې، د ګلاب منګل له خوا د یوه جوړ شوي پلان پر بنسټ کېدای شول چې یو کروندګر د کوکنارو د کرکیلې له امله ونیول شي او زندان ته ولوېږي، کروندګر به تر هغو په زندان کې و چې کورنۍ یې ضمانت کړی وای چې د کوکنارو کرونده به لمنځه وړي، همدارنګه جریمه یې هم پرې کوله.[26]دا پخپله د کوکنارو د کروندو د لمنځه وړلو یو ډول و چې په ۲۰۰۵میلادي کال کې په ننګرهار ولایت کې په بریالي ډول پلي شوی و.[27]د ۲۰۱۰میلادي کال په وروستیو کې د هلمند په زندانونو کې د بندیانو شمېر مخ پر زیاتېدو و او د ولایتي بیارغونې له ټیم سره د زندانونو د شرایطو او د بندیانو د بشري حقوقو په اړه اندېښنې مخ پر زیاتېدو وې.[28] داسې شکایتونه هم وو چې د خلاصون لپاره اخیستل شوې پیسې د بډو بڼه لري او دا کار د کلیوالو او لرې پرتو سیمو د اوسېدونکو او دولت ترمنځ واټن لا پسې زیاتوي.

نیول کېدو او زنداني کېدو پخپله کروندګرو ته هم ډېرې ستونزې راټوکولې. دوی له خپلو موسمي کرنیزو کارونو څخه لرې پاتې کېدل، د کرنې او بزګرۍ کارونه په وخت پوره ترلي وي او کله چې به هوا سړه شوه، د خړوبېدو لپاره به اوبه نه وې او یا هغه وخت چې په پټیو کې د نورو کارونو لپاره زیار ته اړتیا وه او وروسته به یې ترسره کولو امکان نه درلود. زنداني کېدل همدارنګه ددې سبب کېدل چې مېرمنې او ماشومان په ورځو ورځو د کور له نارینه سرپرست پرته پاتې شي او په دې ډول دغه کورنۍ د تاوتریخوالي د بېلابېلو ډولونو لکه حمله، غلا او د نورو پر وړاندې په نامصؤن او زیانمنېدونکي حالت کې واقع کېږي. بالاخره، پخپله زندانیان د زنداني کېدو پر مهال له حملې او بد وضعیت څخه په وېره کې وو او د خلاصون لپاره یې هم باید د پام وړ پیسې ورکړې وای.

د ۲۰۱۰میلادي کال په پسرلي کې هغه مهال په هلمند ولایت کې وضعیت پخپله د کوکنارو د لمنځه وړلو د نورو هڅو له کبله نور هم پېچلی شو، چې دا کار د امریکا د سمندرۍ ځواکونو د اعزامي لواء (MEB) له خوا ترسره کېده، امریکایي ځواکونو له طالبانو د مارجې ولسوالۍ د پاکولو لپاره دا کار کاوه. مارجه پخوا د نادعلي یوه علاقه‌داري وه. دا کار د ګډو عملیاتو په نوم، د عملیاتو پر مهال پلي شو؛ که څه هم دا پلان په رسمي توګه د مارجې د چټک کرنیز بدلون د پروګرام (MATTP) په نامه یادېده. دا نوښت چې د ۲۰۱۰ میلادي کال د اپرېل په وروستیو کې پلي شو او له کروندګرو یې وغوښتل چې هر هکتار کرل شوي کوکنار د ۳۰۰ امریکایي ډالرو په بدل کې پخپله واړوي.[29]

۲۵ مایک مارټين، یوه دوستانه جګړه: د هلمند د شخړې یو شفاهي تاریخ (هرسټ: لندن، ۲۰۱۴)، ۲۴۹ پاڼه.

۲۶ مانسفیلډ، ډ.، السیس لمټډ.، او OSDR. د هم مهاله او پرلپسې خطرونو مدیریت: په مرکزي هلمند کې د ۲۰۰۸ – ۲۰۱۱ کلونو ترمنځ د تریاکو په تولید کې د کموالي په اړه توضیحات. (کابل: د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد، ۲۰۱۱)، ۴۰ پاڼه.

۲۷ مانسفیلډ، ډ. (۲۰۰۵). نفرت که بېوزلي؟ په ننګرهار ولایت کې د ۲۰۰۵/۲۰۰۴ کلونو د کرکیلې په موسم کې د کوکنارو پر کرلو بندیز او د کلیوالي معیشیت پر تګلارو یې اغېزه. د افغانستان په ختیځ کې د بدیل معیشیتونو لپاره د المان د تخنیکي همکاریو پروژه، داخلي ۱۱ شمېره سند، ۷ - ۸ پاڼې.

۲۸ شخصي مراسله، د ولایتي بیارغونې ډلې د#۴۲ پخواني چارواکي، د ۲۰۱۵ کال جولای.

۲۹ د کانګرس څېړنیز خدمات، «افغانستان، مخدره توکي او د متحده ایالاتو پالیسی،» CRS RL ۳۲۶۸۶، د ۲۰۱۰ کال د جولای ۱۵مه نېټه، ۱۵ – ۱۲ پاڼې. https://www.everycrsreport.com/files/۲۰۱۰۰۷۱۵_RL۳۲۶۸۶_۰۷۵c۱۷۹a۶f۴۱a۶d۰eefed۹۴۶۹۱dd۶a۷۹۳۶b۸d۰b.pdf

د مارجې د چټک کرنيز بدلون پروګرام تر ډېره يوه ناسنجول شوې هڅه وه او تر هغه وروسته پلي شو چې په رسنيو کې د امريکايي سمندري ځواکونو انځورونه خپاره شول، په انځورونو کې سرتېري د کوکنارو د ګلانو تر څنګ تېرېدل. په مطبوعاتو کې پر امريکايي پوځيانو نيوکې وشوې چې د کوکنارو د له منځه وړلو په برخه کې هيڅ کار نه دی شوی.[۷۰] د م۲۰۰۲ ميلادي کال په پسرلی کې پر برتانيا له همدې امله نيوکې وشوې چې په هلمند کې د تاوان په بدل کې د کوکنارو کروندې اړوي، د مارجې د چټک کرنيز بدلون پروګرام هڅه وکړه چې د تاوان ورکولو مېکانيزم په بله بڼه واړوي او داسې وښيي چې دوی په دې اړه کروندګرو ته پيسې ورکوي چې هغوی خپله د کوکنارو کروندې لمنځه يوسي او پر ځای يې د سبزيجاتو او مالوچو په څېر د پسرلي يو کښت وکري.[۷۱]دا د پيسو په بدل کې د کوکنارو لمنځه وړل و چې تر بل عنوان لاندې ترسره کېده او د ولايتي بيارغونې ټيم،[۷۲]د امريکا د بهرنيو چارو وزارت د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې او قانون د تنفيذ د نړيوال رياست، والي ګلاب منګل او په کابل کې د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې وزارت غبرګونونه يې را وپارول.

دا نيوکه پرځای وه. په داسې حال کې چې د ۲۰۱۰ ميلادي کال په پسرلي کې طبيعي افتونو کښتونه زيانمن کړل، د کوکنارو د حاصلاتو راټولول د اپرېل د درېيمې اوونۍ په پيل کې بشپړ شول. په دې برخه کې چې ايا کروندګرو خپل کښتونه لمنځه وړي او که نه، د تاييد لپاره اقدام ژر ونشو، له همدې امله هغو کروندګرو ته هم پيسې ورکړل شوې وې چې له کوکنارو يې ترياک لا را ټول کړي وو.[۷۳]پر دې سربېره؛ د مارجې چټک کرنيز بدلون پروګرام له خپل هغه پيغام څخه سرغړونه وکړه چې دوی د قومي مشرانو او ملکانو له لارې يې[۷۴] د ګډو عملياتو له کولو څخه وړاندې خپاره کړي وو. د دې پيغام پر بنسټ کروندګرو ته سپارښتنه شوې وه چې که خلک له ياغيانو د خپلو سيمو د پاکولو په برخه کې د دولت د هڅو ملاتړ وکړي، نو د کوکنارو کروندې به يې لمنځه نه وړلي . په پاليسي کې تغيير او دا غوښتنه چې د نظاميانو له خوا د سيمې تر نيولو وروسته دې کروندګر خپل کوکنار لمنځه يوسي؛ د پخوانۍ ژمنې تر پښو لاندې کولو او د سيمه ييزو خلکو د بېګانه کولو سبب شول.

که خبره را لنډه کړو، نو بايد ووايو چې په هلمند کې د کوکنارو د کرکيلې په ختمولو کې خورا ډېرې او مختلفې خواووې ښکېلې وې، له همدې امله د کوکنارو د کرکيلې د ختمولو لپاره د يوې منسجمې پاليسي چمتو کول ناشوني دي. ان د هلمند د خوړو زون پروګرام چې تمه کېده يو واحد پروګرام به وي، هم واحد پاتې نشو. د کوکنارو پر لمنځه وړلو هغو چارواکو ډېر زړه بايللی و چې غوښتل يې په لنډ مهال کې پخپله د خوښې وړ ساحه يا محدوده کې موخې ترلاسه کړي. دا آند چې د کوکنارو په کرکيلې کې کموالی د زيات کنټرول او «ښو کړنو په پايله کې» رامنځته شوی – که هغه د ولايتي بيارغونې ټيم وي، که يو پوځي عملياتي ځواک، يوه پوځي لېوا يا والي و - نور هم ددې لامل شو چې شرايطو او د شته پاليسي موخو ته له پام کولو پرته د کوکنارو د لمنځه وړلو سيمې پراخې شي.

په پايله کې، د هلمند په خوړو زون کې د کوکنارو د لمنځه وړلو په نښه کولو هڅې ننګوونکې جوَتي شوې. تر هغه مهاله چې د کوکنارو د لمنځه وړلو افغان ځواک/ د کوکنارو د لمنځه وړلو ځواک فعال و، د امريکا د بهرنيو چارو وزارت د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې او قانون د تنفيذ نړيوال رياست غوښتل چې د لمنځه وړل شويو کوکنارو کميت د هکتار له مخې ډېر شي – ان تر دې چې اټکلونه له زياتې مبالغې ډک جوَت شول. دا ډېری پر دې معنا وو چې د امريکا د بهرنيو چارو وزارت د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې او قانون د تنفيذ نړيوال رياست به د کوکنارو د لمنځه وړلو پر ځواک فشار راووړ چې د بغرا ويالې شمال لور ته د پرتو پخوانيو للمي او شاړو سيمو پر لور ودرومي، دغه سيمې د هلمند د خوړو له زون څخه بهر دي. هلته د کوکنارو د کرکيلې تراکم زيات وو، لوجستيکي اسانتياووي په اسانۍ سره چمتو کيدلي او دغو ټولنو په کابل او لښکرګاه کې لږ سياسي نفوذ درلود. همدارنګه دا هغه سيمې وې چې اوسېدونکي يې تر ډېره له اقتصادي پلوه منزوي وو او پراختيايي مرستې ورته نه رسېدې.

۷۰ روډ نورډلنډ، «متحده ايالات د افغانستان په يو ښارګوټي کې ترياک له پامه غورځوي،» نيويارک ټايمز، د ۲۰۱۰ کال د مارچ ۲۰مه نېټه، .https://www.nytimes.com/2010/03/21/world/asia/21marja.html؛ ډيان نيسنبام، «د امريکا د سمندري ځواکونو لپاره د ترياکو يوه بله ننګونه ده،» مکلاچې، د ۲۰۱۰ کال د مارچ ۱۲مه نېټه. https://www.mcclatchydc.com/news/nation-world/world/article24577772.html؛ جيمز کلارک، د ملاتړ د تخمونو کرل: سمندري ځواکونه د کرنيز انتقال له لارې د کښتونو تغير ته لاره هواروي، د سمندري ځواکونو اعزامي لواء، د ۲۰۱۰-کال د اپرېل ۲۰مه نېټه. https://archive.is/I0MT2

۷۱ مارک چېسلم، «سمندري ځواکونه افغان بزګرانو ته پيسې ورکوي چې خپل کښتونه تخريب کړي،» رويټرز، د ۲۰۱۰ کال اپرېل. https://www.reuters.com/article/us-afghanistan-poppy/marines-pay-afghan-farmers-to-destroy-opium-idUSTRE63E1BL20100415 د دفاع وزارت د انځوريزو معلوماتو د وېشنې خدمات، «افغان بزګران د کښتونو د تخريب له امله تاوان ترلاسه کوي،» د ۲۰۱۰ کال د اپريل ۲۹مه نېټه. https://www.dvidshub.net/video/84479/afghan-farmers-get-compensated-their-crops

۷۲ د ولايتي بيارغونې ټيم، «د ولايتي بيارغونې ټيم د ايساف- سمندري ځواکونو اعزامي لواء او د قوماندانانو د بېړني غبرګون پروګرام له خوا د وړو پورونو د ورکړې پروګرام لپاره د بديل سپارښتنه کوي،» ۲۰۱۰.

۷۳ مانسفيلډ، ډ. (۲۰۰۹) «د کښتونو د تخريب د اغېزې مطالعه،» د برتانيې حکومت د افغانستان د مخدره توکو د بين الادارييواحد لپاره ناچاپ شوی راپور، د ۲۰۱۰ کال مې، ۹ – ۱۰ پاڼې.

۷۴ يو قومي مشر.

د وخت په تېرېدو سره والي ګلاب منګل هم غوښتل چې له ويالې واوړي او په پخوانيو للمي او شاړو سيمو کې د کوکنارو کښتونه لمنځه يوسي او په دې ډول پر دغو خلکو او سيمه يې خپله واکمني وښيي. دې موخې ته د رسېدو لپاره د هلمند د خوړو زون پولې وغځول شوې او هغه سيمې پکې شاملې شوې چې اوسېدونکو يې د کوکنارو د کښت بديل نه درلود او دوی په دې دليل له مرستو محروم پاتې وو چې دولتي ځمکې يې غصب کړې دي. په راتلونکې برخه کې به ولولئ چې دې سيمې ته ډېر خلک ځکه له ويالې څخه له خړوبېدونکو سيمو را کډه شوي وو چې هلته د کوکنارو پر کرکيله بنديز لګېدلی و او همدارنګه هلته کمې پراختيايي مرستې ورته رسېدې. دغو سيمو ته تر راتګ او هغه وروسته چې هلته پيل شو، کروندګر پر دې باوري کړل چې له کاناله په خړوبېدونکو سيمو کې د خپلو کښتونو د ساتنې يوازېنۍ لاره دا ده چې خونړۍ مقاومت پيل کړي او که اړتيا يې وي، نو په دې کار کې به د دولت له مخالفينو مرسته غواړي.

د هلمند د خوړو زون په بهير کې د مارجې چټک کرنيز بدلون پروګرام د کوکنارو د لمنځه وړلو د يوې نامناسبې او نامنسجمې پاليسۍ بله بېلګه ده. وروسته تر دې چې کروندګرو ته دا پيغام ورکړل شو چې د دوی د کوکنارو کروندې به لمنځه نه وړي، سمندري ځواکونو له خپلو ژمنو مخ واړوه، افغان چارواکي او مشران يې خلکو ته کم راوستل، ځکه دوی کروندګرو ته ډاډ ورکړی و چې د ګډو عملياتو پر مهال به يې د کوکنارو کروندې خوندي وي. پر دې سربېره د سمندري ځواکونو اعزامي لبوا د پيسو په بدل کې د کوکنارو د لمنځه وړلو داسې پروګرام پلي کړ چې وار له مخه په افغانستان کې بيا بيا ناکام جوَت شوی و. د امريکا د بهرنيو چارو وزارت د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې او قانون د تنفيذ نړيوال رياست، په کابل کې د برتانيا د سفارت، او والي ګلاب منګل پر دغه کار نيوکې وکړې، خو د دغه کار د مخنيوي لپاره هيڅ وسيله نه وه. په واشنګټن کې هم دی آند شتون دلود چې دا د دوی دنده نه ده چې «د يوه ۸,۰۰۰ ميلي پېچکش په واسطه په مارجه کې د وضعيت د مديريت کولو هڅه وکړي.» يوه برتانيوي مرکه کېدونکي د مارجې د چټک کرنيز بدلون د پروګرام په اړه ادعا وکړه:«په دې اړه تر ډېره پوهاوی و چې دا کار به پايله ور نه کړي، خو هيڅا د سمندري ځواکونو مخه نشوه نيولای؛ ان پخپله جنرال پېټرېس.» ۷۵

ددې پايله دا شوه چې د هلمند د خوړو زون نه يوازې د کوکنارو د لمنځه وړلو يوه نامنسجمه پاليسي ولري، بلکې دا زون خپله هم يوه نامنسجمه بڼه غوره کړي. بالاخره؛ د هلمند د خوړو زون موخه دا وه چې پراختيايي مرستې، د کوکنارو لمنځه وړل او همدارنګه د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې په اړه پيغامونه د يوې ګډې ساحې او وګړو پر چاپېر منسجم کړي. دا کار ونشو. په داسې حال کې د هلمند په خوړو زون کې دننه او بهر هر چا د ترياکو د توليد په اړوند د افغان حکومت د تګلارې په اړه خبر درلود او يا ممکن د والي او د هغه د ملګرو له خولې يې د دوی د ولسوالۍ اوسېدونکو ته د پيغام رسونې پر مهال اورېدلي وي، خو د کوکنارو د لمنځه وړلو ګوابښ د مکان او زمان په تېرېدلو سره د پام وړ توپير وموند او ندرتاً يې له هغو کمو خلکو سره اړخ لګاوه چې په حقيقت کې يې د هلمند د خوړو زون د وېشل کېدونکو توکو مرستې ترلاسه کولې. همدا تناقضات او ناجوړښت وه چې په ۲۰۰۹ ميلادي کال کې د برتانيا د حکومت له خوا يوه ترسره کېدونکې بياکتنه دې پايلې ته ورسېده چې»د بديلونو له شتون پرته او يا دا چې لمنځه وړل په يرغليز ډول ترسره شي»د کوکنارو لمنځه وړل زيان رسوونکې اغېزې لري»۷۶ او په ۲۰۱۰ ميلادي کال کې يوې بلې بياکتنې د کوکنارو لمنځه وړل د يوې «پخې الې» په توګه ياد کړ چې»ممکن خلک د حکومت پر وړاندې را وپاوري.» ۷۷خو له دغو ارزونو او همدارنګه هغو ستونزو سره سره چې لا له مخکې يې څرګند بدل پيل شوي وو، د هلمند د خوړو زون پروګرام دوام وکړ، چې ډېر ځله يې متفاوتې او ډېر ځله يې متناقصې پايلې رامنځته کړې، چې په راتلونکې برخه کې به په تفصيل سره بيان شي.

۷۵ شخصي مراسله، د برتانيې يو پخواني چارواکی، د ۲۰۱۲ کال مې.

۷۶ رايټر، م. او ريډ، س. (۲۰۰۹، اګست). د هلمند د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې د پلان بياکتنه. د افغانستان د مخدره توکو د بين الاداري واحد لپاره ناچاپ شوی سند.

۷۷ زبيډی، ګ. (۲۰۱۰، مارچ). د هلمند د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې د ولايتي پلان بياکتنه: دوهم راپور. دا بياکتنه د هلمند ولايتي بيارغونې ډلې د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې د ټيم په سپارښتنه ترسره شوې، ۷مه پاڼه.


## ۶. د هلمند د خوړو زون: پايلې

د هلمند د خوړو زون پروګرام په هلمند ولايت کې د ځينو متنوعو نوښتونو تر څنګ پلي شو چې اړتيا ده د هر يوې اغېزې د هلمند د خوړو زون د ټوليزو اغېزو د څېړلو پر مهال، هم د پلي کېدو په بهير کې او هم د هغه تر پلي کيدو وروسته وڅېړل شي. تر ټولو د پام وړ يې په ټول افغانستان، په تېره بيا په جنوب کې د بغاوت له زياتېدو سره د مبارزې په برخه کې اقدام او د ۲۰۰۹ او ۲۰۱۱ ميلادي کلونو پر مهال په هغه ولايت کې د ملي او نړيوالو ځواکونو د شتون زياتوالی و چې په عام ډول د سرتېرو «د زياتوالي» په نامه مشهور شو.

په ۲۰۰۸ ميلادي کال او ان تر دې وړاندې چې د هلمند د خوړو زون عملي شي او «د سرتېرو زياتوالی» په رسمي بڼه پيل شي، په هلمند کې مخ پر خرابېدو امنيتي وضعيت ددې سبب شو چې د امريکا د سمندري ځواکونو يو کنډک د ګرمسېر ولسوالي ته چې د هلمند په جنوبي برخه کې موقعيت لري، واستول شي. په عين وخت کې، د امريکايي سمندري ځواکونو يو بل کنډک د هلمند په مرکزي ګرشک، موسی کلا او د شمال لور ته نوزاد ولسواليو ترمنځ ووېشل شو. د ۲۰۰۸ميلادي کال په دوبي کې برتانيوي ځواکونه د عقاب د سترګې په نامه عملياتو د يوې برخې په توګه د ګرشک شمال لور ته واستول شول چې د ۴,۰۰۰ برتانيوي، کاناډايي، استراليايي او ډنمارکي سرتېرو لپاره مسير خوندي شي، هغوی دا دنده درلوده چې د هلمند د کجکې بند لپاره يو توربين د هماغه کال په مني کې ولېږدوي. يو بل عمليات«سور خنجر» د ۲۰۰۸ ميلادي په ډسمبر کې وشو چې پکې تر ۱,۵۰۰ زياتو برتانيوي سرتېرو په دې موخه ګډون وکړ چې د نادعلي ولسوالي له طالبانو پاکه کړي.

په ۲۰۰۹ ميلادي کال کې، د پسرلي او دوبي په موسم کې د پوځي عملياتو د تسلسل بڼه چټکه وه: شنه توره، ظفر، د پړانګ چمبه او وروسته بيا خنجر. ددې عملياتو په پايله کې شاوخوا ۴,۰۰۰ برتانيوي، ډنمارکي او استراليايي سرتېري او همدارنګه ۱۱,۰۰۰ امريکايي سمندري ځواکونه د نادعلي او مارجې په څېر د هلمند مرکزي ولسواليو ته واستول شول او دوی ته دنده ورکړل شوه چې په سيمه کې بغاوت ته د پای ټکی کېږدي. بالاخره؛ د ۲۰۱۰ ميلادي کال په فبرورۍ کې د ګډ په نامه عمليات وشول چې پکې ۱۵,۰۰۰ امريکايي، ډنمارکي، برتانيوي او افغان ځواکونو دنده درلوده چې د مارجې ولسوالي پاکه کړي. ددغو عملياتونو ټوليزه اغېزه دا وه چې د وخت په تېريدو سره د هلمند د خوړو زون پروګرام په پلي کېدونکې سيمه کې قاطع پوځي شتون وي؛ هغه څه چې مايک مارټين، چې هغه مهال په هلمند کې يو پوځي سلاکار و او وروسته بيا ليکوال شو، داسې بيان کړل»په هره دوه لاره کې د ايساف يوه اډه«[78] (۹، ۱۰ او ۱۱ شکلونه وګورئ).

۷۸ مايک مارټين، يوه دوستانه جګړه: د هلمند د شخړې يو شفاهي تاريخ (هرسټ: لندن، ۲۰۱۴)، ۲۴۹ پاڼه.




۹ شکل: د شوکاټ اډه. نادعلي، هلمند ۲۰۰۸-۲۰۱۰ملادي کال

دغه نظامي عملیات په پراختیایي برخه کې له لویو پانګونو سره یو ځای پلي کیدې، چې حجم یې هم په مالي لحاظ او هم د پراختیایي او رواني اغېزو له پلوه د هلمند د خوړو زون په پرتله ډېر زیات وو. د پیسو زیاته حصه د زېربناوو؛ په ځانګړي ډول د سړک جوړونې په برخه کې ولګول شوي، خو ترځنګ یې د پوهنې او روغتیا په برخه کې هم پانګونې وشوې چې د ښوونځیو او کلینیکونو د ودانولو په بڼه وې. د بیلګې په ډول؛ د دفاع وزارت د قوماندانانو د بېړني غبرګون پروګرام (CERP) ترڅنګ، چې د زېربنایي پروګرامونو لپاره پام وړ مالي سرچینه ګڼل کېده، د امریکا متحده ایالاتو نړیواله پراختیایي اداره ددې لپاره پراخه شوه چې جنوبي سیمه پکې شامله شي او دري کاله ورته ۱۵۹.۲ ملیونه اضافي امریکایي ډالر ورکړل شول.[۷۹] همدارنګه برتانیا هم په ۲۰۱۰ میلادي کال کې د زېربنایي پروګرام لپاره د ۴۵ میلیونو ډالرو په اندازه مالي مرسته وکړه.[۸۰] د زېربنایي پانګونو په برخه کې د امریکا متحده ایالاتو د نړیوالې پراختیایي ادارې له خوا د بست د هوایي ډګر[۸۱] د جوړېدو لپاره ۱۱.۸ میلیونه امریکایي ډالر او همدارنګه د برتانیا د نړیوالې پراختیا ادارې له خوا ۱۰.۲۴ میلیونه اضافي امریکایي ډالر شامل وو چې پر هوایي اډه او کرنیز صنعتي پارک باندې ولګول شول (۱۲ او ۱۳ شکلونه وګورئ).[۸۲] دغو او نورو ورته پروژو په لښکرګاه کې د نامسلکي په ورځنیو مزدوریو اغېز درلود چې په ۲۰۰۸ میلادي کال کې له ۴ امریکایي ډالرو څخه په ۲۰۱۱ میلادي کال کې تر ۲ امریکایي ډالرو پورې زیاتې شوې.

دوهمه دا چې د کرنې په برخه کې یو لړ پانګونې وشوې چې پکې څوکلن او کلني بڼوالي کښتونه شامل وو. د بیلګې په ډول په ۲۰۰۹ میلادي کال کې، د امریکا متحده ایالاتو نړیوالې پراختیایي ادارې د ۲۰ میلیونه ډالرو په ارزښت یو ملي پروګرام چې له مخې یې کرنیز توکي وېشل کېدل نور هم پیاوړی کړ- د افغانستان په کرنیز تولید کې د زیاتوالي لپار کوپون (AVIPA-Plus)- چې د نړیوالې هوساینې او پراختیایي سازمان له خوا (IRD) پلي شو، چې کندهار او هلمند پکې شامل شي او په دې توګه یوازې دغو دوو ولایتونو ته د دوو کلونو لپاره تر ۲۵۰ ملیونه امریکایي ډالر پیسې اضافه شوې.[۸۳] په عین حال کې، د برتانیا د نړیوالې پراختیا ادارې د هلمند کرنیز او کلیوالي پراختیا پروګرام «د ۳۰ میلیونو امریکایي ډالرو په ارزښت» د هلمند د ودې پروګرام د ۲۱ میلیونه امریکایي ډالرو له لارې پیاوړی شو، چې موخه یې په زېربناوو او خصوصي سکتور کې د پانګونې له لارې له پراختیا ودې سره مرسته وه.[۸۴] پراختیایي لګښت دومره زیات وو چې رنډ سازمان (RAND) اټکل وکړ چې د ۲۰۰۹-۲۰۱۰ میلادي کلونو په بهیر کې نړیوالې ټولنې یوازې په هلمند ولایت کې تر ۲۰۰ ملیونه زیات امریکایي ډالر لګښت کړي دي،[۸۵] په داسې حال کې چې اپر کوارټایل (Upper Quartile) اټکل وکړ چې په ۲۰۰۹ میلادي او ۲۰۱۱ میلادي کال کې پراختیایي لګښتونه تر ۲۵۰ میلیونه امریکایي ډالرو لږ کم وو چې له دې ډلې شاوخوا ۳۰۰ میلیونه یې د لښکرګاه او نادعلي په ولسوالیو کې ولګول شوي.[۸۶]

یو داسې چاپیریال چې په برخه کې یې بېلابېل سازمانونه ښکېل وه او د پام وړ مالي پراختیایي مرستې مصرفېدې او د زیات شمېر سرتېرو لېږلو جریان درلود، ستونزمنه ده چې د هلمند د خوړو زون ته پر کوکنارو له بندیز پرته په بل آند وکتل شي په افغانستان کې په پخوا وختونو کې لګول شویو بندیزونو ته ورته وو. په حقیقت کې، یو شمېر بیاکتنې چې د برتانیا د حکومت له خوا وشوې، دې پایلې ته ورسېدې چې د هلمند د خوړو زون د کوکنارو پر کرکیله ډېر کم اغېز درلود. د بیلګې په ډول، په ۲۰۰۹ میلادي کال کې د کرانفیلډ پوهنتون د سپوږمکۍ پر لوړ کیفیت انځورونه وکارول چې د هلمند په خوړو زون کې دننه او بهر د کوکنارو په کرکیله کې د بدلونونو ارزونه وکړي او دې پایلې ته ورسېد چې» د غله جاتو د کرکیلې په زیاتوالي کې د تخمونو او سرې وېشل نسبت هغو نورو عواملو ته چې د ولایت په لر او بر کې د غله جاتو د زیاتوالي سبب شوي دي، لږ او یا هیڅ اغېز نه دی درلودلی» هغه څه چې د رایډر او ریډ بیاکتنې (۲۰۱۰) په نامه مشهور شو استدلال کاوه چې»د کوکنارو د کرکیلې په نمونو کې د بدلونونو ترشا غالب لامل په ۲۰۰۸ میلادي کال کې د غنمو نسبتاً لوړه بیه وه چې کروندګرو غوښتل د خوړو لګښتونه لږ کړي» او د ۲۰۱۰ میلادي کال په مارچ کې، یوه پلټونکې چې د ثبات جوړونې له واحد سره یې کار کاوه دې پایلې ته ورسېده چې»د هلمند د خوړو زون د کوکنارو د کرکیلې پر ټولیزې کچې او نمونو لږ اغېز درلودلی دی.»[۸۷]

۷۹ د متحده ایالاتو د نړیوالې پراختیا اداره، «د سرمفتش دفتر (۲۰۱۰) د افغانستان جنوبي سیمې ته د ثبات راوستلو په برخه کې د متحده ایالاتو د نړیوالې پراختیایي ادارې د نوښت پلټنه، د پلټنې راپور شمېره F-۳۰۲-۱۲-۰۰۱-P.» د ۲۰۱۱ کال د نوامبر ۱۳مه نېټه، ۱ پاڼه. https://oig.usaid.gov/sites/default/files/۲۰۱۸/۰۲/f-۳۰۲-۱۲-۰۰۱-p.pdf

۸۰ ریلیف ویب. «افغانستان: په هلمند کې د انکشاف لپاره د برتانیې اضافي مالي مرستې،» ۹ مارچ ۲۰۱۰. https://reliefweb.int/report/afghanistan/afghanistan-extra-uk-funding-development-helmand

۸۱ د متحده ایالاتو د نړیوالې پراختیا اداره، «د افغانستان په اسلامي جمهوریت کې د جنوبي سیمې لپاره د متحده ایالاتو د نړیوالې پراختیایي ادارې د بدیل انکشاف د پروګرام (ADP/S) نهایي ارزونه» د ۲۰۱۰ کال د اپریل ۱۹مه نېټه، ۱۹ پاڼه. https://pdf.usaid.gov/pdf_docs/Pdacs۲۳۲.pdf

۸۲ جوناتن واکر، «حکومت پر داسې ناکامه پلان ۸ ملیونه برتانوي پاونډ ضایع کوي چې غواړي د تریاکو کرونکي پر دې قانع کړي چې نوي کاروبارونه پیل کړي،» بیرمنګم پوسټ، د ۲۰۱۴ کال د مارچ ۲۱مه نېټه. https://www.birminghampost.co.uk/news/local-news/government-wastes-۸-million-failed-۲۸۲۰۵۷۹. د لازیاتو جزئیاتو لپاره، وګورئ «بست پروژه (افغانستان)،» د ۲۰۱۴ کال د مارچ ۱۸مه نېټه. https://www.theyworkforyou.com/whall/?id=۲۰۱۴-۰۳-۱۸a.۰,۲۹۳


۸۳ د متحده ایالاتو د نړیوالې پراختیا اداره، د سرمفتش دفتر (۲۰۱۰) د متحده ایالاتو د نړیوالې پراختیایي ادارې د افغانستان د ګټورې کرنې لپاره د کوپونونو (AVIPA) د پروګرام تفتیش (پلټنه)، د تفتیشي راپور شمېره ۵-۳۰۲-۱۰-۰۰۸، د ۲۰۱۰ کال د اپریل ۲۰مه نېټه، ۴ پاڼه.

۸۴ د مرستو د اغیزمنوالی لپاره مستقل کمیسیون، «په افغانستان کې د ودې او معیشت لپاره د برتانیې د نړیوالې پراختیایي ادارې دوه اړخیز ملاتړ، راپور شمېره ۳۱،» د ۲۰۱۴ کال مارچ. https://icai.independent.gov.uk/wp-content/uploads/ICAI-Report-DFIDs-Bilateral-Support-to-Growth-and-Livelihoods-in-Afghanistan.pdf


۸۵ ویلټن پارک، «کنفرانس د ۲۰۱۴ کال وروسته د باثباته کولو په اړه خبر ورکوي: له معاصرو عملیاتو څخه درسونه،» ۲۵ – ۲۷ جون ۲۰۱۴ کال، WP۱۳۳۷.

۸۶ اپر کوارټایل، «د هلمند د مخدره توکو پروړاندې د مبارزې او بدیل معیشت ارزونه،» د بهرنی او مشترک المنافع چارو وزارت لپاره ناچاپ شوی راپور، د ۲۰۱۱ کال فبروری، ۱۲مه پاڼه.

۸۷ ګراهام زبیډی، «د هلمند د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې پلان بیاکتنه: دوهم راپور،» د ۲۰۱۰ کال مارچ، ۱۴مه پاڼه.




۱۰ شکل: د بست هوايي ډګر، ۲۰۰۸–۲۰۱۴میلادي کلونه




۱۱ شکل: د بست صنعتي پارک، ۲۰۰۸–۲۰۱۴ میلادي کلونه

په دې ډول، ډېره اړينه ده چې د هلمند د خوړو زون د يو داسې کتلست په توګه وڅېړل شي چې موخه يې په هلمند ولايت کې دننه په پراخېدونکې سيمه کې د کوکنارو د کرکيلې مخنيوی وي: يعني دا په خپل ذات کې يو سياسي اقدام و، نه پراختيايي. د کوکنارو د پلي کېدو اقتصادي بديلونو وړاندې کول د خوړو زون تر وسه پورته کار و او کله چې به داسې موارد څرګند شول، هغه به په هم مهاله توګه د نورو پلي کېدونکو پروګرامونو د پانګونې پايله وه او تر څنګ يې د حکومتولي او پانګونې په برخه کې د وضعيت د ښه والي اغېز و. خو داسې ممکنه ده چې د کوکنارو له بنديز سره د هلمند د خوړو زون مرستې ته کتنه وشي او دا چې د خوړو زون دننه او بهر وګړو په دې اړه څه ډول غبرګونونه وښودل. دا ځانګړې اهميت لري چې په دې پوه شو چې د کوکنارو په نشتوالي کې کروندګرو څه وکړل؛ د بېلګې په ډول: ايا دوی د معيشت د نورو سرچينو پر لور وخوځېدل؟ ايا دغو تغييراتو په ۲۰۱۲ ميلادي کال کې د هلمند د خوړو زون له پای ته رسېدلو وروسته او بيا په ۲۰۱۴ ميلادي کال کې کله چې نړيوال پوځي ځواکونه ووتل دوام وکړ؟ د لېوالتيا بله ساحه په لويه کې د کوکنارو د بنديز اغېزو ته کتل دي. دې کار څنګه د افغان حکومت، نړيوالې لاسوهنې او بيا وروسته بلواګرو ته د قلمرو له لاسه ورکولو په اړه د کروندګرو پر آندونو اغېزې وکړې.

## ۱.۲ د هلمند په خوړو زون کې دننه

### ۱.۱.۲ له کوکنارو څخه د غنمو پر لور

په ۲۰۰۹ ميلادي کال کې د هلمند په خوړو زون کې دننه او بهر د غنمو کرکيلې په ډراماتيکه توګه زياتوالی وموند. په نړيواله کچه د غله جاتو په مقدار کې لږوالی او تر څنګ يې د پاکستان د حکومت له خوا خيبر پښتونخوا ايالات «چې تر ۲۰۱۰ ميلادي کال پورې د شمال-لوېديځ سرحدي ايالت په نامه يادېده» ته د دې لپاره چې افغانستان ته د غنمو قاچاق محدود شي د غنمو پر لېږد د محدوديتونو لګول د دې لامل شول چې په ټول افغانستان کې د غنمو په بيو کې ډراماتيک زياتوالی راشي. د ۲۰۰۸ ميلادي کال په منځ کې د افغانستان په جنوب کې د يو کيلوګرام غنمو بيه ۰.۷۰ امريکايي ډالروه چې دا د ۲۰۰۷ ميلادي کال کې د ورته مهال په پرتله چې د يو کيلوګرام غنمو بيه ۰.۲۵ امريکايي ډالروه، زياتوالی ښيي. په عين وخت کې له څو پرلپسې کلونو زياتې کرکيلې وروسته چې د طالبانو له خوا د ۲۰۰۰/۲۰۰۱ ميلادي کال د کوکنارو د کرکيلې په موسم کې د بنديز له امله د کوکنارو بيې لوړې شوې وې، دا بيې په نابېره توګه راټيټې شوې. د ۲۰۰۸ ميلادي کار تر نيمايي پورې، تر دې وړاندې چې د هلمند د خوړو زون پروګرام پلي شي، د يو کيلوګرام ترياکو بيه ۷۰ امريکايي ډالرو ته راټيټه شوه، چې دا د يو کال مخکې په پرتله چې ۱۲۰ امريکايي ډالروه او د م۲۰۰۱ ميلادي کال په پرتله چې د طالبانو حکومت سقوط وکړ او د يو کيلوګرام ترياکو بيه ۵۰۰ ډالره وه، د پام وړ ټيټوالی ښيي.

۳ جدول: د هلمند د خوړو په زون کې دننه او بهر کرل شوې ځمکې ۲۰۰۷ – ۲۰۰۹ ميلادي کلونه(هکتارونه) ۸۸


| | ۲۰۰۷ (هکتار) | ۲۰۰۸ (هکتار) | ۲۰۰۹(هکتار) | ۲۰۰۸ څخه ۲۰۰۹ ته تغير (هکتار) | ۲۰۰۸څخه ۲۰۰۹ ته تغير (سلنه ٪) |
|---|---|---|---|---|---|
| د خوړو زون دننه | | | | | |
| کوکنار | ۳۸,۲۳۵ | ۳۳,۹۳۷ | ۲۱,۴۵۲ | -۱۲,۴۸۵ | -۳۷٪ |
| غله جات (حبوبات) | ۱۵,۹۲۴ | ۱۸,۲۰۳ | ۳۲,۵۹۱ | ۱۷,۹۸۷ | ۹۷٪ |
| نور | ۴۰,۴۸۸ | ۴۵,۵۱۴ | ۳۲,۲۸۵ | -۲,۸۲۹ | -۱۵٪ |
| فعاله کرنيزه ځمکه | ۹۴,۲۴۲ | ۹۸,۰۵۴ | ۹۲,۷۲۸ | -۱,۳۲۲ | -۱٪ |
| د خوړو له زون څخه بهر | | | | | |
| ترياک | ۵۰,۴۱۸ | ۴۹,۸۷۲ | ۵۳,۲۲۴ | ۳,۷۵۲ | ۸٪ |
| غله جات (حبوبات) | ۲۳,۳۳۹ | ۲۴,۲۸۹ | ۴۸,۹۰۲ | ۲۴,۲۱۳ | ۹۸٪ |
| نور | ۱۱۱,۱۰۵ | ۱۱۴,۵۵۷ | ۱۰۷,۹۲۲ | -۲,۵۹۲ | -۲٪ |
| فعاله کرنيزه ځمکه | ۱۸۴,۲۸۱ | ۱۸۹,۱۱۸ | ۲۱۰,۴۸۸ | ۲۱,۳۷۰ | ۱۱٪ |

۸۸ د کرانفيلډ پوهنتون (۲۰۰۹)، «د ۲۰۰۷ کال څخه تر ۲۰۰۹ کال پورې په هلمند کې د ترياکو او غله جاتو کرکيله.» ناخپور شوی راپور، ۲۴مه پاڼه.

دغه په اصطلاح له غنمو څخه د کوکنارو پر لور بدلون د کرکیلې پر بهیرینو یو د پام وړ اغېز وکړ. د افغانستان په نورو برخو لکه په مرکزي او شمال ختیځو سیمو کې چې د کوکنارو حاصلات تر ډېره کم و، یو کروندګر کولای شول د خپلې کورنۍ لپاره هر څومره غنم چې اړتیا وي پر خپله ځمکه باندې وکري ددې په نسبت چې کوکنار وکري او د هغه د حاصل په پیسو اوړه رانیسي. په هلمند کې د کوکنارو د زیاتې خوارۍ کښت ماهیت ته په کتو سره د کوکنارو په نرخ کې نسبي بدلون په دې معنا و چې د غنمو او کوکنارو خالصې ګټې سره برابرې شي. خو تر ګټې زیات اړین عنصر د خوړو د خوندیتوب په اړه اندېښنې وې، په ځانګړې توګه په داسې مهال کې چې د غنمو بیې مخ پر زیاتېدو وې او په جنوب لوېدیځ کې تاوتریخوالي کروندګرو او سوداګرو ته دا ستونزمنه کړه چې په بازار کې غنم وپلوري. هغه مهال په مرکزي هلمند کې کروندګرو په بازار کې او له ګاونډیانو څخه د غنمو د پېرلو په برخه کې له شته ننګونو سر ټکاوه.[89] ان خلکو د ځمکو د خاوندانو او شریکو کښتګرو کروندګرو ترمنځ ددوی د غنمو د ونډې پر سر د خونړیو جګړو بیلګې هم وړاندې کولې.[90]

له کښتونو څخه اخیستل شوو نقشو ددې ادعا ملاتړ وکړ چې د هلمند د خوړو زون دننه او بهر کروندګرو په ډراماټیکه توګه د غنمو کرکیلې ته مخه کړې. د بیلګې په ډول، د **۲۳** څېړنیزو ساحو د انځورونو شننې وښودله چې د غنمو د کرکیلې لپاره د ځانګړو شویو ځمکو اندازه د **۲۰۰۸** او **۲۰۰۹** میلادي کلونو ترمنځ دوه چنده شوې ده. له دې پرته چې ولیدل شي حالات څه ډول دي؟ ایا کروندګرو د غنمو اصلاح شوي تخمونه ترلاسه کړي دي؟ یا دا چې دوی د کوکنارو د لمنځه وړل له ګواښ سره مخامخ وو؟[91]

د نادعلي، ناوه بارکزي او نهر سراج په ډېرو سیمو کې کروندګر په دې آند و چې په **۲۰۰۹** میلادي کال کې د کوکنارو د لمنځه وړل لړ ګواښ شته او د **۲۰۰۸** او **۲۰۰۹** میلادي کلونو په بهیر کې په ډېرو سیمو کې د کوکنارو د لمنځه وړل لړ شواهد شتون لري.[92] له دې حقیقت سره سره چې دوی د کوکنارو د لمنځه وړلو څخه وېره نه درلوده، د **۲۰۰۸/۲۰۰۷** او همدارنګه د **۲۰۰۹/۲۰۰۸**




**۱۲ شکل: په مالګیر کې د کرنې بېلګې، نهر سراج، هلمند، ۲۰۰۸ – ۲۰۱۸ میلادي کلونه**

۸۹ «په ۲۰۰۸/۲۰۰۷ کلونو کې، ما پر خپله ځمکه شپږ جریبه تریاک او یوازې یو جریب غنم وکرل. دې غنمو زما د کورنۍ لپاره بسنه نه کوله. د لو پر مهال ما له خپلو ګاونډیانو څخه وغوښتل چې خپل غنم پر موږ وپلوري، ځکه په ښار [لښکرګاه] کې د غنمو بیه ډېره زیاته لوړه وه. موږ هغه مهال په ښار کې د غنمو د پیرودلو لپاره کافي پیسې نه درلودې ځکه تریاک مو لاهم تازه وو او که مو خرڅ کړی وای نو په ټیټه بیه به مو ورکول. خو زما ګاونډیانو ددې کار څخه ډډه وکړه. زه اړ شوم چې په لښکرګاه کې د اوړو د اخیستلو لپاره له بل چا پیسې پور کړم. په ۲۰۰۹/۲۰۰۸ کلونو کې، ما پرېکړه وکړه چې درې جریبه تریاک او څلور جریبه غنم وکرم چې بیا له داسې ستونزې سره مخ نشم. سږ کال [۲۰۱۰/۲۰۰۹]هم ما همدا ډول کښتونه کرلي.» (#۴ نادعلي، هلمند، ۲۰۱۰)

۹۰ مانسفیلډ، ډ.، السیس لمټډ.، او OSDR. د هم مهاله او پرلپسې خطرونو مدیریت: په مرکزي هلمند کې د ۲۰۰۸ – ۲۰۱۱ کلونو ترمنځ د تریاکو په تولید کې د کموالی په اړه توضیحات. کابل: د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد، ۲۰۱۱)، ۴۷ پاڼه.

۹۱ مانسفیلډ، ډ.، السیس لمټډ.، او OSDR. د هم مهاله او پرلپسې خطرونو مدیریت: په مرکزي هلمند کې د ۲۰۰۸ – ۲۰۱۱ کلونو ترمنځ د تریاکو په تولید کې د کموالی په اړه توضیحات. کابل: د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد، ۲۰۱۱)، ۱ ضمیمه.

۹۲ پدې کې د والي په مشرۍ (GLE) د کښتونو د تخریب او همدارنګه د مرکز له خوا اداره کېدونکې د تریاکو د تخریب ځواکونه (PEF) شامل وو.


میلادي کلونو په بهیر کې کروندګرو په کوکنارو د کرل شویو ځمکو اندازه کمه کړه او زیات غنم یې وکرل. ان د ۲۰۰۹ میلادي کال په نومبر کې، د نادعلي او نهر سراج په لرو امنو سیمو کې چې د حکومت واکمني محدوده وه، داسې کروندګر هم وو چې کښتونه یې هیڅکله لمنځه یوړل شوی نه وو او د کوکنارو د لمنځه وړل یې وېره یې هم نه درلوده خو سره له دې یې هم د کوکنارو د لږ تولید په بیه غنم کرلي وو (۱۴ او ۱۵ شکلونه وګورئ).

د غنمو د لوړېدونکو بیو په اړه اندېښنې تر دې حده زیاتې وې چې د هلمند په خوړو زون کې دننه؛ ان په هغو سیمو کې چې په تاریخي ډول پکې په لږه اندازه کوکنار کرل کېدل، لکه د لښکرګاه د بولان او مهاجرین په نامه سیمو کې، په ۲۰۰۹ میلادي کال کې خلکو خپل د غنمو کښتونه زیات کړل (۱۲ شکل وګورئ). دا چې پر لږه ځمکه کوکنار وکرل شول، په دې سیمه کې کروندګرو دغه کار د پسرلي د کرکیلي په بیه ترسره کړ، چې پکې د لوړ ارزښت لرونکي کرنیز کښتونه شامل وو. په دې توګه د هلمند د خوړو زون اقداماتو په لومړي کال کې د کوکنارو د کرکیلي پر کچو باندې کم اغیز درلود؛ یعني کروندګرو لا له مخکې د کوکنارو کروندو ته شا ګرځولې وه او د خوړو د خوندیتوب په اړه د اندېښنو له امله یې د غنمو کرکیلي ته مخه کړې وه، ان په ځینو سیمو کې یې دا کار د لوړ ارزښت لرونکو مشروع کښتونو لکه سبزیجاتو او میوه جاتو په بیه ترسره کړ.


## ۲.۱.۲ اړین، خو ناکافي

د خوړو د خوندیتوب پر وړاندې د غبرګون په ډول، د غنمو په کرکیله کې زیاتوالي نه پر اقتصادي ودې دلالت کاوه او نه د هلمند په خوړو زون کې دننه د کوکنارو د کرکیلې د پرېښودلو د دوامداره انتقال په معنا و. په نورو کلونو کې، په کلني ډول کرل کېدونکي غنم تل له کوکناروش سره بدلېدلای شول، هلته تل دې ګواښ شتون درلود چې کروندګر به د کوکنارو کرکیلې ته مخه کړي. پر دې سربېره؛ د یو نغدي عاید د رامنځته کوونکي کښت پر ځای د خوړو د یوه کښت په ډول د غنمو لوړه بیه معمولاً د زیاتې ګټې سبب نه کېده، بلکې د کورنۍ لپاره یې د خوړو د یوه لوړ بدیل ارزښت درلود. یوازې هغو کروندګرو چې اضافي غنم یې تولید کړي وو – چې تر ډېره د ځمکې له اندازې، د ځمکې له اجورې او همدارنګه د کورنیو د غړو له شمېر سره تړاو لري – وکولای شول چې د غنمو له لوړېدونکو بیو څخه ګټه ترلاسه کړي. ان په داسې حالاتو کې هم د ګټې اندازه ډېره کمه وه ځکه چې د پاکستان او قزاقستان ترمنځ د غنمو پر سر سیالیو شتون درلود. دې دواړو هېوادونو په لوړ کیفیت اوړه تولیدول او نرخونه یې تر ډېره د دولتي سبسایډي په مرسته ټیټ وو.

ددې لپاره چې کروندګر په دایمي ډول د غنمو کرکیلې ته مخه کړي او د ۲۰۰۹ میلادي کال په څېر چې د پوځیانو شمېر پکې زیات شو د نظامي ځواکونو دایمي شتون ته اړتیا نه وي او یا هم د ګواښ کچه تر هغه حده پورې و نه رسېږي چې ممکن له بغاوت سره مرسته وکړي، یو عملي اقتصادي بدیل ته اړتیا لېدله کېږي. د هلمند په برخه کې دا پر دې معنا ده چې یا باید یو نغدي عاید لرونکی کښت چې زیاته ګټه ورځخه ترلاسه شي رامنځته شي او یا هم له کرنې پرته نورې عایداتي سرچینې وپلټل شي. له همدې امله هغه محدود اغېزونه، په سترګو




۱۳ شکل: په شین کلي کې د کرنې بېلګې، نادعلي، هلمند، ۲۰۰۸ – ۲۰۱۸ میلادي کلونه





۱۴ شکل: په بولان کې د کرنې بېلګې، نادعلي،
هلمند، ۲۰۰۸ – ۲۰۱۸ میلادي کلونه

لیدل کېږي چې د هلمند د خوړو زون د نه پاينښت سبب شول د بيلګې په ډول؛ ساحوي کار او په لوړ کيفيت د سپوږمکۍ انځورونه د نورو زيات ارزښت لرونکو کښتونو د خپلولو په برخه کې جغرافيايي او زماني محدودديتونه رابرسېره کوي (ضميمه وګورئ). په داسې حال کې چې د ولايت له مرکز لښکرګاه سره نږدې په ښکاره داسې سيمې شته لکه بست کلا او بولان چې د غنمو د بيو تر ټيټوالي او پر کوکنارو د بنديز تر لګولو وروسته يې لوړ ارزښت لرونکو متنوع کښتونو ته مخه کړه، خو کله چې نورې ځېږنې وشوې نو د هلمند د خوړو زون په محدوده کې دننه او تر هغه هاخوا په هغو وچو سيمو کې چې يو مهال صحرايي ځمکې وې د داسې ساحو لږ شواهد تر سترګو کېږي.

په هغو سيمو کې چې له لښکرګاه څخه لرې موقعيت لري، د بولان او بست کلا په څېر د بازار ښېګڼې په يوه کې هم نه تر سترګو کېږي؛ د ترانسپورټ لګښتونه لوړ دي – په ځانګړي ډول د ناامنۍ پر مهال - ځمکه يې نرمه او تر ډېره مالګينه ده. د لښکرګاه او تر يوه حده د ګرشک ولسوالۍ د وګړو نفوس ته په کتو، په دغو سيمو کې د زيات ارزښت لرونکو کرنيزو فصلونو لپاره تقاضا محدوده ده او همدارنګه د بست کلا او بولان په شان سيمو کې بېوالي عامه ده او توليدات يې زيات دي. د لوی باغ، دشت شرشرک او دشت عينک په شان پخوانۍ صحرايي سيمې د کانال په واسطه نه خړوبېږي، بلکې د تر ځمکې لاندې اوبو له سيستم څخه د واټر پمپ په واسطه او يا د هغو ژورو څاګانو په واسطه چې د ځمکې تر سطحې ۹۰ متره لاندې کيندل شوې دي خړوبېږي. په دې ډول، په پخوانيو للمي او شاړو سيمو کې د کرنيز توليد لګښت لوړ دی او د کوکنارو يا بل داسې کښت په نشتوالي کې چې معقوله او خوندي ګټه ور څخه ترلاسه شي، ځمکې تر ډېره ناکرل شوې دي ځکه کروندګر نشي کولای د ځمکو د خړوبولو لګښتونه پوره کړي.

په دغه ډول دواړو سيمو کې د لګښتونو د کښت پرېښودلو لنډمهاله او بې ثباته بڼه درلوده. په دغو سيمو کې به د ژمي د کرکيلې په موسم کې کوکنار معمولاً د غنمو د زياتې کرکيلې تر سيوري لاندې راتلل او وروسته بيا د پسرلي په موسم کې د مالوچو يا خټکيو/هندوانو په اضافي کښت سره بدلېدل. د دوبي په موسم کې به جوار او مميلي کرل کېدل (۱۷ شکل وګورئ). د بولان او بست کلا د څېړنيزو ساحو برعکس چې له لښکرګاه سره نږدې پرتې وې ، په هغو سيمو کې چې د هلمند د خوړو له زون څخه لرې پرتې وې، د پروګرام پر مهال او د هغه تر پای ته رسېدو وروسته د پسرلي او دوبي په موسمونو کې د لوړ ارزښت لرونکې کلنۍ پالېزوانۍ په کښتونو کې ډېر لږ زياتوالی تر سترګو کېده. ځينو کسانو داسې بوټې وکرل چې په څو کلونو کې حاصل ورکوي، په ځانګړي ډول د انارو او انګورو په شان ميوې، خو دا کار په پراخه پيمانه نه ترسره کېده او يوازې تر ځمکه لرونکو کسانو پورې محدود وو.




**۱۵ شکل:** د مارجې په F4D5 کې د کرنې بېلګې، نادعلي، هلمند، ۲۰۰۸ – ۲۰۱۸میلادي کلونه

| کښتونه | | ځمکه (جریبونه) | حاصل (من/جریب) | خرڅ شوی (من) | نرخ (امریکایي ډالر) | ګټې (امریکایي ډالر) |
|---|---|---|---|---|---|---|
| منی | | | | | | |
| | غنم | ۲ | ۲۱۵ | ۹۰۰ | ۱.۳۲ | ۱۲۲۴ |
| | مالوچ (پنبه) | ۳ | ۱۷۰ | ۵۱۰ | ۳ | ۱۵۳۰ |
| | هنګ | ۱ | | ۰ | | ۰ |
| دوبی | جوار | ۴ | ۱۲۰ | ۲۰۰ | ۰.۸۲ | ۵۱۲ |
| | مميلي | ۲ | ۲۵ | ۵۰ | ۲.۵۵ | ۱۲۷.۵ |
| ټولګه | مجموعي عاید | | | | | ۳،۳۹۷.۵ |
| | مجموعي عاید/ورځ | | | | | ۹.۳۱ |
| | ناخالص/عاید/کس/ورځ | | | | | ۰.۹۳ |

د ژمي په میاشتو کې د غنمو د کښتونو نمونې، چې یوه اندازه ځمکه د مالوچو او هندوانې/خټکې د کرکیلې لپاره پرېښودل کېږي او ورپسې د پسرلي په موسم کې د پلیو او جوارو کښتونه کرل کېږي دا سې څه دي چې له ګواښ سره د مبارزې له امله یې دا ښه غوره کړې، نه دا چې د ډېرې ګټې اړه کرل کېږي. له هندوانې/خټکې پرته نور ټول کښتونه، نسبتاً ټيټې بيې لري، خو د کورنۍ ګټې اخيستنې لپاره يې ارزښت زيات دي. کېدای شي دا کښتونه په بل وخت کې د خرڅلاو لپاره وساتل شي او د دوی د خړوبولو او لو وختونه د ډېرو نورو کښتونو په شان حساس نه دي او کروندګرو ته دا فرصت ورکوي چې د جګړې او ناامنۍ پر مهال خپل کرنيز فعاليتونه وځنډوي. خو دا ډول کښتونه يوې کورنۍ ته بسنه عايد نه ورکوي چې له دې لارې خپلې اساسي اړتياوې پوره کړي (۱۸ شکل وګورئ).

که څه هم د هلمند د خوړو په ټول زون کې زیات ارزښت لرونکي کرنيز توکي ډېر څرګند نه دي، خو داسې سيمې هم شته چې يو ډراماتيک بدلون پکې رامنځته شوی دی. بولان په ځانګړي ډول په پسرلي او دوبي کې د سبزيجاتو د کښتونو يوه پياوړې سرچينه شوه چې په ۲۰۱۸ ميلادي کال کې يې هم دوام وکړ او کوکنارو ته د مخ اړولو نښې پکې نه ليدل کېږي. د کوکنارو پر ځای؛ په دې سيمه کې کروندګر د حکومتولي او هغو اقتصادي فرصتونو په اړه خبرې کوي چې د امنيت له برکته رامنځته کېږي. لکه چې يوه بزګر لښکرګاه ته نږدې په بست کلا کې وويل»ددې حکومت له برکته موږ يو ښه ژوند او اقتصاد لرو.« ۹۳ دا يو داسې آند دی چې د بولان په ټوله سيمه کې يې خلک لري.


هغه بېلابېل کښتونه چې په دغو سيمو کې په پسرلي، دوبي او مني کې کېږي د پام وړ دي. د دغو کروندګرو له ډلې ډېرو يې د لږ اندازه غنمو – هغه يې هم که کرل - ترڅنګ، له شپږو څخه تر اتو پورې بېلابېل ډوله سبزيجات کرل. د هلمند په خوړو زون کې دننه د وچو او زياتو لږ پرتو سيمو په نسبت، په دغو سيمو کې جوار او پلی په ندرت سره کرل کېدې او د اوړي سبزيجات لکه ګازرې، رومي بانجان، شلغم، ګلپي او موليو ته ترجيح ورکول کېده، چې د غه هر کښت د يو جريب ځمکې پر سر لږ تر لږه ۲۲۰ ډالره ناخالص عايد ګټل. ۹۴ ان په ۲۰۱۸ميلادي کال کې هم د ۲۰۱۴ ميلادي کال په شان چې له هلمند څخه د ناټو ځواکونو وتل څرګند وو، زيات فشار شتون نه درلود.

د ژمي او پسرلي د موسم د کښتونو ګټې معمولاً زياتې وې. د بېلګې په ډول؛ په ۲۰۱۳ ميلادي کال کې ممکن له يو جريب ليږو، پيازو او روميانو ۷۷۵ امريکايي ډالر ناخالص عايد ترلاسه شوی وای. ۹۵په څلورو فصلونو کې د کرکيلې له شونتيا او همدارنګه له شنو خونو او له موسم وروسته کرکيلې سره -يوه داسې چاره چې هم د پراختيايي مرستو د سازمانونو او هم د خصوصي سکتور له خوا ورسره مرسته کېږي - عوايد نور هم زيات شول. پر دې سربېره، لښکرګاه چې د دغو کرنيزو توکو لپاره ابتدايي بازار ګڼل کېږي او نږدې دی، کروندګر پکې د حاصلاتو د لېږد په برخه کې له ترانسپورټي ستونزو او د خوسا کېدو له هغه ګواښ سره چې د هلمند د خوړو زون نورې برخې ورسره په ځانګړي ډول د شديدو جګړو پر مهال چې بازار ته د لو شويو توکو د په ځنډ رسېدلو له امله هغوی ته د پام وړ زيانونه اوړي، نه وو مخامخ. دا هغه سيمې وې چې ان د کوکنارو په نشتوالي کې د غالبو ټولنيزو -اقتصادي، سياسي او چاپېريالي شرايطو او په ځانګړي ډول د لښکرګاه لومړي بازار ته د نږدېوالي له امله يې د ودې امکانات لرل.

۹۳ قلعه بست# ۳.

۹۴ د ځمکې د اندازه کولو واحد چې يو ايکړ يا هکتار ته ورته دی.

۹۵ ډيوېډ مانسفيلډ، «له ځمکې پورته: د څه باندې يوې لسيزې ‹دولت جوړونې› وروسته د هلمند کليوالی خلک چېرته ولاړ دي،» د افغانستان د مخدره توکو د بين الاداری واحد لپاره ناچاپ شوی راپور، د ۲۰۱۴ کال د مې ۲۱مه نېټه.




۱۲ شکل: د هغو کورنیو ناخالص عاید چې د هلمند په خوړو
زون کې یې د بزګرۍ سیستم متنوع(ګڼ) کړی نه دی.

### ۳.۱.۲ له بزګرۍ پرته د عاید ارزښت

حقیقت دا دی چې ان د یو ډول پیچلي او نسبتاً مکافاتي کرنیز سیستم پر لور د بدلون لپاره چې د بولان او بست کلا په څېر سیمو کې لیدل کېدای شي، ډېرې کورنۍ اړتیا لري چې د دوی د اوسني عاید ترڅنګ یو بل اضافي عاید هم ولري چې د عاید هغه سطحه برقراره وساتي چې نه یوازې د دوی اساسي اړتیاوې پوره کوي، بلکې داسې یوه عایداتي زمینه چمتو کوي چې په مرسته یې کورنۍ د ژوند د ښېښنو لپاره پیسې وسپموي لکه کوژدې، ودونه « چې ممکن له ۲,۲۰۰ څخه تر ۸,۸۰۰ امریکایي ډالرو پورې لګښت ولري» او ددې وس ومومي چې د ژوندانه د ځینو ټکانونو یا نابېره پېښنو لکه ناروغیو یا مړینې لګښت پرې کړای شي او همدارنګه په ممکنه ګټورو کاروبارونو لکه د ځمکې پېرودلو، وړو کسبونو، مالداري او یا هم د لوړو زده کړو په موخه د ماشومانو د لېږلو په خاطر د پانګونې لپاره په بسنه اندازه پیسې ولري.

له همدې امله هغه کسان چې له لښکرګاه سره نږدې اوسېږي، یو څو نورې ګټې هم کوي او هغوی چې لرې پراته دي یو څه ډېر زیانونه کوي. د بېلګې په ډول؛ په بولان او بست کلا کې ډېرې لږې کورنۍ شته چې د کور یو داسې غړی نه لري چې له بزګرۍ پرته بل عاید لري. که څه هم هغه په لښکرګاه کې د نامسلکي کارګر په ډول د کور یوازېنی غړی وي، ځکه دا په ۲۰۱۸ میلادي کال کې په ورځ کې د اضافي ۴.۳۰ ډالرو عاید ګټلو په معنا دي، البته دا د ۲۰۱۲میلادي کال په پرتله کله چې د مزدور د ورځې عاید **۵.۵۰** ډالره و ټیټوالی ښیي او د کورنۍ له ټولیز عاید سره یوه ارزښتناکه مرسته کوي. ډېر ځله، د کورنۍ یو بل غړی زرنج[۹۲] لري «چې په ورځ کې له **۴.۵** څخه تر ۱۱ امریکایي ډالرو پورې ګټې»، ټیکټر په کرایه ورکوي«چې په یو فصل کې له **۷۳۰** څخه تر ۹۱۰ امریکایي ډالرو پورې عاید لري»، یوه هټۍ لري«چې د میاشتې له **۱۵۰** څخه تر **۳۲۰** امریکایي ډالرو پورې عاید لري» او یا هم یوه دولتي دنده لري (چې د میاشتې **۲۵۵** امریکایي ډالره معاش ترلاسه کوي) چې په دې ډول د کورنیو عاید نور هم زیاتېږي.

د یادونې وړ ده چې یوې کورنۍ ته له کښت پرته له نورو لارو څخه د عاید ګټل یوازې د پیسو د ترلاسه کولو په معنا نه دي؛ بلکې دا د عاید ټولګه ده چې د کورنۍ یو ځانګړی غړی یې د کار په پایله کې لاسته راړوي. هغوی چې د کورنۍ یو غړی یې په بازار کې کار کوي، اړینه نه ده چې کوم ډول کار کوي – د خوراکي توکو لکه غوښه او تازه میوه هم واخلي چې دغه شیان یو مهال تجملي توکي ګڼل کېدل او یوې کورنۍ به یوازې هغه مهال خوړلای شول چې د کورنۍ یو غړی به بازار ولاړ، بازار ته د تللو لپاره یې باید کرایه ورکړې وای، ممکن په لاره کې ترې په بډو کې پیسې اخیستل شوې وای او له فزیکي زیان او ګواښ سره مخ شوی وای، په تېره بیا چې په سیمه کې به جګړه توده وه. په **۲۰۱۳** میلادي کال کې دې هر څه ته له دې امله لاسرسی ډېر اسان و چې د یوې کورنۍ زوی یا ورور به په بازار کې کار کاوه او د ورځې په پای کې به یې له بازار څخه غوښه او کله ناکله تازه میوه راوړه.[۹۷]

خو د لښکرګاه له شاوخوا سیمو څخه ور هاخوا، دغه فرصتونه ډېر لږ او ترلاسه کېدونکي عواید هم کم وو. همدارنګه، فزیکي او ټولنیزو زېربناوو ته لاسرسی چې ښار ته د نږدېوالي په سبب ځینو کسانو ورڅخه د ګټې اخیستنې فرصت درلود او د ژوند د ښه کولو لپاره یې ترې کار اخیست، په دغو سیمو کې نه و. پر دې سربېره؛ په دغو سیمو کې د ډېرو بحثونو پر مهال کروندګرو؛ ان هغو خلکو چې له لښکرګاه ۱۰ کیلومتره لرې اوسي لېوالتیا درلوده چې په جغرافیایي او کلتوري برخو کې له لښکرګاه سره خپله فاصله وښیي. دا یو داسې ځای دی چې خلک په دې اړه چې قومي مشران، ملکان او ان دا چې افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونه « ور ننبنتي» او یا چارواکي «پکې پټېږي»؛ خبرې کوي. دا «لښکرګاه» یو داسې ځای دی چې د ناروغۍ پر مهال د کورنۍ غړي د درملنې لپاره ورځي او یا هم شتمنې کورنۍ د دوی ماشومان هلته د نورو او لوړو زده کړو لپاره لېږي، یعنې د لرې پرتو سیمو خلکو ته لښکرګاه یو اشنا ځای نه دی. پر ښار او ولایت واکمنو ته د داسې کسانو په سترګه کتل کېږي چې د لرې پرتو سیمو له کروندګرو سره کوم ګډون نه لري او وروسته تر دې چې په ۲۰۱۷میلادي او ۲۰۱۸میلادي کلونو کې د افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو له لوري د سیمو د نیولو په خاطر د نویو هڅو په پایله کې د تاوتریخوالي کچه زیاته شوه، د لرې پرتو سیمو خلکو له سترګو لښکرګاه نوره هم ولوېده. د مارجې، نادعلي او نهر سراج په څېر ولسوالیو کې د کروندګرو او حکومت او د دوی د ارزښتونو ترمنځ د واټن احساس نور هم زیات شو.


۹۲ د ټکسي په څېر د ټرانسپورټ یوه وسیله.

۹۷ زرغون کلی# ۱۱.

## ۴.۱.۲ د کوکنارو د کرکیلې بیاځلي ظهور (څرګندېدل)

په هلمند کې د کوکنارو د کرکیلې سطحه، ان د هلمند د خوړو زون په ساحه کې دننه، د بېلابېلو عواملو تابع وه. د ۲۰۰۸م او ۲۰۱۱ میلادي کلونو ترمنځ، د هلمند د خوړو زون د کوکنارو د ټیټې کچې له کرکیلې سره تړلی بلل کېده، چې تر ډېره په پورته کې د بیان شویو عواملو تابع وو. تر ۲۰۱۲میلادي پورې، د هلمند د خوړو زون په اصلي ساحه کې دننه د کوکنارو کرکیله یو ځل بیا زیاته شوه (۲۰ شکل وګورئ)، چې وروسته بیا یوازې د دربېو پرلپسې کلونو د لړ حاصل ـ په ځانګړې ډول په هلمند او جنوب کې ـ له امله دا زیاتوالی تم شو. په ۲۰۱۷ میلادي کال کې، د هلمند د خوړو زون پروګرام له پای ته رسېدو پنځه کاله وروسته و او بیا درې کاله وروسته چې بهرني ځواکونه له دې ولایت څخه ووتل، د کوکنارو د کرکیلې کچه یو ځل بیا زیاته شوه، دا ځل زیاتوالي ډراماتیکه بڼه درلوده.

۱۷ شکل: په هلمند او د هلمند په خوړو زون کې د کوکنارو کرکیله، ۱۹۹۹ – ۲۰۱۸میلادي کلونه




په خواشینۍ سره چې د ۲۰۱۳ او ۲۰۱۲میلادي کلونو د سپوږمکۍ د لوړ کیفیت انځورونو شننې د ټولو څېړنیزو ساحو په برخه کې د لاسرسي وړ نه و چې د هرې سیمې لپاره د کوکنارو د عاید له جلا انځور سره مرسته وکړي. خو په دې سیمو کې ترسره شوی ساحوي کار د دغو کلونو ترمنځ د معلوماتو د نشتوالي تشې یو څه ډکوي.

څه چې لیدل کېږي او د مارجې د A ۲ Block څخه اخیستل شوې نقشه یې تائیدوي (۲۱ شکل وګورئ)، او همدارنګه د ولسوالۍ د مرکز د شاوخوا سیمو له واضحو انځورونو څخه ښکاري (۲۲ شکل وګورئ)، هغه په ابتدایي ډول د ۲۰۱۳ او ۲۰۱۴میلادي کلونو په لومړیو کې د کوکنارو کرکیلې ته مخه کول دي، څکه له اصلي سړکونو او د کانال له سیمو لرې اوسېدونکو کروندګرو غوښتل، د لړو کوکنارو په کرلو سره وګوري چې ایا دغه کروندې به یې لمنځه یوړل شي که نه. په دغو لومړیو کلونو کې افغان امنیتي ځواکونو په یوازې سر زیاتې ځمکې تر واکمنۍ لاندې درلودې او یا هم د سیمه ییزو پولیسو په بڼه د دوی د ملاتړو ځواکونو په ولکه کې وې. ۹۸د کوکنارو کرکیله په ځانګړې ډول د ۲۰۱۳ او ۲۰۱۵ میلادي کلونو ترمنځ د لړو حاصلاتو له امله له خنډ سره مخامخ شوه چې په دې ډول ان د کانال شمال لور ته په پخوانیو للمي او دښتي سیمو کې چې د کوکنارو د کرکیلې په برخه کې د حکومت هیڅ ډول محدودیت شتون نه درلود هم له خنډ سره مخامخ شوه. تر ۲۰۱۷میلادي کال پورې په مارجه کې په پراخه پیمانه کوکنار کرل کېدل. دا په ۲۰۱۰میلادي کال کې د کوکنارو د کرلو په څېر نه وو – په دغه کال کې د ګډو عملیاتو په نول عملیات وشول – په یاد کال کې د کرکیلې وړ ځمکو ۷ساحې ځانګړې شوې وې، په راتلونکي فصل کې چې د امریکا د سمندري ځواکونو یوه لېوا هلته واستول شوه، نو بیا یوازې پر ۷ سلنه ځمکه کوکنار کرل شوي وو.


۹۸ ډېوېډ مانسفیلډ، «له ځمکې پورته: له څه باندې یوې لسیزې 'دولت جوړونې' وروسته د هلمند کلیوال خلک چېرته ولاړ دي،» د افغانستان د مخدره توکو د بین الاداری واحد لپاره ناچاپ شوی راپور، د ۲۰۱۴ کال د مې ۲۱مه نېټه.

که څه هم په ۲۰۱۷ او ۲۰۱۸میلادي کلونو کې جګړې روانې وې او په 2A Block او څو نورو ښېرنیزو ساحو کې د کرکیلې د محدودېدو سبب شوې، خو د هلمند د خوړو په زون کې د کوکنارو د پراخې کرکیلې په برخه کې یو څو محدودیتونو لا هم شتون درلود. له دغو سیمو چې افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونه په شا شول او طالبان بیا پرې واکمن شول، نو د کوکنارو کرکیله زیاته شوه، په ځانګړې ډول ویل کېدل چې طالبانو په دې سیمه کې د کوکنارو کرلو ته په مخه کولو کې ډېره مرسته کړې ده. د نادعلي پر پوله د مارجې په F۴D۵ ساحه کې یوه بزګر وویل:«طالبان تر حکومت ښه دي؛ ځکه دوی پر کوکنارو بندیز نه لګوي او یوازې د تریاکو عشر غواړي.» ۹۹


د کوکنارو کرکیلې ته مخه کول تر دې حده پورې زیات و چې تر ۲۰۱۷ میلادي کال پورې، د امریکا متحده ایالاتو حکومت اټکل کاوه چې د هلمند په خوړو زون کې د کوکنارو کرکیله، د ۲۰۰۹ میلادي کال د پولو پر بنسټ، ۲,۳۵۰۰ هکتاره و، په ۲۰۰۹ میلادي کال کې پر ۳,۵۰۰ هکتار ځمکه کې کوکنار کرل شوي وو. له بولان پرته په نورو سیمو کې، په پراخه پېمانه د کوکنارو کرکیله د هلمند په خوړو زون کې دننه په ۲۰۱۷ میلادي کال کې په ټولو ښېرنیزو ساحو کې څرګنده وه. او ان په بولان کې د امنیت په اړه شکایتونو شتون درلود چې دا د ۲۰۱۷میلادي کال په فبروري کې دې سیمې ته د طالبانو د راتګ پایله وه. په خوشحال کلي، شین کلي، لوی باغ او همدارنګه د مارجې په دواړو ښېرنیزو ساحو کې په ۲۰۱۷میلادي کال کې امنیتي وضعیت خراب شوی و. د حاصلاتو د راټولولو پر مهال هلته ډېرې سیمې د طالبانو او دولتي ځواکونو ترمنځ د نښتو له امله همداسې پرېښودل شوې او په ۲۰۱۷او ۲۰۱۸میلادي کلونو کې د مرګ ژوبلې په اړه ډېر راپورونه را ورسېدل. د کرکې او غوسې زیاته برخه دولت ته متوجه وه؛ ځکه د سیمې د ساتلو او امنیت د راوستلو توان یې نه درلود او همدارنګه داسې راپورونه هم وو چې په سیمه کې افغان ځواکونه د پیسو په بدل کې خپلې پوستې طالبانو ته پرېږدي. دا د خلکو په اند یوه بله داسې بېلګه وه چې پراخ فساد یې په ډاګه کاوه چې په پورته برخه کې له ورکړل شویو بېلګو سره توپیر لري او د غنمو د اصلاح شویو تخمونو چمتو کول او د کوکنارو د کروندو اړول هم پکې شامل دي، له دې سره افغان حکومت کلیوالي ملاتړ له لاسه ورکړ.

په دې ډول، د ناټو ځواکونو تر رسمي وتلو پنځه کاله وروسته او د هلمند د خوړو زون پروګرام له پای ته رسېدو اوه کاله وروسته، په سیمه کې د کوکنارو کرل بیا ډېر زیات شوي دي. په ۲۰۰۹میلادي کال کې چې د هلمند د خوړو په زون کې د کوکنارو په کرلو کې کوم کموالی تر سترګو کېده او وروسته یې څو کاله داوم وکړ، نه یوازې د هلمند د خوړو زون په ساحو کې دننه د کوکنارو د کرکیلې په بیا پیل کېدو سره جبران شو، بلکې لکه چې په راتلونکې برخه کې به بیان شي، د کوکنارو کرکیله له زون څخه بهر هم په ډراماتیکه بڼه زیاته شوه.

۹۹ مارجه F۴D۵،#۵، ۲۰۱۷.




۱۸ شکل: د مارجې په ۲A Block کې د بزگرۍ بېلگې،
نادعلي، هلمند، ۲۰۰۸ - ۲۰۱۸ میلادي کلونه




۱۹ شکل: د مارجې په ۲۸ ساحه«د ولسوالي مرکز» شاوخوا کې د کوکنارو د کرکيلې بيا څرګندېدل (ظهور)، نادعلي، هلمند، ۲۰۱۳ - ۲۰۱۸میلادي کلونه

## ۲.۲ د هلمند د خوړو له زون څخه بهر

که څه هم د هلمند د خوړو په زون کې دننه د پروګرام د پیل په لومړیو کلونو کې د کوکنارو د کرکیلې په کچو کې پام وړ کموالی راغی، چې دا یوه لاسته راوړنه وه، خو تر ډېر لږ وخت وروسته د بغرا شمال لور ته په پخوانیو للمي او دښتي سیمو کې بیا ډېر کوکنار وکرل شول او ډېر تریاک تولیدل شول، په دې ډول د کوکنارو د کرکیلې کمېدل جبران شول. کېدای شي دا پر کوکنارو د بندیز د یوې حتمي پایلې په ډول له پامه وغورځول شي، یا هغه څه چې د «پوکانۍ د اغېز» په ډول یادېږي؛ مطلب دا چې که په یوه سیمه کې پر عرضې فشار راوستل شي په پایله کې یې په بله سیمه کې عرضه زیاتېږي؛ ځکه تقاضا همداسې پر خپل ځای پاتې وي. خو داسې هم لیدل کېدلای شي چې د هلمند د خوړو زون په پخوانیو شاړو او للمي سیمو کې د کوکنارو د کرکیلې په زیاتوالي کې تر ډېره مستقیمه ونډه ولوبوه. نه یوازې دا چې له یوې سیمې څخه بلې ته د تولید د لېږدېدو لامل شو، بلکې هغه خلک هم ورسره له خپلو مېنو او سیمو بېځایه شول چې معیشیت یې د کوکنارو پر کروندو متکي وو. په دې ډول په دغو نویو ځمکو کې د کوکنارو د زیاتې کرکیلې لپاره سمدستي شرایط چمتو شول چې له امله یې د تریاکو تولید څو برابره زیات شو او ورسره دوهم او درېیم ډول اغېزې ښکاره شوې چې د دوی له ډلې ځینې یې لا په پوره ډول را برسېره شوې نه دي.


### ۱.۲.۲ د نفوس زیاتوالی او د کوکنارو تراکم

د بغرا ویالې شمال لور ته په پرته سیمه کې د هلمند د خوړو زون له پیل وړاندې لا د وګړو نفوس مخ پر زیاتېدو و. خو د پروګرام په پیلېدو سره ځینې داسې عوامل رامنځته شول چې نه یوازې یې په پخوانیو شاړو او للمي ځمکو کې د مېشت کېدو بهیر ګړندی کړ، بلکې د سیمې ډېرې ځمکې یې تر کرکیلې لاندې راوستې او په دې ډول د تریاکو تولید زور واخیست. تر ۲۰۱۸میلادي کال پورې، تر ۲۰۰،۰۰۰ زیات خلک په شاوخوا ۲۰،۰۰۰ هکتاره کرنیزې ځمکې کې هستوګن وو چې دا په ۲۰۰۲میلادي کال کې د کرل کېدونکې ۸۸۲ هکتاره ځمکې په پرتله چې د ۱۰،۰۰۰ څخه د لږو کسانو تر ولکې لاندې وه ډېر زیاتوالی ښیي.

په لومړیو کې په پخوانیو شاړو او للمي ځمکو کې ابادي ډېره پخه او تر ډېره له دې امله وه چې د زورواکو له خوا کرنیزې ځمکې غصب شوې، لکه د شیر محمد اخندزاده (۲۰۰۲ – ۲۰۰۵) د ولایت او د کرزي د حکومت پر مهال. دغه کسان چې ډېرو یې دولتي منصبونه درلودل او یا یې هغه مهال له ولایتي اداري یا مرکز سره غیر رسمي اړیکې لرلې د کانال د دښتي سیمو په جنوبي کلیو کې اوسېدل او په دودیز ډول یې پر صحرایي ځمکې د مالکیت دعوې درلودې. په لومړي سر کې به ځمکې همدې کسانو غصب کړې او بیا به یې پر خپلو پلویانو او کلیوالو باندې ووېشلې او وروسته به بیا په نسبتاً ټیټه بیه وپلورل شوې. چارواکو یې پر وړاندې غبرګون و نه ښود چې له دې سره لا زیاتې ځمکې غصب شوې او په دې ډول د ځمکو په پېر او پلور کې زیاتوالی راغی.


د هلمند د خوړو زون بې ځمکې کسان دې ته اړ کړل چې د بغرا ویالې شمال لور ته پخوانیو شاړو او للمي سیمو ته مخه کړي او هلته یې په لا زیاته اندازه د کوکنارو پر کرلو لاس پورې کړ(۲۳ شکل وګورئ). په ځانګړې ډول؛ د هلمند په خوړو زون کې د کوکنارو پر کرلو د بندیز غځول د دې لامل شول چې د کانال په واسطه په خړوبېدونکې سیمه کې ډېرې ځمکه لرونکې کورنۍ د کوکنارو کرکیله پرېږدي او هغو کښتونو ته مخه کړي چې لږه خواري یې غوښته؛ لکه غنم. دا په دې معنا و چې ډېرو ځمکه لرونکو کورنیو اړتیا نه درلوده چې پر خپلو ځمکو د کار لپاره اجرتي او یا هم شریک کروندګر وګوماري. په پایله کې، د لږو ځمکو خاوندان اړ شول چې د ځمکې په لټه کې بل لور ته مخه کړي، چې نه یوازې له کرنیز تولید څخه عاید لاسته راوړي، بلکې دوی خپله سرپناه او اوبه ولري او خپل د اړتیا وړ خواړه هم وکري. دا هغه کروندګر و چې د هلمند د خوړو زون د پروګرام په چوکاټ کې د نشت برابر پراختیایي مرستې ور رسېدې. بې ځمکو کسانو ځانونه د یوه داسې پلان له امله له مرستو څخه محروم وګڼل چې پر اساس یې مرستې یوازې ځمکه لرونکو کسانو ته ورکول کېدې، هغه هم د یوه داسې مېکانیزم له لارې عملي کېدې چې فساد پکې و او چارواکو یوازې خپلو ملاتړو ته مرستې ورکولې.

د موخیزو مرستو په نشتوالي او په داسې حال کې چې د شریک کښت او اجرتي کرکیلې لپاره د هلمند خوړو زون د کانال په واسطه په خړوبېدونکو سیمو کې ځمکې لږې وې، بې ځمکو کسانو د کرکیلې وړ ځمکو په لټه کې د بغرا کانال شمال لور ته پرتو سیمو ته مخه وکړه (۲۴ شکل وګورئ). هغه کسان چې په دې سیمه کې یې ځمکې درلودې د دغو ارزانه او نسبتاً مسلکي کارګرو د ماتېدو د بهیر مسوولیت په غاړه لري. تر دې مهاله، د بغرا کانال شمال لور ته زیاتې ځمکې لا له مخکې غصب او یا د ډالۍ په ډول وېشل شوې او یا هم په ټیټه بیه پلورل شوې وې، خو پر دې سربېره بیا هم زیاتې ځمکې شاړې پرتې وې. د هلمند د خوړو زون د دې لامل شو چې د داسې کارګرو شمېر زیات شي چې ځمکو او معقول عاید ته یې اړتیا درلوده او په پایله کې د کوکنارو د لا زیاتې کرکیلې لپاره شرایط چمتو شول.




۲۰ شکل: د بغرا ویالي شمال خوا ته تر کرکیلې
لاندې سیمه، ۲۰۰۲ - ۲۰۱۸میلادي کلونه

**۲۱ شکل: په کلني ډول د بغرا ویالې شمال لور ته مېشتېدل، د ځمکې د اجارې په جلاوالي، ۱۹۹۴ - ۲۰۱۸ میلادي کلونه**





د بغرا کانال شمال ته په تلو سره، د لږو ځمکو خاوندانو د شریکې کښتګرۍ ښخې متفاوت چمتوالی ومونډ؛ داسې چمتوالی چې دوی یې اړ کړل چې تر پخوا لا زیات کوکنار وکري. په داسې حال کې چې د کانال په واسطه په خړوبېدونکو سیمو لکه په نادعلي، مارجې او لښکرګاه کې د لږو ځمکو خاوندانو ته معمولاً د کوکنارو د وروستي حاصل دریېمه برخه ورکول کېده، په پخوانیو شاړو او للمي سیمو کې دوی د حاصل یوازې پنځمه برخه ترلاسه کوله. په پایله کې پخوانیو شاړو او للمي ځمکو ته په رسېدو سره د شریکو کروندګرو کورنۍ دې ته اړې شوې چې پر زیاتو ځمکو کوکنار وکري چې د ژوندانه هغه معیار چې د هلمند د خوړو په زون کې د اوسېدلو پر مهال یې درلود تأمین شي.

حقیقت دا دی؛ کله چې دوی د بغرا ویالې شمال لور ته کډه شول، شریکې کروندګرې کورنۍ دې ته وهڅول شوې چې په دې تمه زیات کوکنار وکري چې دوی به هم هلته ځمکه وپېرلای شي. په داسې حال کې چې د ۲۰۰۸ او ۲۰۱۱ میلادي کلونو ترمنځ د هلمند د خوړو زون د خړوبو ځمکو بیې جریب ۱۰،۰۰۰ امریکايي ډالرو ته رسیدې، په پخوانیو شاړو او للمي ځمکو کې د یوه جریب ځمکې بیه له ۱۹۰ تر **۳۷۵** ډالرو پورې وه. د یوه داسې ښه کال د راتګ په تمه چې حاصلات او نرخونه دواړه پکې لوړ وي او دوی یو څو جریبه للمي ځمکې وپیري، د کوکنارو د کرکیلې لپاره ځانګړې شوې ځمکې په تدریجي ډول زیاتې شوې ځکه ډېرو شریکو کروندګرو للمي او شاړو ځمکو ته مخه کړه او زیات کوکنار یې وکرل (**۲۵ شکل** وګورئ).


ان کله چې د ۲۰۱۱ میلادي کال په وروستیو کې د هلمند د خوړو زون پای ته ورسېد، کروندګرو د شاړو او للمي ځمکو پر لور خپل تګ ته دوام ورکړ. د غصب او مېشتېدنې دا ډول طرز اغېزمن جوړ شو او داسې لاره نه وه چې هلته د نورو تلونکو کروندګرو مخه ونیول شي، که څه هم هلته په رسېدو سره به دوی د ژوند له سختو حالاتو سره مخامخ شول. په حقیقت کې، ان د ۲۰۱۳ او ۲۰۱۵ میلادي کلونو ترمنځ د کوکنارو څو پرلپسې لږ حاصل لرونکو کلونو هم په بشپړ ډول للمي او شاړو سیمو ته د کډوالۍ مخه و نه نیوله؛ البته تر یوې لږې اندازې کموالی پکې راغی.

تر ۲۰۱۸ میلادي کال پورې، په للمي سیمه کې شاوخوا ۲۰،۰۰۰ هکتاره ځمکه تر کرکیلې لاندې وه، چې دا په ۲۰۰۲ میلادي کال کې د ۸۸۲ هکتاره کرل شوې ځمکې او همدارنګه د هلمند د خوړو زون په پیل کې د ۱۵،۱۴۳ هکتاره ځمکې په نسبت ډراماتیک زیاتوالی ښیي. له ۲۰۱۴ میلادي کال راهیسې، جګړې تر ډېره د بغرا ویالې شمال لور ته د کورنیو د کډوال کېدو سبب شوې او د دې ترڅنګ په ۲۰۱۲میلادي کال کې د کوکنارو د کرکیلې ښه کېدو هم په دې برخه کې مرسته کړې ده. [۱۰۰]څو ځینې کروندګر په دومدار ډول د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت له لوري د کوکنارو پر کرکیلې د بندیز له هڅو سر ټکوي چې دوی یې اړ کړي چې په شاړو او للمي سیمو کې د ځمکې په لټه کې شي. په ۲۰۱۸ میلادي کال کې، د دغو کروندګرو ډېر شمېر د لوی باغ او شین کلي له سیمو څخه راغلي وو چې افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو له سیمې څخه د طالبانو د شړلو په نویو هڅو لاس پورې کړې وو، دا داسې عملیات وو چې په منې کې یې د کوکنارو کرکیله وځنډوله او د ځینو خلکو د جبري بېځایه کېدو سبب شول (**۲۲ شکل** وګورئ). په دې ډول، شاړو او للمي سیمو ته د داسې کسانو لپاره د امن ځای په سترګه کتل کېږي چې د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت له پالیسیو څخه په تېښته او د اقتصادي فرصتونو په لټه کې دي، په هماغه شان چې د هلمند د خوړو زون پر مهال وو.

۱۰۰ "زه په دې حکومت کې هیڅ کومه دلچسپي نه لرم ځکه د همدې حکومت له لاسه دلته را تښتېدلی یو،" (شنه جامه#۲؛ په ۲۰۱۲ کال کې یې زرغون کلی د جګړې له امله پرېښود)؛ "د دې حکومت له امله زه دښتې ته وتښتېدم. دا ښه حکومت نه دی. دوی خلکو ته ستونزې جوړوي،" (دشت نوآباد شمال#۱۰، په ۲۰۱۰ کال کې یې نوآباد شمال د جګړې له امله پرېښوده).




۲۲ شکل: د بغرا ویالې شمال لور ته د نادعلي ولسوالي په شنه جامع کې د کوکنارو د کرکیلې د تراکم زیاتوالی، دغه سیمې پخوا شاړې او للمي وې.




۲۳ شکل: د نادعلي ولسوالۍ په لوی باغ سیمه کې د ۲۰۱۷ او ۲۰۱۸
میلادي کلونو ترمنځ د جګړې له امله پرېښودل شوې ځمکې

## ۲.۲.۲ اقتصادي وده او کرهنيز نوښت

وروسته له هغه چې د بغرا ویالې شمال لور ته په پرته سیمه کې ډېر خلک مېشت شول او د ځمکو د مخ پر زیاتېدونکي غصب پر وړاندې کوم غبرګون ونه ښودل شو، دا سیمه همدارنګه د زیاتې پانګونې شاهده وه. تر ۲۰۱۲ میلادي کال پورې، په یو ځینو سیمو کې د لنډمهاله اونیزو مارکیټونو یا مېلو پر ځای دایمي مارکېټونه جوړ شول. په دې ډول په هغه سیمه کې چې پخوا شاړه او دښته وه، توکو او خدماتو ته لاسرسی زیات شو او لښکرګاه او د ولسوالیو بازارونو ته د سفر اړتیا کمه شوه. د دې مارکېټونو له ډلې ځینې یې ستر دي او له ۸۰ څخه تر ۱۰۰ دوکانونه پکې شته، لکه په پخوانیو شاړو او دښتي سیمو کې د کاظم او تریاک په نامه بازارونه د داسې خلکو انځور وړاندې کوي چې په دې سیمه کې یې خپلې ریښې ټینګې کړې دي (۲۷ او ۲۸ شکلونه وګورئ).

په پخوانیو دښتو او للمي سیمو کې د ځمکو د بیو زیاتوالی هلته د اقتصادي ودې څرګندوی دی. د دښتو او شاړو له ابادېدو راهیسې د ځمکو بیې څو چنده زیاتې شوې دي. په ۲۰۰۳ میلادي کال کې، شونې وه چې یو جریب ځمکه د شا وخوا **۸۵** امریکایي ډالرو په بدل کې وپېرل شي. په ۲۰۱۲ میلادي کال کې، کانال ته په تر ټولو نږدې سیمو لکه دشت نو اباد، شوال او دشت لوی مانده کې د هر جریب بیه **۱،۵۲۵** امریکایي ډالرو ته ختلې وه. ان د شنې جامې په سیمه کې چې له کانال څخه لرې پرته ده، یو جریب ځمکه په هماغه کال کې تر **۱،۲۴۹** امریکایي ډالرو پورې وپلورل شوه.

د یادونې وړ ده چې د دې ځمکو زیاته برخه اباده شوې ده او اوس هغه شاړه دښته او للمي ځمکه نه ده چې په لومړي سر کې هلته مېشتېدونکي کسان ورغلل. دغه ځمکې له تیږو څخه پاکې شوې، د خړوبولو لپاره هوارې شوې او ژورې څاګانې پکې کیندل شوې دي. په ځینو مواردو کې، نوي پیرودونکی د ځمکې ترڅنګ یو ساده کور او حویلۍ یو ځای رانیسي. په هر صورت؛ هغو کسانو ته چې ځمکې ورکړل شوې، یا یې غصب کړې او یا هغه کسان چې د مېشتېدنې په لومړیو کلونو کې یې ځمکې وپلورلې، د خپلو پانګونو په بدل کې یې زیاتې ګټې ترلاسه کړې. دوی ممکن د لس جریبه ځمکې له پلورلو څخه تر ۸۴۰۰ امریکایي ډالرو یعني د هر جریب پر سر تر ۸۴۰ امریکایي ډالرو پورې پیسې ګټلې وي.[۱۰۱]




**۲۴ شکل:** په کاظم بازار کې بدلونونه، د نادعلي صحرایي سیمې، هلمند، ۲۰۰۸ – ۲۰۱۸ میلادي کلونه

۱۰۱ په دې کې د یو ساده کور، یوه ژور څاه چې ارزښت یې ۳۲۵،۰۰۰ پاکستاني روپۍ دی او یو مقدار ډالۍ شوې یا غصب شوې ځمکه، او د ځمکې د هر جریب ۱۲۰،۰۰۰ پاکستاني روپۍ بیه په پام کې نیول شوې دي.

ممکن د ځمکو د خرڅلاو بل پړاو، بیې لا زیاتې لوړې کړې چې دا کار تر ډېره د لمریزې ټکنالوژۍ د پراخې استفادې له امله دی. دا کار نه یوازې پر ځمکه نورې پانګونې ته اړتیا لري، بلکې په پخوانیو للمي او شاړو سیمو کې د اقتصادي نمونې د بریالیتوب د نظریې د پیاوړتیا سبب هم شوی دی - لږ تر لږه په لنډمهاله او منځمهاله موده کې (**۲۹** شکل وګورئ). له یوې خوا ددې ټکنالوژۍ په برخه کې پانګونه له دې امله وشوه چې د **۲۰۱۳** او **۲۰۱۵** میلادي کلونو ترمنځ د کوکنارو حاصلات او ور څخه ترلاسه کېدونکې ګټه مخ پر کمېدو وه. د ډېزلو لګښتونه (په ځانګړې ډول په **۲۰۱۳** کال کې) او د لږو حاصلاتو ترڅنګ د ترمیم زیات لګښتونه ددې لامل شول چې په دې موده کې ډېر کروندګر د کوکنارو په کرکیله کې زیانونه وګالي( په ځانګړې ډول اجرتي کروندګر او د ځمکو هغه خاوندان چې د حاصلاتو د راټولولو پر مهال یې پر اجرتي کارګرو تکیه کوله). [۱۰۲]

لمریزه ټکنالوژي چې په لومړیو کلونو کې یې بیه ګرانه وه او له نصب سره په **۵,۰۰۰** امریکایي ډالر تمامېده، د ډېزل او ترمیم د دوراني لګښتونو د له منځه تللو سبب شوه – چې د ترمیم لګښتونه تر ډېره په پراخه کچه له ککړو ډېزلو سره تړلي وو - او یو ځل بیا یې کروندګرو ته دا زمینه برابره کړه چې د کوکنارو له کرکیلې څخه خالصه ګټه ترلاسه کړي. [۱۰۳]کروندګرو د لمریزې بریښنا پر مټ د چلېدونکو ژورو څاګانو په نصبولو سره اضافي لګښتونه وګالل او دا تر ډېره له دې امله و چې د اوبو یوه ذخیره به جوړه شوه چې له ځمکې لاندې را پورته کېدونکې اوبه پمپ او مخکې له دې چې کښتونه پرې خړوب شي، په دغه ذخیره کې به ذخیره کېدلې خو دغه ډول لګښتونه تر ډېره د پرزه جاتو په سبب وو.




**۲۵** شکل: په تریاک بازار کې بدلونونه، د نادعلي صحرايي سیمې، هلمند، **۲۰۰۸ – ۲۰۱۸** میلادي کلونه


۱۰۲ مانسفیلډ، ډ. «دوی د بدو څخه بدتره کړل: د هلمند او ننګرهار ولایتونو په جګړه ځپلو سیمو کې د تریاکو تراکم،» د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد د قضیوي مطالعاتو لړۍ. (کابل: د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد، ۲۰۱۴).

۱۰۳ ډیوېډ مانسفیلډ، پاول فیشتاین او OSDR، "د مخ پر وراندې تلو وخت را رسېدلی: په افغانستان کې د تریاکو د کرکیلې لپاره د یو پوهاوي نه ډک انکشافي اقدام چمتو کول،" (د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد: کابل، ۲۰۱۲)، ۳۰ پاڼه.



**۲۲ شکل:** د لمریزې برېښنا په واسطه چلېدونکې ژوره څاه او ورسره د اوبو ذخیره

هغه څه چې د ساحوي کار او د سپوږمکۍ د لوړ کیفیت انځورونو له لارې د کروندګرو له خوا په لمریزه تکنالوژۍ کې د پانګونې څو محدودې بېلګې وپېژندل شوې ډېر ژر یې عامه بڼه غوره کړه. د بیلګې په ډول، په **۲۰۱۴**میلادي کال کې د پخوانۍ دښتې شمال لور ته د شنې جامې په څېړنیزه ساحه کې په لمریزه برېښنا چلېدونکې یوازې یو ژوره څاه تر سترګو شوه. تر **۲۰۱۵** میلادي کال پورې په ټولیز ډول هلته په همدې یوه څېړنیزه ساحه کې یوازې په لمریزې برېښنا چلېدونکې **۲۱۷** ژورې څاګانې موجودې وې. په ټولیزه ډول د جنوب لوېدیځ په ټوله سیمه کې په لمریزې برېښنا د چلېدونکو ژورو څاګانو شمېر په **۲۰۱۲** میلادي کال کې له **۱۴,۲۲۲** څخه په **۲۰۱۸**میلادي کال کې **۵۰,۳۲۰** ته زیات شو (**۳۰** شکل وګورئ).




۲۷ شکل: د افغانستان په جنوب لويديځ کې د اوبو ذخيرې او ورسره د لمريزې
برېښنا په مرسته چلېدونکې ژورې څاګانې؛ ۲۰۱۲ – ۲۰۱۸ میلادي کلونه

## ۳.۲.۲ چاپېريالي اغېزې

په پخوانيو شاړو او للمي سيمو کې په زياته پېمانه د کوکنارو د کرکيلې په اړه اند ښنني مخ په ډېرېدو دي او په ځانګړي ډول په دې اړه چې د کوکنارو په زياته پېمانه کرکيله به د بغرا ويالې شمال لور ته او له هغې ور هاخوا پر چاپېريال او د انسانانو پر روغتيا څه ډول اغېزې ولري.

تر ټولو ځرګنده اغېزه يې د بغرا ويالې شمال لور ته پر تر ځمکې لاندې اوبو باندې کړې ده. اوس په دې سيمه کې د تر ځمکې لاندې اوبو د زېرمو په اړه لږ معلومات موجود دي. خو کروندګرو پخپله په دې اړه اند ښنې ځرګندې کړې دي چې په زياته پيمانه د لمريزې بربښنا پر مټ چليدونکې ژورې څاګانې به په سيمه کې د اوبو پر جدول کومې اغېزې وکړي. په داسې حال کې چې د کروندګرو په وينا د ډېزلي واټر پمپونو د کارونې پر مهال د اوبو کچه په کال کې له نيم څخه تر يو متر پورې ټيټېده، اوس دوی وايي چې د اوبو جدول په کال کې له دوو څخه تر دريو مترو پورې ټيټېږي.[۱۰۴] په سيمه کې په دې اړه لږ شک شته چې دا په مستقيم ډول د ډېرو کروندګرو له خوا د لمريزې بربښنا د ټکنالوژۍ له کارونې سره تړاو لري او اند ښنه دا ده چې دغه اوبه به بالاخره خلاصې شي.

د لمريزې بربښنا کارولو يو عام آند رامنځته کړی چې «اوبه وړيا دی» او داسې هڅونې نشته چې په مرسته يې د اوبو د ضايع کولو مخه ونيول شي. د اوبو هغه ذخيرې چې په لمريزه بربښنا د چلېدونکو ژورو څاګانو لپاره جوړې شوې ممکن تر ۱۲۰۰ مترو مربع پورې غټوالی ولري. دغه ذخيرې پوښ نه لري او د اوبو د تويېدو «البته ببرته تر ځمکې لاندې اوبو ته» او همدارنګه د تبخير له امله يې ضايع کېدل زيات دي. کروندګر د اوبو د ذخيرې د ډکولو په خاطر ډېر ځله ټوله ورځ په دوامدار ډول په لمريزه بربښنا له چلېدونکو ژورو څاګانو څخه کار اخلي. ځينې کروندګر ددې لپاره چې په لمريزه بربښنا له چلېدونکو ژورو څاګانو سره مرسته وکړي د شپې پر مهال ډېزل پمپونه هم چلوي. اند ښنې تر دې حده پورې زياتې وې چې ادعا کېده په ۲۰۱۸ ميلادي کال کې طالبانو د شپې پر مهال د بغرا ويالې شمال لور ته په پرتو سيمو کې پر کارېدونکو ډېزل پمپونو بنديز لګولی و چې په دې ډول له تر ځمکې لاندې اوبو د ګټې اخيستنې مقدار را محدود شي.

د تر ځمکې لاندې اوبو د کچې له کمېدو سره سره، داسې نښې نښانې هم ليدل شوې دي چې تر ځمکې لاندې اوبه ککړې دي. د بيلګې په ډول؛ په پخوانيو دښتو او للمي سيمو کې د تر ځمکې لاندې اوبو کيمياوي ازموينه ښيي چې په اوبو کې د نايټرېټ کچه د روغتيا د نړيوال سازمان (WHO) له خوا تر ټاکل شوې کچې زياته ده، دغه سازمان په هر لېتر اوبو کې له ۵۰ ملي ګرامه ټاکلې دی.[۱۰۵] دا مقدار د اصلي مقدار دوه چنده دی چې په دې ډول «د شنه ماشوم ناروغي» ګواښ ډېر زياتېږي.[۱۰۶] هغه حالت چې د متيا موګلوبينميا په نامه يادېږي چې د کرنيزو کيمياوي سرو له کارولو سره نږدې تړاو لري او که يې درملنه ونشي نو ممکن د مړينې سبب وګرځي.

پر دې سربېره؛ د کوکنارو د کرکيلې پر مهال د اضافي وښو وژونکو درملو په زيات استعمال سره ډېر چاپيريالي زيانونه رامنځته کېږي. که څه هم د اضافي وښو او د حشراتو وژونکو درملو کارول په حتمي ډول د هلمند د خوړو د زون او د کانال په واسطه په خړېدونکې سيمه کې د کوکنارو پر کرکيلې له بنديز سره کوم تړاو نه لري خو ساحوي کار ښيي چې د هلمند د خوړو زون په نسبت په پخوانيو للمي او شاړو سيمو کې له هماغه پيله په زياته پېمانه کارول کېدل[۱۰۷] تر يو حده دا له دې امله و چې په پخوانۍ للمي او شاړه سيمه کې د کوکنارو کرکيله ډېره زياته وه. د دې پر ځای چې له پټي څخه اضافي واښه د ريځله د لاس په واسطه وشکول شي، د اضافي وښو وژونکو درملو په يو ځل کارونې سره له منځه وړل کېدل. په پايله کې بايد وويل شي چې د اضافي وښو وژونکو درملو کارول د اضافي وښو د لرې کولو په بوخت موسم کې د اجرتي مزدورانو د تقاضا د کموالي سبب شوی او په دې ډول په سپمول شوي لګښت په لا زياته پيمانه کوکنار کرل کېږي.

ساحوي کار ښيي چې کروندګر د کوکنارو په کښتونو کې د اضافي وښو وژونکو درملو بېلابېل ډولونه کاروي چې له دې ډلې ځينې يې بېرته بسته بندي شوي دي او په دې ډول د دوی کيمياوي اجزاو او ورسره تړلي زهرجن مواد په سختۍ پېژندل کېدای شي. خو داسې ښکاري چې ځينې د اضافي وښو وژونکي درمل چې په لومړي سر کې د کوکنارو په کښت کې کارېدل، لکه پاراکيټ،[۱۰۸] تر ډېره له ځانګړو اضافي وښو وژونکو درملو سره بدل شوي دي او د هغو کارول لږ وخت نيسي او ممکن د انسان روغتيا ته لږ ګواښ ولري. په هر صورت، کروندګر د دغو کرنيزو کيمياوي موادو د روغتيايي زيانونو په اړه کم پوهاوی لري او د کارولو پر مهال يې ځانونه ډېر کم پوښي، چې په دې ډول لويان او ماشومان دواړه د دوا د پاشلو پر مهال د اړيکي له ګواښ سره مخامخ دي (۳۱ شکل وګورئ).

۱۰۴ د تر ځمکې لاندې اوبو د ژوروالي په اړه بزګرانو له دې امله معلومات درلودل چې دوی په خپلو ژورو څاګانو کې ترميماتي کارونه ترسره کړي وو. د مثال په توګه، مرکه کېدونکو به ويل چې د خپلو واټر پمپونو د بدلولو لپاره دوی مجبور دي چې هغه له څاه را پورته کړي. دوی همدارنګه ويل چې له څاه څخه د اوبو د ايستلو لپاره دوی اړ دي چې پيپونه اوږده کړي.

۱۰۵ دغه پايلې د ۲۰ نمونو له ډلې د ۱۱ نمونو وې چې د ساحوي کار په جريان کې اخيستل شوي وو.

۱۰۶ https://www.medicalnewstoday.com/articles/۳۲۱۹۵۵.php نيکول ګالان، «د شنه ماشوم ناروغی څه ده؟» د نن طبي خبرونه، د ۲۰۱۸ کال د مې ۲۹مه نېټه. https://www.medicalnewstoday.com/articles/۳۲۱۹۵۵.php

۱۰۷ مانسفيلډ، ډ. «دوی له بدو بدتر کړل: د هلمند او ننګرهار ولايتونو په جګړه ځپلو سيمو کې د ترياکو تراکم،» د افغانستان د څېړنې او ارزونې د قضيوي مطالعاتو لړۍ. (کابل: د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد، ۲۰۱۴)، ۲۲ پاڼه.

۱۰۸ مانسفيلډ، ډ. «دوی له بدو څخه بدتر کړل: د هلمند او ننګرهار ولايتونو په جګړه ځپلو سيمو کې د ترياکو تراکم،» د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد د قضيوی مطالعاتو لړۍ. (کابل: د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد، ۲۰۱۴)، ۲۴ پاڼه.



۲۸ شکل: د بغرا ویالې په شمال لور ته سیمه کې یو پلار او زوی پر کبنتونو د اضافي
بوټو وژونکو درملو د پاشلو په حال کې، هلمند، مارچ ۲۰۱۹ میلادي کال

## ۴.۲.۲ د بېځايه کېدلو سياسي او ټولنيز عواقب

د هلمند د خوړو زون پر هغو کسانو دايمي اغېز وکړ چې د دوی په آند پر کوکنارو د بنديز له امله يې زيات زيانونه ګاللي وو . د دوی له ډلې ډېری يې استدلال کوي چې دوی اړ شول چې د بغرا د شمال لور دښتو ته کډه وکړي. په حقيقت کې په دغو پخوانيو دښتو کې ډېر کروندګر ځانونه داسې ګڼي چې دوی د کانال په واسطه له خړبيدونکې سيمې څخه د افغان حکومت او د هغه د بهرنيو ملاتړو د اعمالو په پايله کې شړل شوي دي. دوی په ځانګړي ډول حکومت ته د ضعف په سترګه ګوري چې ګواکې نشي کولای د بهرنيو پاليسي جوړونکو د فشار پر وړاندې مقاومت وکړي لکه د کوکنارو پر کرکيله د بنديز لګول او يا هم د هيروئينو پر لابراتوارونو بمبارۍ[109] - بلکې دومره کمزوری دی چې نشي کولای د طالبانو د را پورته کېدو پر وړاندې سيمه امن کړي.[110] د کانال شمال لور ته کروندګر معمولاً د حکومت پر وړاندې کرکه څرګندوي چې ځينې وخت دا کرکه په ډېرو بدو الفاظو بيانوي او همدارنګه دوی د ياغيانو «د دولت د مخالفينو» ملاتړ کوي.[111] دا بايد د حيرانۍ سبب نشي، ځکه ډېرو کسانو پراختيايي مرستې ترلاسه نه کړې او د مرستو د وېش په برخه کې د حاکم فساد او د چارواکو له خوا خپلو پلويانو ته د مرستو ورکولو له امله دوی ته له دغو مرسته د ګټې اخيستل ناممکن وو ، د کوکنارو پر کرکيلې د بنديز په صورت کې دوی تر ټولو ډېر زيات زيانمن کېدل. دوی هغه بې ځمکې کسان دي چې په هلمند کې د حکومت او نړيوالو مرسته کوونکو سازمانونو له خوا له کېدونکو پراختيايي مرستو څخه بې برخې پاتې شوي دي.

پخوانيو ښارو او للمي سيمو ته په تګ سره د کورنۍ ښځې په ځانګړي ډول اغېزمنې شوې وې. په داسې حال کې چې د بغرا ويالې شمال لور ته د نارينه وو ژوند ډېر بوخت دی، په دې معنا چې د دوی په آند په ښارو او دښتو کې تر څو کاله اوسېدو وروسته د دوی ډېرې ستونزې حل شوې دي، خو د ښځو په اند د دوی ستونزې لا همداسې پر ځای دي. د بغرا ويالې شمال لور ته ډېری نارينه وو به ويل؛ وروسته تر هغې چې ځمکه پاکه شوه، ځاه وکيندل شوه، يو کور جوړ شو او د دښتې له سوځوونکې لمر څخه په امان پاتې کېدو په خاطر ونې را غټې شوې، د دوی ژوند اوس مناسب دی. مګر په کوم ډول چې د ټولنيزو او کلتوري دودونو له امله ښځې له محدوديت سره مخامخ دي، نارينه په هغه اندازه مقيد نه دي. نارينه سفر کولای شي؛ بازار يا ځايي مارکېټ ته تلای شي، په سيمه کې د ګاونډيانو او ملګرو ليدو ته تلای شي او د ويالې په واسطه خړوبېدونکو سيمو او لښکرګاه يا ګرشک ته تللای شي. د ښځو لپاره په پخوانيو ښارو او للمي سيمو کې ژوند ډېر زيات محدود دی. يو ځل چې د اوسېدلو د ځای او د کرنې وړ ځمکې ننګونې حل شي، د ګرځېدو او کار ستونزې پر خپل ځای پاتې وي.

په حقيقت کې ښځې په دغو پخوانيو صحرايي سيمو کې خپل ژوند د هلمند د خوړو زون د کانال په واسطه په خړوبېدونکو سيمو کې تر ډېره د اقليم، د کار په کچه کې زياتوالی او همدارنګه د پښتونولۍ د ځانګړنو او دا چې د ګوښه والي تګلاره ځان څرګندوي کله چې يوه کورنۍ نور نو د کورنۍ د زياتو غړو ترڅنګ نه اوسي، ډېر زيات سخت معلومېږي. په ځانګړې ډول، دوی شکايت درلود چې د دوی ګرځېدل سخت محدود شوي دي. ځايي بازار يا ميلې ته د ښځو د تګ په اړه څه نه دي اورېدل شوي. د داسې ګاونډيانو کورونو ته تګ چې له کورنۍ او ان ممکن له هماغې قبيلې څخه نه وي ناشوني برېښي؛ په هماغه ډول چې د ويالې په واسطه خړوبېدونکې سيمې ته د نږدې کورنۍ يا خپلوانو د ليدو لپاره سفر هم ډېر کم کېږي. ښځو يادونه وکړه چې د محدودو اړيکو، سفري ممانعتونو او نابسنې وزګار وخت له امله نشي کولای چې د پلار په شمول[112] د کورنۍ د نږدې[113] غړو جنازو ته حاضرې شي.

ځينو ښځو د دوی پر ګرځېدو بنديز «په زندان کې اوسېدلو» ته ورته ګاڼه.[114] نورو بيا د ګوښه والي، يوازېتوب،[115] او «د انفرادي، خو نه ټولنيز ژوند»[116] د درلودلو يادونه وکړه. ځينې داسې ښځې هم وې چې د ځان[117] او نورو خپګان ته په اشارې سره يې ويل چې «ډېرې زياتې خواشينې»[118] دي.

۱۰۹ «حکومت د امريکا غلام دی. دوی خپلواکې نه لري؛ دوی تل د هغوی اوامر مني.» (دشت خوشحال کلی#۲).

۱۱۰ «زه د دوی مور غ**. که [حکومت] پياوړی وي، نو بايد ولسوالۍ ونيسي او سيمې ته امنيت راولي، خو ټولې ولسوالۍ د طالبانو په واک کې دي.» (دشت شين کلی#۳).

۱۱۱ «د دغو دووسو (ديوثو ) خلکو [چې په حکومت کې دي] ميرمنې وغ***. د دوی نوم مه اخله. دلته طالبان شته او موږ له دغو [حکومتي چارواکو] خلکو څخه آزاد يو.» (دشت شين کلی#۱۴).

۱۱۲ ساحوي مرکه#۱.

۱۱۳ ساحوي مرکه#۳۴.

۱۱۴ ساحوي مرکه#۱.

۱۱۵ " موږ هلته ډېر يوازې وو"ساحوی مرکه#۴.

۱۱۶ ساحوي مرکه#۳

۱۱۷ ساحوي مرکه#۱۰

۱۱۸ ساحوی مرکه#۴۷

[119] ان د ځانوژنې په اړه هم راپورونه وو. [120] د بغرا ويالې شمال لور ته د کلينيکونو او روغتونونو نشتوالی په دې معنا دی چې د هر ډول روغتيايي ستونزو لپاره ګرشک او لښکرګاه ته له تګ پرته، چې هغه هم له بېلابېلو ګواښونو سره مل دی؛ په سيمه کې د درملنې لپاره ډېر لږ امکانات نشته. يوې ښځې د دښتې پر لور خپل تګ په دې ډول بيان کړ:«کله چې موږ دښتې ته ورسيدو نو زه تر ډېر فشار لاندې وم. هلته ژوند کول اسان نه دي. که څوک ناروغ شي نو بايد په کور کې پاتې شي، بله چاره نشته.» [121] بلې ښځې وويل:« ژوند ښه نه دی. موږ هيچا ته لاسرسی نه لرو. موږ ډاکټر ته نشو تلای». [122]

پر ګرځېدلو د محدوديت ترڅنګ، ښځو دا هم ويل چې په شاړو او للمي سيمو کې يې ژوند څومره له کړاوونو ډک دی، په ځانګړي ډول هلته د مېشتېدلو په لومړيو کلونو کې. يوې ښځې په ډاګه وويل:«دښتې او شاړې ځمکې ته چې ولاړ شئ، نو هلته هيڅ کور او ونې نه وي، يو سوځوونکی ګرم بيابان وي خو دا زموږ مجبوريت و. [123]» نورو ښځو د نامناسب چاپېريال او د هغه له امله د هغو سختيو څخه هم يادونه وکړه چې پر دوی تېرې شوې وې، يوې ښځې وويل:«په دښته کې به له خاورو او دوړو پرته بل څه و نه وينئ. [124] » ډېرو ښځو ويل چې په دغو شاړو او للمي سيمو کې دوی زيات کار کوي، دوی له ډېر کار څخه سر ټکاوه:«په ځانګړي ډول، په ځمکو کې کار.» دوی چې پخوا د ويالې په مرکزي سيمو کې اوسېدل، هلته پرې د کار بوج ډېر نه و، زيات کار پکې د مالونو څرول او د لرګيو را ټولول وو، خو د کوکنارو له کروندو څخه د اضافه بوټو را ټولول او د کوکنارو د حاصلاتو د را ټولولو پر مهال د اجرتي مزدورانو لپاره د خوړو له چمتو کول هم د دوی په غاړه وو. د هلمند د ويالې په مرکزي سيمو کې د اوسېدو پر مهال ځينو ښځو په ځمکو کې کارونه نه کول، خو للمي او شاړو سيمو ته تګ دوی ته يو ډول ټکان ورکوونکی ښکارېده:«په دښته کې موږ په پټيو کې کار کوو. په وطن کې (له ويالې خړوبېدونکې سيمه) موږ هيڅ کار نه کوو.» [125]

د هغو کورنيو کسانو چې په شاړه او للمي سيمه کې يې ځمکې درلودې د کار له ستړيا څخه سر ټکاوه، خو د دې ترڅنګ دوی پر دې پوهېدل چې په دښته کې بزګري اقتصادي ګټې هم لري. يوې ښځې وويل:«دښتې ته له ورکډه کېدو سره زموږ ژوند ښه شو، خو زما ژوند ښه نه دی ځکه زه په ځمکه کې ډېر سخت کار کوم. [126]» ډېرو ښځو يوازې د «ښه ژوند» او «غوره خوړو» په اړه خبرې کولې، خو پر دې سربېره په دښته کې د اوسېدو پر مهال د شته سختيو[127] او د هيڅ حقيقي متبادل د نشتوالي يادونه يې هم وکړه:«که موږ بل چېرې د ژوند کولو ټاکنه درلودای، هيڅکله به مو دښتو ته مخه کړې نه وای، خو دا چې بله چاره نشته، نو موږ دا خپل ژوند منلی دی. دا ژوند د هغه مهال په پرتله چې هيڅ ځمکه مو نه درلوده ښه دی. [128] » د يادونې وړ ده چې د ښځو د ويناوو پر بنسټ د داسې کورنيو يوازې يو څو خورې ورې بيلګې شته چې په للمي او شاړو ځمکو کې د اوسېدو پر مهال يې د پام وړ شتمنۍ ترلاسه کړې دي. د بيلګې په ډول؛ له موسی کلا څخه يوې ښځې دې حقيقت ته په اشارې سره وويل چې کورنۍ يې د ۲۷ جريبه ځمکې خاونده شوې:«زموږ ژوند ښه شوی او اوس موږ يو شريک کروندګر لرو. [129]»

بې ځمکو کسانو ته دا توپير نه لري چې دوی د کانال په مرکزي سيمه کې بزګري کوي او که په شاړو او للمي ځمکو کې. لکه څرنګه چې په يوې کورنۍ کې يوې مور چې پخوا د نادعلي په خوشحال کلي کې اوسېده او اوس يې په دښته کې نهه جريبه ځمکه په شريک ډول کرله وويل:«موږ ډېر بېوزله يو. موږ هيله درلوده چې په دښته کې به مو ژوند ښه شي، خو هيڅ بدلون رانغی. موږ چې هر ځای اوسو، تل پر بزګرۍ بوخت يو.» [130]

119 " هلته د خلکو تر منځ زيات خپګان شته"ساحوی مرکه#۲؛"زه پوهيږم چې په دښته کې ځينې داسې مېرمنې شته چې خپګان لري"ساحوی مرکه#۲۲.

120 د نادعلی په پخوانيو دښتو کې د يوې ځان وژنې په اړه راپور و. داسې ويل کېدل چې هلته يوې ښځې د ځان وژلو لپاره ترياک خوړلی وو.

121 ساحوی مرکه#۱۳

122 ساحوی مرکه#۲۷

123 ساحوي مرکه#۲

124 ساحوي مرکه#۱۲

125 ساحوي مرکه#۱

126 ساحوي مرکه#۱۲

127 ساحوي مرکه#۲۲

128 ساحوي مرکه#۴۹

129 ساحوي مرکه#۲۴

130 ساحوي مرکه#۲۳

د دوی د ځمکې اندازې او سرمايې ته له کتلو پرته، د دغو ښځو لپاره د ويالې مرکزي سيمو ته بېرته تګ مېلې او يا هم پر رخصتي تګ ته ورته دي. دوی يو ځل بيا کولای شي د خپلو کورنيو او دوستانو ليدلو او ان د سودا اخيستلو لپاره لښکرګاه ته ولاړې شي. په دې ډول دوی په اوړي کې د دښتې له سوځوونکې ګرمي څخه په امان کېږي او که څه هم د دغو ښځو يوې زياتې برخې د لښکرګاه په شاوخوا کې ځمکه او کرايي جايدادونه نه درلودل خو په اوړي کې چې به د کورنۍ نارينه د کار پيدا کولو لپاره ښار ته تلل، نو دوی به خوشحاله وو چې بېرته د کانال مرکزي سيمې ته ځي.[131] لکه يوې ښځې چې اصلاً د ګرمسېر وه خو اووه کاله يې په شاړه او للمي سيمه کې ژوند تېر کړی و، وويل: «اوس موږ په وطن کې يو؛ دلته هرڅه شته».[132] دغو ښځو له خپلې لنډمهاله ازادۍ خوند اخيست، خو پر دې هم پوهېدې چې په مني کې به بېرته دښتې ته ځي: «د بېوزلۍ له امله موږ د دښتې تولې ستونزې پر ځان منو.»[133]

که خبره را لنډه کړو؛ نو هم د نارينه او هم د ښځينه لپاره، دښتې ته تګ يو داسې کار نه دی چې دوی يې پخپله خوښه کوي. دوی اړ شوي چې له سيمې کډه وکړي؛ يعني د بېوزلۍ، تاوتريخوالي او کله ناکله په آبي سيمه کې، چې يو وخت پکې حکومت واکمن و، د يوه عملي معيشيت د نشتوالي له امله يې خپلې مېنې پرېښودې. دوی له داسې حکومت سره چې دوی يې د خپل بد وضعيت مسوول ګڼي، هيڅ خواخوږي نه لري. که څه هم للمي او شاړه سيمه ځينو خلکو ته يو څه اقتصادي سهولتونه وړاندې کوي؛ مطلب دا چې د ځينو لپاره کور او ځمکې مهيا کوي، ځکه هيڅکله يې خپل کور او ځمکې نه درلودې. خو دا چې د لمريزې ټکنالوژۍ په مرسته له تر ځمکې لاندې اوبو څخه تر اندازې زياته ګټه اخيستل کېږي او همدارنګه د هغې کيمياوي سرې د کارولو له امله چې د کرنيز توليد ، په ځانګړې ډول د کوکنارو د کروندو لپاره کارول کېږي، دغه اوبه ککړې شوې دي.

په للمي او شاړو سيمو کې د کرنيز سيستم ناکامېدل به تباه کوونکې تولنيزې، اقتصادي، سياسي او چاپېريالي اغېزې ولري. يوازې د بغرا ويالې شمال لور ته په پرته سيمه کې تر ۲۰۰,۰۰۰ پورې خلک اوسي او تر هغې په ور هاخوا دښته کې ۱.۸ ميليونه نور خلک لري. که تر ځمکې لاندې اوبه وچې شي او کروندګر خپلې کروندې خړوبې نشي کړلای، دوی به د سيمې له پرېښودلو پرته ډېرې لږې تاکنۍ ولري. پوښتنه دا ده چې: دوی به چېرته لاړ شي؟ دا ناشونې ښکاري چې هغه خلک چې فکر کوي د حکومتي اقداماتو په پايله کې د هلمند د مرکزي او آبي سيمو پرېښودلو ته اړ شوي، په خپله خوښه به بېرته ستانه شي. يوازېنی کار چې دوی يې کولای شي هغه به دا وي چې د کوکنار کرکيله بېرته له ويالې خړوبېدونکې سيمې ته يوسي، البته که داسې فرض کړو چې هلته کافي ځمکې شته. ددې شونتيا چې دوی د حکومت پر وړاندې د ورته کرکې په څرګندولو بېرته ستانه شي او د طالبانو ملاتړ وکړي ډېره زياته ده. د يوه عملي بديل په نشتوالي کې د کوکنارو پر کروندو د بنديز لګول؛ د هلمند د خوړو زون پروګرام به ممکن په لنډمهال کې د ترياکو د کرکيلي د کمښت سبب شوی وي، خو وروسته بيا په زياته پېمانه د ترياکو د توليد لامل شو او همدارنګه کېدای شي چې په راتلونکي کې د خونړي مقاومت او بغاوت لامل شي.

۱۳۱ "له هغه وخت راهيسې چې موږ بېرته راغلي يو، موږ دلته ډېر خوشحاله يو. موږ کلينيک ته؛ او ماشومان ښوونځيو ته لاسرسی لري. دلته موږ د کورنۍ لپاره ښه خواړه پيدا کولای شو" ساحوي مرکه #۴.

۱۳۲ ساحوي مرکه#۲

۱۳۳ ساحوي مرکه#۲۳

## ۷. پایله: د بې لارۍ (انحراف) لمانځل؟

تېر ته په کتو سره ستونزمنه ده چې یو څوک دې دا ومني چې د هلمند د خوړو زون په لومړي سر کې له دومره هرکلي سره مخامخ شو.[۱۳۴] که هغه مهال په هلمند کې د کوکنارو په کرکیله کې تر کموالي هاخوا وګورو – چې امکان نه لري دا کار په مستقیم ډول د هلمند د خوړو له زون سره تړلی وګڼو – موږ یو داسې پروګرام وینو چې په حقیقت کې د مخدره توکو د مخنیوي، پراختیا او حکومتولۍ په برخه کې یو انحراف دی.

د مخدره توکو د مخنیوي له لیدلوري، د هلمند د خوړو زون پروګرام د بدیل کښت د پروګرام بڼه غوره کړه - داسې اقدامات په ۱۹۸۰میلادي کلونو کې پراخې بازار موندنې او زېربناوو او همدارنګه هغو تولنیزو عواملو ته چې په پراخه پېمانه د کوکنارو او چرسو د کرکیلې لامل شوي وو، د نه رسېدنې له امله له سیستماتیکې ناکامۍ سره مخامخ شول. د هلمند د خوړو زون ان په دې لټه کې شو چې کوکنار «یو نغدي کښت» له غنمو «د خوړو له یوه کښت» سره عوض کړي، یو داسې کار و چې ان په هغو هېوادونو کې لا نه و شوی چې د بدیل کښت پروګرامونه یې د دوی له ټولو نیمګړتیاوو سره سره کلونه کلونه نه وو عملي کړي، څکه دوی د داسې کار په ټولو زیانونو پوهېدل.[۱۳۵]

د پراختیا په برخه کې د هلمند د خوړو زون ځمکه لرونکي کسان په نښه کړل او بې ځمکې کروندګر یې له پامه وغورځول. له دې سره داسې شرایط رامنځته شول چې له مخې یې په هلمند کې حاشیوي کسان – هغوی چې کوکنار او نور فصلونه یې د نورو په ځمکو کې په شریکه کرل - بې برخې پاتې شول. په پایله کې، بې ځمکو کسانو ځمکې، سرپناه او هغو وسایلو ته لاسرسی له لاسه ورکړ چې په مرسته یې دوی خپلې اساسي اړتیاوې پوره کولې. د کوکنارو او موخه وړو مرستو په نشتوالي کې، دغو کروندګرو بله چاره نه درلوده مګر دا چې نویو ځمکو ته مخه کړي او هغه کار وکړي چې دوی پرې ښه پوهېدل، یعنې د کوکنارو کرکیله؛ له دې سره به په للمي او شاړو سیمو کې کرنیز تولید نور هم زیات شي، که څه هم دا کار له ځان سره چاپېریالي زیانونه لري.

د حکومتولۍ له آنده، د هلمند د خوړو زون پروګرام د قدرت او حمایې د شتون سیستمونو له لارې عملي شو او هغه یې پیاوړي کړل. دې پروګرام والي، چارواکي او کلیوالي مشران تر دې حده پیاوړي کړل چې هغوی له کروندګرو څخه د پراختیایي مرستو او همدارنګه د کښتونو د نه اړولو په بدل کې د احساناتو غوښتنه وکړي. دې پروګرام د غنمو د اصلاح شویو تخمونو او کیمیاوي سرې د وېش په برخه کې د فساد پرلپسې راپورونه له پامه وغورځول او د داسې نا تایید شویو کلیوالي لېستونو د چمتو کېدو ملاتړ یې وکړ چې د ولسوالۍ چارواکو او مشرانو به چمتو کړي وو او ډېرې ستونزې یې درلودې. دې کار د هلمند د خوړو زون په پروګرام کې د فساد د بېلابېلو ډولونو له بنسټیز کېدو او د حکومت او چارواکو پر وړاندې یې د ډېرو کلیوالي کورنیو د غوسې او بېوسۍ د احساس له زیاتېدو سره مرسته وکړه. د داسې مېکانیزمونو په عملي کولو سره چې له شتمنو سره یې مرسته کوله، د هلمند د خوړو زون یو داسې موخه تر پښو لاندې کړ چې اساساً د هغه د ترلاسه کولو لپاره طرح شوی وو؛ هغه دا چې والي او حکومت خلکو ته خدمات وړاندې کړلای شي.

له همدې امله په هلمند کې په اوسني وضعیت کې د کوکنارو بېساري کرکیله مخ پر زیاتېدونکې بې ثباتي او تاوتریخوالي ته په کتو سره د حیرانتیا خبره نه ده. د یوه داسې پروګرام په ډول چې په لومړي سر کې د هغه مهال د سیاستونو او بېلابېلو ښکېلو غاړو د متضادو غوښتنو - چې مختلف او ان ځینې وختونه یې متضاده موخې درلودې - له امله بڼه داسې غوره کړه، د هلمند د خوړو زون پروګرام له هیڅ ډول«غوره کړنې» سره یوشانوالي نه درلود او په واضح ډول یې د ولایت لپاره په یوه ممکنه اوږدمهاله تګلاره کې ونډه نه درلوده.

د هلمند د خوړو زون یو لنډمهاله پلان و چې د داسې چارواکو له خوا پرلپسې تمدید شو چې دندې یې تر ډېره له دې کار سره اړیکه نه درلوده او د دې پروګرام د اوږدمهاله اغېزو او داوم په اړه یې لږې اندېښنې درلودې. د هلمند د خوړو زون پروګرام د اوږدمهاله پایلو په اړه هیڅکله فکر نه و شوی یا که شوی هم و نو د «زیات ورته» پایلو په بدل کې یوې خواته شوی وو. پر دې سربېره؛ کله چې د هلمند د خوړو زون د یو بریالي پروګرام په ډول یاد شو او داسې غوښتنې هم وې چې ورته پروګرام په اتو نورو ولایتونو کې عملي شي، د نیوکو او همدارنګه د پروګرام د ډېرو خرابو پایلو د مخنیوي په خاطر د فعالیتونو د شاملولو لپاره ډېره لږه زمینه مساعده وه. د اقداماتو د کولو او همدارنګه د بریالي پروګرام په ډول د هغو وړاندې کولو په برخه کې فشار په ګډه د ښو پریکړو د نیول کېدو سبب نه کېږي.

کېدای شي دا د هلمند په څېر په ډېر بې ثباته چاپېریال کې د پالیسي جوړولو حقیقت وي. که داسې وي، لاندې سپارښتنې په دې هیله وړاندې کېږي چې ان په ډېر مسلط سیاسي چاپېریال کې هم له هغو درسونو چې د هلمند د خوړو زون په پروګرام او په افغانستان کې د مخدره توکو پر وړاندې له نورو اقداماتو څخه ترلاسه شوي د پریکړه نیولو په برخه کې کار واخیستل شي.

۱۳۴ لیدویچ، ف. «په وینو کې پانګونه: د برتانیې د افغان جګړې اصلي بیه» (نیو هیون: ییل، ۲۰۱۳)، ۱۸۰ پاڼه.

۱۳۵ د متحده ایالاتو د نړیوالې پراختیا ادارې یوه بیاکتنه دې پایلې ته ورسېده: «پر اساسي غله جاتو (غنمو) ډېر زیات تمرکز پر لنډمهاله بدیلونو ټینګار څرګندوي چې د تریاکو په مقابل کې کمزورې رقابتي وړتیا لري. په ابتدايي توګه د ناقانونه کښتونو د بدیل په توګه پر اساسي غله جاتو د تمرکز ستراتېژي په نړیواله کچه په پرلپسې ډول ناکامه شوې ده.» په افغانستان کې د متحده ایالاتو نړیواله پراختیایي اداره، د ۲۰۱۲ کال مارچ، ۴۳ پاڼه.

## ۱.۷ د پروګرام په کچه

د بدیلو کښتونو له ساده او زړو شویو نمونو ور هاخوا وګورئ

شواهد ښیي چې کلیوالي ټولنې هغه مهال د کوکنارو له تولید څخه نورو کښتونو ته مخ اړوي چې دوی په ټوله کې د پراختیایي کارونو پر موخو پوه شي. دغه موخې نه یوازې له کرنې، له کښتونو بهر او له کښتونو پرته عوایدو سره تړاو لري، چې کورنۍ وکولای شي زیانونه ښه مدیریت کړي او خپل اقتصادي وضعیت ښه کړي؛ بلکې کولای شي کلیوالو ټولنو ته په پراخه کچه ډېرو توکو ته د لاسرسي زمینه چمتو کړي. یعنې ښه امنیت او د لا بهتره خدماتو وړاندې کول؛ لکه د ښوونځیو او روغتیایي خدماتو له لارې چې دا کار تر ډېره د دوی او دولت ترمنځ پر یو ټولنیز قرارداد دلالت کوي. له کښت پرته د زیات عاید لاسته راوړل د افغانستان په بېلابېلو برخو کې د کښتونو د خرابوالي او د کوکنارو پر کرکیلې د بندیز په څېر ټکانونو پر وړاندې د کورنیو د مقاوم کولو په برخه کې اساسي ونډه لري. د مالدارۍ سکتور هم د کښتونو د تغییر او د زیاتو عوایدو او همدارنګه د ټولنیز خوندیتوب په برخه کې د ملاتړ سبب شوی دی. که موخه دا وي چې په کرکیله کې کموالی د دې سبب نشي چې د کوکنارو کرکیله للمي او شاړو سیمو او نورو هغو سیمو ته انتقال شي چې د دولت په ولکه کې نه دي، نو لازمه ده چې په دغو او نورو برخو کې زیاته پانګونه وشي. په حقیقت کې، په زیاته پیمانه د ډېر ارزښت لرونکو کرنیزو توکو سوداګري او د لوړ ارزښت قانوني تولیداتو په سوداګرۍ کې زیاتوالی، چې په ټوله کې د یوه هېواد د پرمختګ د تګلارې برخې دي، به له دې بهیر سره مرسته وکړي.

یوه شئ هغه اقدامات چې د کار فرصتي لګښت زیاتوي د کوکنارو پر تولید تر ټولو ډېر پراختیایي اغېز لري.

په داسې اقداماتو کې له زراعت پرته د غوره عاید فرصتونه «چې پکې د کوچنیو کاروبارونو لپاره پورونه شامل دي»، د مالدارۍ محصولات، د کښتونو متنوع سیستم او د کرنې دبرخې کارګرانو ته د دوی محصولاتو پروسس شامل دي. د کوکنارو تولید د کمېدونکي خالص عاید پر وړاندې، په ځانګړي ډول د هغو بې ځمکو کسانو لپاره چې د کوکنارو د اقتصاد لپاره نسبتاً ارزانه او مسلکي کارګر چمتو کوي، زیان رسوونکی دی. د کوکنارو کرکیله په ځانګړي ډول زیات زیار ته اړتیا لري او تر ډېره پورې د کارګرو د زیاتو اجورو پر وړاندې زیانمنېږي، په ځانګړي ډول هغه مهال چې حاصلات او یا نرخونه هم مخ پر ټیټېدو وي. پر دې سربېره، هغه موخیز اقدامات چې بې ځمکې کسان په نښه کوي، باید د پراختیایي مرسته له سازمانونو د بېوزلو کسانو د ملاتړ د موخو له ترلاسه کولو سره مرسته وکړي او په ورته وخت کې د کوکنارو د تولید یو اړین ګواښ هم رفع کړي.

پراختیایي پانګونې باید پر هغو کلیوالي سیمو باندې متمرکزې شي چې له پانګونو څخه هم حقیقي پایلې ترلاسه کېږي او هم یې د پلي کېدو امکان شتون ولري.

د ملي لومړیتوب پروګرام له جغرافیایي پلوه تر ډېره نامحسوس ښکاري. د «اقتصادي دهلېزونو» او په ولایتي کچه د پانګونو له بحثونو پرته، په ولایتونو کې دننه د حکومت جغرافیایي لومړیتوبونه چندان مفهوم نه لري او یا په دې اړه چې پانګونې څنګه د دولت له ثبات سره مرسته کولای شي چې متوازنه اقتصادي وده او یا هم د کوکنارو له کرکیلې څخه د کروندګرو د وتلو د هڅو ملاتړ وشي، هیڅ لیدلوری نشته. اړتیا ده چې په هر ولایت کې دننه د ممکنه امنیتي سناریوګانو لپاره جغرافیایي لومړیتوبونه وټاکل شي. افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونه لا له مخکې تر فشار لاندې دي او هغو سیمو ته بېرته په شا تمبول کېږي چې د دولت د واکمنۍ مخینه لري. دا ممکن د لویو لارو او د ولسوالیو د مرکزونو شاوخاو سیمې وي چې افغان امنیتي ځواکونه پکې واکمني کولای شي، په دې ډول په دغو سیمو کې دوامداره پراختیایي پانګونې ممکنې کېږي او د کوکنارو کرکیلې ته د بېرته ورګرځېدو امکانات پکې لږ وي. خو په ډېرو ولایتونو کې دننه به داسې سیمې هم وي چې پراختیایي پانګونې پکې ډېرې کمې وي یا به هلته دا ډول پانګونې امکان نه لري. دې حقیقت ته په کتو سره چې د مرکزي حکومت تر واکمنۍ لاندې سیمې مخ پر کمېدو دي، په یوه ولایت کې دننه په منځنیو سیمو کې به ننګونې تر ټولو زیاتې وي ځکه چې مرکزي حکومت پر دغو سیمو مستقیمه واکمني نه لري خو د ځایي بانفوذه زورواکو په مرسته خپل نفوذ ساتي، ددې کسانو ګټې تر ډېره د حکومت له ګټو سره په بشپړ ډول یو شان نه وي. د دغو نامطلوبه شرایطو په پام کې نیولو سره باید د مرستو رسولو په برخه کې د مېکانیزمونو په اړه تصمیم ونیول شي، داسې پراختیایي پایلې چې تمه یې کېږي او په دغو سیمو کې د کوکنارو د دومداره کرکیلې ستونزې ته لږ تر لږه په منځمهاله موده کې رسېدګي وکړي. که حکومت نه غواړي چې ځان تر ښارونو، ښارګوټو او ټیټو درو پورې محدود کړي نو پالیسي جوړونکي باید په داسې ستونزمن سیاسي چاپېریال کې له کار کولو سره ځانونه عیار کړي.

په جنګ ځپلو چاپېریالونو کې د څارنې او ارزونې د یوه اغیزمن او خپلواک مېکانیزم شتون اړین دی.

سیاسي فشار، نظامي اړتیاوې او د لنډ مهال لپاره د کارمندانو ګومارل د ثبات رامنځته کولو پر هڅو باندې غالبېږي. دا هر څه ډېر کله د نامناسبو پروګرامونو د رامنځته کېدو لامل کېږي چې پکې مسلطو ټولنیزو – اقتصادي، سیاسي او چاپېریالي عواملو ته لږه پاملرنه کېږي او له همدې امله یې پایلې اغېزمنېږي. د ثبات راوستلو د حاکم سیاسي چاپېریال ماهیت، یعني د«د یو څه د کولو اړتیا» او د بریالیتوب په اړه پر راپور ورکولو ټینګار د پروګرام د عملي پلي کېدو د سیستماتیکې ارزونې مخه نیسي. مرسته کوونکي سازمانونه به لېوالتیا ولري چې محدودې«کلنۍ ارزونې» وکړي او دا کار تر ډېره د داخلي کارمندانو په مرسته عملي کېږي چې د هغو ګډونوالو د معلوماتو پر اساس یې چمتو کوي چې په مستقیم ډول د پروګرام په عملي کولو کې ښکېل دي او له همدې امله دا ډول بیاکتنې بې طرفه نه دي. د اغېزو زیاتې سیستماتیکې او خپلواکې ارزونې ته اړتیا ده چې تر ډېره د لومړنیو ګډونوالو تجربو او پر دوی یې اغېزو ته ارزښت ورکوي او دا کار په ساحه کې د څېړنې او د سپوږمکۍ د لوړ کیفیت له انځورونو څخه په ګټې اخیستلو ترسره کوي، د امکان په صورت کې باید پروګرام بېرته عیار شي او یا ان په هغو مواردو کې چې ناکامېږي او یا یې لګښتونه تر ګټو زیاتېږي، لغوه شي.

د کړنو پر بنسټ له اندازه کولو څخه کار واخلئ تر څو د کښتونو او عاید د متنوع کولو ارزونې ته لومړیتوب ورکړل شي.

د تجربو پر اساس څېړنه ښیي چې د غنمو او داسې نورو خوړو له کښتونو سره د کوکنارو تبدیلول معمولاً په لنډ مهال کې د کوانېن پر وړاندې د یوې کورنۍ غبرګون دی او وروسته تر دې چې کوانېن له منځه ولاړ شي نو کروندګر بېرته د کوکنارو تولید ته مخ اړوي. تجربه ښیي چې د کوکنارو په کرکیله کې کمښت د معیشیت د متنوع کولو له لارې صورت مومي یعنې د زیات ارزښت لرونکو کرنیزو کښتونو ته مخ اړول (چې د غنمو او جوارو په څېر کښتونو کمښت ته زمینه برابروي) او همدارنګه له کښت پرته عاید هم باید ولري. اړینه ده چې د مخدره توکو پر وړاندې د بریا او ناکامۍ د اندازې ټاکلو لپاره په کلني ډول د کرل شویو کوکنارو د هکتارونو شمېر پرېږدو. دا کار ګټور نه دی جوړت شوی او د پالیسۍ په اړه بحثونه اخلالوي.

## ۲.۷ په ملي کچه

ټول ملي، څو اړخيز او دوه اړخيز پراختيايي پروګرامونه بايد د کوکنارو پر توليد، سوداګرۍ، کارونې او ورڅخه پر نورو جوړېدونکو مخدره توکو د کوکنارو د اغېزو لپاره وڅېړل شي.

> د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې دا ډول ارزونې بايد د مالي او تخنيکي مرستو د تاييد په خاطر، چې په ماليې وزارت پورې اړه لري، الزامي بڼه ولري. د دغو ارزونو لپاره قالب «چوکاټ» بايد له هغو لارښوونو څخه په ګټې اخيستلو چمتو شي چې د نړيوال بانک له خوا په ۲۰۰۷ميلادي کال کې د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې د انسجام لپاره چمتو شوې خو تر ډېره همداسې له پامه غورځول شوې دي(۲ ضميمه وګورئ).

د ملي لومړيتوب د پروګرامونو د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې د برخې هر اړخيزه بياکتنه وکړئ.

> دغه بياکتنه به ددې اطمينان د حاصلېدو سبب شي چې هغوی چې د دغو پروګرامونو مسووليت پر غاړه لري پر هغو اغېزو خبر دي چې ممکن دغه پروګرامونه يې د ناقانونه مخدره توکو په توګه ولري او د دغو فعاليتونو د عملي کولو پر مهال داسې اقدامات ترسره کړي چې د دغو فعاليتونو مثبت اغيزونه ورسره زيات شي. په ځانګړي ډول، اړينه ده چې د بېلابېلو سکتوري اقداماتو ترمنځ د ساحوي پلان جوړولو پر بنسټ ګډې هلې ځلې وشي چې هم د پراختيا او هم د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې پايلې نهايي حد ته ورسېږي.

د اړوندو وزارتونو تخنيکي او ستراتېژيک وړتيا بايد لوړه شي او دوی بايد په داسې وضعيت کې وي چې وکولای شي د کوکنارو د کرکيلې لاملونه د خپلو پراختيايي پروګرامونو په طرحه او پلي کولو کې ورګډ کړي.


> په تېر کې د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې وزارت مسووليت درلود چې په دې اړه له اړوندو وزارتونو سره په پوهاوي سره مرسته وکړي چې د دوی پروګرامونه به د کوکنارو پر کرکيلې څه ډول اغېز وکړي، خو دا وزارت د دې کار په ترسره کولو کې پاتې راغی. دا مسووليت بايد اوس له اړوندو وزارتونو سره وي او ډاډ ترلاسه شي، لکه د هلمند د خوړو زون د پروګرام په قضيه کې چې مو وليدل؛ چې پراختيايي پروګرامونه لږ تر لږه د کوکنارو کرکيلې ته د خلکو هڅولو لامل نه کېږي. دوی به ددې کار د ترسره کولو لپاره تخنيکي ملاتړ ته اړتيا ولري.

له شننه بيز پلوه، د کښتونو د مقايسه کولو هغه ميتود بايد پرېښودل شي چې د جرمونو او مخدره توکو پر وړاندې د ملګرو ملتونو د مبارزې دفتر(UNODC) په مطالبو کې د کوکنارو د توليد پر تشريحاتو مسلط دی.


> له غنمو او کوکنارو څخه د ترلاسه کېدونکي عايد مقايسه کول په ځانګړي ډول ګټور نه دی او د پاليسۍ د ټاکنو د انحراف سبب شوی دی. د کرنې د بېلابېلو سيستمونو او معيشيتونو د ترکيبي ټولګو پرتله کول هغه مهال ډېر ګټور دي چې موږ غواړو په دې پوه شو چې کليوالې کورنۍ او ټولنې څه ډول ژوند لري او ترياک د کليوالي اقتصاد د بېلابېلو ټولنيزو او اقتصادي ډلو په برخه کې څرنګه څو اړخيزه ونډه لري. دا يو داسې اسلوب (ميتود ) دی چې له موږ سره مرسته کوي چې په دې پوه شو چې د ترياکو له توليد څخه څوک ډېره او څوک لږه ګټه پورته کوي او بېلابېل اقدامات به څنګه د کرکيلې د مخنيوي سبب شي، په داسې حال کې چې ممکن نور يې په حقيقت کې وهڅوي.


## ۸. ضميمې


۱ضميمه: د کبنتونو نقشې، ۲۰۰۸ - ۲۰۱۸





Alcis
DASHTE AB PASHAK
2008 - 2018
Nahr-e-Saraj, Helmand
Poppy
Wheat
Other
Vineyard
Orchard
Prepared
2008
2009
Data not available
2010
2011
2012
2017
2018
Copyright © Alcis 2018
For errors, omissions or more information on this product please contact info@alcis.org
Imagery copyright © 2018 DigitalGlobe, Inc
Alcis



DASHTE SHIN KALAY
2008 - 2018
Nad Ali, Helmand
Alcis
Poppy
Wheat
Other
Vineyard
Orchard
Prepared
180.0
160.0
140.0
120.0
100.0
80.0
60.0
40.0
20.0
0.0
2008
2009
2010
2011
2012
2013
2014
2015
2016
2017
2018
2008
2010
2011
2017
2018
Copyright © Alcis 2018
For errors, omissions or more information on this product please contact info@alcis.org
Imagery copyright © 2018 DigitalGlobe, Inc
Alcis



Alcis
LOY BAGH
2008 - 2018
Nad Ali, Helmand
Poppy
Wheat
Other
Vineyard
Orchard
Prepared
2008
2009
2010
2011
2012
2017
2018
Copyright © Alcis 2018 For errors, omissions or more information on this product please contact info@alcis.org Imagery copyright © 2018 DigitalGlobe, Inc
Alcis


MALGIR
2008 - 2018
Nahr-e-Saraj, Helmand
Alcis
Poppy
Wheat
Other
Vineyard
Orchard
Prepared
2008
2009
2010
2011
2012
2017
2018
Copyright © Alcis 2018
For errors, omissions or more information on this product please contact info@alcis.org
Imagery copyright © 2018 DigitalGlobe, Inc


Alcis
MARJAH BLOCK 2A
2008 - 2018
Nad Ali, Helmand
Poppy
Wheat
Other
Vineyard
Orchard
Prepared
2008
2009
2010
2011
2012
2013
2014
2015
2016
2017
2018
Copyright © Alcis 2018
For errors, omissions or more information on this product please contact info@alcis.org
Imagery copyright © 2018 DigitalGlobe, Inc; Imagery copyright © CNES 2018, distribution AIRBUS DS
Alcis


Alcis
MARJAH F4D5
2008 - 2018
Nad Ali, Helmand
Poppy
Wheat
Other
Vineyard
Orchard
Prepared
2008
2009
2010
2011
2012
2017
2018
Copyright © Alcis 2018
For errors, omissions or more information on this product please contact info@alcis.org
Imagery copyright © 2018 DigitalGlobe, Inc
Alcis


Alcis
SHERSHARAK
2008 - 2018
Nawa-e-Barakzaiy, Helmand
Poppy
Wheat
Other
Vineyard
Orchard
Prepared
Hectares
160.0
140.0
120.0
100.0
80.0
60.0
40.0
20.0
0.0
2008
2009
2010
2011
2012
2013
2014
2015
2016
2017
2018
2008
2009
2010
2017
2018
Copyright © Alcis 2018
For errors, omissions or more information on this product please contact info@alcis.org
Imagery copyright © 2018 DigitalGlobe, Inc
Alcis


Alcis
Poppy
Wheat
Other
Vineyard
Orchard
Prepared
SHIN KALAY
2008 - 2018
Nad Ali, Helmand
2008
2009
2010
2011
2012
2017
2018
Copyright © Alcis 2018
For errors, omissions or more information on this product please contact info@alcis.org
Imagery copyright © 2018 DigitalGlobe, Inc
Alcis



Alcis
SHNA JAMA
2008 - 2018
Nad Ali, Helmand
Poppy
Wheat
Other
Vineyard
Orchard
Prepared
2008
2009
Data not available
2010
2011
Data not available
2012
2013
2014
2015
2016
2017
2018
Copyright © Alcis 2018
For errors, omissions or more information on this product please contact info@alcis.org
Imagery copyright © 2018 DigitalGlobe, Inc; Imagery copyright © CNES 2018, distribution AIRBUS DS
Alcis

## ۲ ضمیمه: په افغانستان کې د نړیوال بانک د فعالیتونو له لارې د کوکنارو د ستونزې د حل په اړه لاربښود یادښت

### ا. ستراتیژیکه تګلاره

#### د کوکنارو ستونزه

د کوکنارو د تولید کمول د هغو سترو ننګونو له ډلې یوه ده چې افغانستان ورسره مخامخ دی. تریاک په لوی اقتصاد کې اساسي ونډه لري چې د ناخالص ملي عاید درېیمه برخه جوړوي او له تولیزې تقاضا او د پیسو د ورکړې له توازن سره د پام وړ مرسته کوي. په کلیوالي اقتصاد کې، کوکنار د ۳۵۰,۰۰۰ کروندګرو کورنیو چې ډېری بېوزله دي د ژوند تېرولو یوه اړینه طریقه ده. د امنیت په برخه کې؛ کوکنار د جنګسالارۍ او ترهګرۍ او په حکومتولۍ کې د نامشروع اقتصاد په ټولو سطحو کې د دولت جوړونې د هڅو د مخنیوي او یا هم کمزوري کېدلو سبب کېږي.

#### د دولت تګلاره

د افغانستان له اقتصاد څخه د کوکنارو د کرکیلې د کمولو او بالاخره له منځه وړلو دولتي تګلاره اساساً له دریو عنصرونو څخه جوړه شوې ده. لومړی یې د مخدره توکو د مخنیوي لپاره د حکومتولۍ او قانون د حاکمیت ښه کول دي چې له دې لارې عامه بنسټونه او مېکانیزمونه پیاوړي شي او ترڅنګ یې د حکومتولۍ د اړوندو جوړښتونو پراختیا او تر محلاتو په پورته هره کچه کې د «ټولنیز قرارداد» کول دي. دوهم عنصر دا دی چې د عامه اقتصادي فعالیتونو او خدماتو کچه لوړه شي، چې په دې ډول د خلکو د ژوندانه معیار ښه کېږي او ټولنیز خوندیتوب رامنځته کېږي. درېیم عنصر یې د پراختیایي پروګرامونو پر ځانګړو جزئیاتو ټینګار دی چې کولای شي د کروندګرو او په ځانګړي ډول د بېوزلو برګرانو، کارګرو او په متضررو سیمو کې د کروندګرو پر سلوک د پام وړ اغېز ولري.

#### د نړیوال بانک تګلاره

له داسې شالید سره، د مخدره توکو د ستونزې په برخه کې د نړیوال بانک کاري تګلاره په لاندې ډول ده:

- د کوکنارو د ستونزې ملاحظات، د لوی اقتصاد د اړخ په شمول، په ارزونه او د مذاکراتو (خبرو اترو) په ټولو سطحو کې په پام کې ونیول شي؛
- په افغانستان کې د مخدره توکو د ستونزې له پراختیایي اړخونو او همدارنګه د هغې له حل سره د تړلو تاکنو د شننې کار ملاتړ او پکې ګډون وشي؛
- د نړیوال بانک په مالي ملاتړ د پلي کېدونکو پروګرامونو له لارې په مناسب ډول د افغان حکومت د تګلارې له پراختیایي برخو سره مرسته او ملاتړ وشي؛
- ډاډ ترلاسه شي چې هغه فعالیتونه چې د نړیوال بانک له لوري یې ملاتړ کېږي په یو غیر ارادي ډول د کوکنارو له اقتصاد سره مرسته نه کوي.

#### ارزونه

ددې تګلارې پر بنسټ، نړیوال بانک په افغانستان کې د خپلو ټولو فعالیتونو د ارزونې وړاندیز کوي، چې په دې کې عملیات او هم شننیز او سلاکاري کارونه شامل دي، چې دا ډاډ ترلاسه شي چې د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې اړخونه په دوامدار ډول په داسې طریقه چلند کوي چې کولای شي د مخدره توکو پر وړاندې له ملي هڅو سره اعظمي مرسته وکړي. د بیاکتنې بهیر به وښیي چې تر کومه حده پورې یو عملیات او فعالیت:

- د حکومتولۍ له موخو سره مرسته کوي؛
- له ګډو هڅو سره اعظمي مرسته کوي چې د ټولنې او کورنۍ په کچه د معیشیتونو پراخې اغېزې رامنځته کړي؛
- د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې ډېرې ځانګړې اغېزې د جغرافیایي سیمې د پوښښ او په ښه شویو بېوزلو ډلو ته درسېدګۍ له لارې تر اعظمي حده پورې زیاتوي او همدارنګه له داسې عناصرو څخه مرسته اخلي چې مشروع معیشیتونه پیاوړي او متنوع کوي؛
- د زیانونو د پېژندنې او د داسې یوې تګلارې د رامنځته کېدو لامل کېږي چې له مخې یې ډاډ ترلاسه کېږي چې د نړیوال بانک ملاتړ «زیان نه اړوي» او د نړیوال بانک حیثیت ته د ګواښ د رامنځته کېدو سبب نه کېږي؛
- د څارنې او راپور ورکونې وړتیا دا هم په ځان کې را نغاړي چې کولای شي په اغېزمن ډول د کوکنارو له قتصاد سره د تړلیو پایلو څرک ولګوي.

**ب. د معیشت په تګلاره کې د کوکنارو پر ونډې پوهېدل او د مناسبو پراختیايي اقداماتو اخیستل**

**په افغانستان کې د کوکنارو د کرکیلې د «بریا» تر شا عوامل**

د افغانستان په اوسني سیاسي او اقتصادي چاپېریال کې د کوکنارو کرکیله ډېرې ګټې لري. د تریاکو ارزښت لوړ ، په وزن سپک او دوام لرونکي توکي دي چې ډېره زیاته تقاضا ورته شته. د ارزښتي ځنځیر په هر پړاو کې ورڅخه په بسنه پیمانه ګټه ترلاسه کېږي او د پور، پېرودنې، ترانسپورت او پروسس په تړاو یې، که څه هم د افغانستان زیربناوې خرابې دي، خو په بازار کې په دې برخه کې اړیکو ښه پراختیا کړې ده چې دا تړول په ښه او نرم ډول کار کوي. سوداګر لېوال دي چې د پټي پر پوله تریاک وپېري، چې ډېر ځله دا کار تر لو مخکې کېږي.

د هېواد په تقریباً هر ځای کې د کوکنارو د کرکیلې امکان شته، که څه هم دا کښت په ازاده، وچه او شګلنه خاوره کې په ښه ډول وده کوي. دا کښت د افغانستان د زراعتي اقلیمي شرایطو لپاره مناسب دی او د نړیوال منځني حاصل په پرتله د خامو تریاکو او مورفینو زیات حاصلات تولیدوي او د خړوبولو لپاره له لږو اوبو سره ډېر زیات عاید کوي. د وروستي خاصیت له امله، په بازار کې د هغه پلورنه د لږ ځمکه لرونکو او لویو کورنیو درلودونکو کروندګرو لپاره ډېر اړین جوَت شوی دی، په ځانګړې ډول په هغو لرې پرتو سیمو کې چې د کوکنارو کرکیله په زیاتېدونکي ډول متراکمه کېږي. د وړو حاشیوي کروندګرو لپاره په اوسنیو حالاتو کې داسې بل کښت نشته چې ورڅخه ورته عاید ترلاسه شي. کله چې په دغو سیمو کې د کوکنارو د حاصلاتو کچه ټیټه شي، د داسې کورنیو لپاره له کښت څخه ترلاسه کېدونکی عاید هم کمېږي چې له امله یې خلک د ځمکو پرېښودلو ته اړ کېږي.

ددغو ځانګړنو په شتون کې - او د قانون د عملي کېدو له هڅو سره سره - کوکنار په هغو سیمو کې د کروندګرو او سوداګرو لپاره نسبتاً یو لږ ګواښ لرونکی کښت دی چې معمولاً د لوړ ګواښ چاپېریال ګټل کېږي. د پور ورکولو دودیز سیستم چې د سلم په نامه یادېږي او پر اساس یې په راتلونکي کې د کښت پر یو مقدار د هوکړې وروسته مخکې تر مخکې پیسې ورکول کېږي، دغه سیستم تر ډېره د کوکنارو کښت ته د نورو کښتونو په پرتله ترجیح ورکوي. په هغو سیمو کې چې پکې زیات کوکنار کرل کېږي، پور ته لاسرسی د بزګر له خوا دې کښت ته د لېوالتیا پر بنسټ دی. دا لېوالتیا او د کوکنارو د کرکیلې لپاره د اساسي مهارتونو درلودل تر ډېره ځمکې ته د شریکو کروندګرو د لاسرسي په ټاکلو کې اړینه ونډه لري. د ځمکو اجرتي (اجاره یي) ارزښت هم د کوکنارو د احتمالي حاصل پر اساس ټاکل کېږي نه دا چې څومره غنم تولیدوي.

## د کوکنارو له تولید څخه د پام وړ ترلاسه شویو ګټو نا انډوله وېش

د کوکنارو له کرکیلې سره تړلې اقتصادي ګټې هغو شتو ته په کتو سره چې د کروندګرو په اختیار کې دي توپیر لري. د نسبتاً محدودو لویو ځمکو خاوندانو لپاره، کوکنار یو داسې باارزښته کښت دی چې که چېرې د لو له موسم څخه وروسته سملاسي و نه پلورل شي او یو څه موده وروسته د بیو په پورته کېدو سره خرڅ شي، نو کولای شي ان زیاته ګټه وکړي. له دې امله چې لوی کروندګر د عاید نورې سرچینې او د سم لاسي پلور لپاره شتمنی لري، دوی کولای شي د کال په پای کې په لوړه بیه د کوکنارو د پلور له لارې زیاتې ګټې ترلاسه کړي. پر دې سربېره، د ځمکو هغه خاوندان چې د کوکنارو د تولید لپاره په ګډه د کښت ترتیب چمتو کوي، کولای شي تر دې هم زیاتې ګټې ترلاسه کړي. د کښت ځینې نابرابره ترتیبات «هوکړې» د ځمکې خاوند ته دا زمینه چمتو کوي چې د نهایي حاصل دوه پر درې برخې د ځان کړي، په داسې حال کې چې نوموړی د ټول تولید د لګښت یوازې ۲۰ سلنه پر غاړه اخلي. زمینداران همدارنګه کولای شي چې کوکنار مخکې له مخکې د لو د موسم په پرتله په پام وړ ټیټه بیه وپېري، چې په دې ډول د کوکنارو له کښته زیاتې ګټې ترلاسه کوي. له دې ګټو څخه کېدای شي د شتمنیو او د عاید د سرچینو د متنوع کولو په برخه کې د بیا پانګونې لپاره کار واخیستل شي او یا هم پخپله د کوکنارو په سوداګرۍ کې وکارول شي چې په دې ډول د ډېرو ځمکو خاوندانو ته د خپلو پانګو او شتمنیو د ډېرولو لپاره زمینه چمتو کوي.

د بې ځمکو کسانو لپاره وضعیت ډېر توپیر لري. ددې ډلې لپاره، کوکنار یوازې د عاید یوه سرچینه نه ده. د کوکنارو کرکیله د شریک کښت یا په اجرتي ډول د ځمکې د ترلاسه کولو زمینه چمتو کوي او همدارنګه په کورنۍ کې د افرادو له زیار څخه د ګټې اخیستنې سبب کېږي. دا کار هم له کوکنارو څخه د نغدي عاید سبب کېږي او هم د افغانستان په دودیز ډول ګډ کښتي سیستم کې چې ان د کوکنارو د کرونکو ترمنځ معمول دی، د کورنۍ د لګښت لپاره د خوړو د کښتونو د تولید سبب کېږي. د کوکنارو له کرکیلې پرته، ځمکو ته لاسرسی تر ډېره کمېږي، لکه څرنګه چې په ۲۰۰۵/۲۰۰۴ میلادي کلونو کې د ننګرهار په ولایت کې واقع شول.

د کوکنارو کرکیله همدارنګه د مسافرو کارګرو لپاره تقاضا رامنځته کوي چې د اضافي بوټو په لرې کولو او د فصل په لو کولو کې مرسته وکړي. د جرمونو او مخدره توکو پر وړاندې د ملګرو ملتونو د مبارزې دفتر د اټکلونو پر بنسټ په ۲۰۰۵/۲۰۰۴ میلادي کلونو کې د کرکیلې د موسم پر مهال پر ۱۰۴,۰۰۰ هکتاره ځمکه باندې کوکنار کرل شوي وو. دغه کښت به ممکن شاوخوا د ۳۲.۴ ملیونو ورځو کار زمینه برابر کړې وي، چې له دې ډلې یو پر دریېمه برخه یې د ورځنۍ اجرتي کار فرصتونه وو. په هغو کورنیو کې چې د بوټو د لرې کولو او لو د موسم لپاره تر یوه زیات نارینه ولري، د د کوکنارو له کښت پرته عاید یې ممکن تر پنځو میاشتو پورې دوام وکړي او معمولاً د شریک کښت له لارې د ترلاسه شوي عاید په نسبت زیات وي.

کوکنار همدارنګه د بېوزلو کورنیو لپاره د پور اخیستلو یوه اړینه سرچینه چمتو کوي. په هغو سیمو کې چې د کوکنارو کرکیله په زیاته پیمانه او دایمي ډول کېږي، کوکنار د بې ځمکو کسانو د پور اخیستلو د توان ټاکونکي دي. له دې پرته، د لومړنیو خوراکي توکو، کرنیزو وسایلو او دارو درملو لپاره نغدو پیسو ته لاسرسی ډېر زیات سختېږي.

د پورتنیو مستقیمو ګټو ترڅنګ، د کوکنارو تولید او سوداګرۍ په کلیوال اقتصاد کې پام وړ څو ځلې اغېزې لري. ځینې اټکلونه ښیي چې د هر هکتار کرل شویو کوکنارو له برکته، له پنځو څخه تر شپږو کسانو لپاره په غیر کښتي کلیوالي اقتصاد کې د کار زمینه برابرېږي.

**د کوکنارو د کروندګرو د ډول پېژندنه**

ددې لارښود د موخو لپاره، هغه کلیوالې کورنۍ چې د کوکنارو په اقتصاد کې ښکېلې دي په دې ډول طبقه بندي شوې (۱) «شتمن او نا متکي»، (۲) «لږ شتمن، خو نامتکي» او (۳) «بېوزله او تر ډېره متکي». د یوې عامې قاعدې په ډول، (۱) طبقه «شتمن» کروندګر د معیشیت زیاتې متنوع (ګڼې) تګلارې لري. دوی په هغو سیمو کې اوسي چې د ولایت یا ولسوالیو له مرکزونو سره نږدې موقعیت لري، دوی بېلابېل کښتونه کري چې پکې د زیات ارزښت لرونکي کرنیز کښتونه هم شامل دي چې ځمکو، د خړوبولو اوبو، همدارنګه اجناسو او د کار بازارونو ته ښه لاسرسی لري. د یوه ښه ژوند لپاره دوی پر تریاکو متکي نه دي او کېدای شي دوی ته د «فرصت طلبه تولیدونکو» په سترګه وکتل شي، د چا لپاره چې د قانون پلي کېدل د مخدره توکو د مخنیوي لومړنۍ وسیله ګڼل کېږي. تر دې هاخوا حاشیوی کروندګر (۲ طبقه) او بېوزله (۳ طبقه)، معمولاً بې ځمکې کسان دي او یا هم ډېرې لږې ځمکې په اختیار کې لري او دوی د داسې انکشافي پروګرامونو لپاره هدفمندې ډلې دي چې موخه یې د مخدره توکو د تولید له کموالي سره مرسته ده. په دې ډول، د بېوزلۍ او د کوکنارو د کموالي تګلارې له یو او بل سره تړلې دي. ددې دریو طبقاتو ځانګړتیاوې په ۱جدول کې په مختصر ډول ذکر شوي دي.

**متناسب پراختیایي اقدامات**

هغه کورنۍ چې کوکنار کري ګڼې او متحرکې دي او د دوی دا پرېکړې چې څومره کوکنار وکري د بېلابېلو لاملونو له امله اغېزمنېږي – نه یوازې بیه. هغه پروګرامونه او پالیسي ګانې به نه یوازې بې اغیزې وي، بلکې کېدای شي زیانمنې هم ج‌وتي شي چې د کوکنارو کروندګرو ته په یوه سترګه ګوري. اړینه ده چې هغې تنوع ته په کتو سره چې د کوکنارو د کرونکو ترمنځ شته کار وشي. د کوکنارو په کرکیله کې د بېلابېلو ټولنیزو او اقتصادي ښکېلو ډلو ونډه او هغه بېلابېلې ټولنیزې، اقتصادي او سیاسي ګټې چې دوی یې له دې ښکېلتیا څخه لاسته راوړي له موږ سره په افغانستان کې د تریاکو د دومدارې امحاء د ستراتېژیو د داخلېدو د نقاطو په پېژندلو کې اړینه مرسته وکړي.

**۴ جدول: د کوکنارو د تولیدونکو سیمو او په هغو کې د کروندګرو د ډول پېژندنه**

| | ۱ طبقه<br>نامتکي | ۲ طبقه<br>متکي | ۳ طبقه<br>تر ډېره متکي |
|---|---|---|---|
| بازارونو/خدماتو/حکومتوې ته لاسرسی | • د ولسوالۍ او ولایت مرکزونو ته نږدې<br>• حکومت کولای شي پر دوی خپله اراده تحمیل کړي پرته له دې چې لږ غبرګون وښودل شي | • د لاسرسي وړ، خو په محدوده پیمانه فزیکي زېربنا | • لرې پرته<br>• د حکومت شتون او د محدودو خدماتو وړاندې کول<br>• د حکومت لپاره ستونزمنه ده چې د ولسوالۍ تر مرکز هاخوا خپل اراده تحمیل کړي |
| کرل شوې ځمکې<br>(ژمی + اوړی) | • د کرکیلې وړ زیاتې ځمکې<br>• (۱۵ جریبه >) | • د کرکیلې وړ اوسط اندازه ځمکې<br>• (۱۵ جریبه > تر ۷.۵<) | • د کرکیلې وړ لږې ځمکې<br>• (۷.۵< جریبه) |
| خړوبول | • کانال یا اصلي سیند | • کانال او سیند او همدارنګه کارېز او غرنۍ چینې | • کارېز او غرنۍ چینې |
| د ځمکو تصرف (اجاره) | • زمیندار<br>• مالک کرونکی | • مالک کرونکی<br>• اجاره نیونکی | • مالک کرونکی<br>• شریک کروندګر |
| د کښتونو شمېر | • دوه فصله کښت | • دوه فصله کښت، خو په دوبي کې محدود | • یو فصله کښت |
| کښتونه | • متنوع<br>• ۳۰٪ - ۵۰٪ تریاک<br>• غنم<br>• د خرڅلاو لپاره سبزیجات<br>• د خرڅلاو لپار میوې/زنې | • کوکنار ۵۰٪+<br>• غنم<br>• د خرڅلاو لپاره یو څه سبزیجات<br>• د خرڅلاو لپار ځینې میوې/زنې | • کوکنار ۷۵٪+<br>• ۲۰٪ - ۳۰٪ غنم<br>• یوازې د کورنۍ د مصرف لپاره<br>• سبزیجات |
| د نفوسو (وګړو) تراکم | • پر جریب ۱–۱.۵ | • پر جریب ۲–۳ | • پر جریب ۳.۵ - ۵ |
| مالداري | • د لبني محصولاتو او څارویو پلور | • د ځینې لبني محصولاتو پلور | • وزې/پسونه<br>• د کورنۍ د لبني محصولاتو لپاره غوا |
| له کښت «بزګری» پرته عاید | • محدود | • د تریاکو د لو پر مهال ورځني اجرتي کارګر | • تر ډېره د تریاکو د موسم په جریان کې ورځني اجرتي کارګر |
| له کښت پرته عاید | • تنخواه لرونکی کار (موسسه، حکومت)، سوداګري، ترانسپورت | • ودانیز (ساختماني)<br>• نیمه مسلکي | • محدود |
| پور | • له نشت سره برابر راټول شوی پور<br>• د پور د ترلاسه کولو بېلابېلې سرچینې<br>• پور ورکوي | • یو څه ټول شوي پورونه<br>• بېلابېلې سرچېنې | • د عاید په تناسب پام وړ راټول شوی پور<br>• تریاکو د پور یوازېنۍ سرچینه |
| د تریاکو خرڅلاو | • د حاصلاتو له راټولولو څخه یو څه موده وروسته | • د حاصلاتو له راټولولو څخه وړاندې، خو یو څه اضافه (زیات) | • د حاصلاتو له راټولولو وړاندې |

هغه پراختيايي پروګرامونه چې کروندګرو ته د معيشيت حقيقي بديلونه وړاندې کوي، په اړتيا ولري چې د امکان تر حده پورې ډېرې ځانګړنې ولري چې د کوکنارو د اقتصاد د جذابيتونو «پېښې کوي» په ځانګړي ډول د وږو او بېوزلو کروندګرو او همدارنګه د کارګرو لپاره (۲ او ۳ طبقه)، د هغو کسانو لپاره چې اوسمهال يې ټاکل ډېر محدود دي. دا ډول پروګرامونه بايد د داسې يوې تګلارې له خپلولو څخه ډډه وکړي چې په ساده ډول هڅه کوي له کوکنارو څخه ترلاسه کېدونکې نسبتاً لوړ عايد چې د شتمنو کسانو (۱ طبقه کروندګر) لاسته ورځي، پر بل څه تبديل کړي. داسې اقداماتو ته اړتيا ده چې هغو امکاناتو ته د وږو کروندګرو لاسرسی (۲ او ۳ طبقه) زيات کړي چې دوی اوسمهال يوازې د کوکنارو کرکيلې ته د لېوالتيا له لارې ورته لاسرسی لري. پور، ځمکې او له کښت پرته او غير کښتي عايداتي فرصتونو ته د بېوزلو د لاسرسي زياتوالی بايد په لومړيتوب کې وی. ۲ جدول ځينې داسې پراختيايي اقدامات په ګوته کوي چې د ۲ او ۳ طبقې کروندګرو د ستونزو د حل په خاطر بايد پرې ټينګار وشي. د هغو کروندګرو په اړه چې له اقتصادي پلوه د کوکنارو پر کرکيلې متکي نه دي (۱ طبقه)، زيات ټينګار بايد د ټولنيز او قانوني فشار پر پلي کېدو وشي.

**۵ جدول:** هغه پراختيايي اقدامات چې کولای شي په کليوالي اقتصاد کې د کوکنارو ښېګڼې بې اغېزې کړي.

| شتمني | د کوکنارو د اقتصاد ښېګڼې | پراختيايي اقدامات |
|---|---|---|
| ځمکه | • د هغو شريکوکروندګرو لپاره ځمکو ته ترجيحي لاسرسی چې د کوکنارو د کرکيلې تجربه لري<br>• يوازې کوکنار کولای شي د ځمکو اجاره (کرايه) پوره کړي. په هغو سيمو کې چې د کوکنارو کښت متراکم دی، د ځمکو اجاره يې ارزښت تر دې حده پورې زيات دی چې هغه کروندګر چې قانوني کښتونه کري به هيڅکله ونشي کولای چې د دوی اجاره «کرايه» پوره کړي.<br>• د ځمکې له هر واحد څخه زياته ګټه ترلاسه کېږي: د هغو لپاره چې لږې ځمکې لري يو غوره کښت دی | • د خړوبېدونکو کرنيزو ځمکو پېمانه زياته کړئ (د ژمي او دوبي په فصلونو کې)<br>• د زيات ارزښت لرونکې باغدارۍ او په کليوالي کچه د کرنيزو توکو پروسس کول دود کړئ چې له دې لارې اضافي آرزښت ترلاسه شي.<br>• له مالدارۍ او د هغې له محصولاتو څخه ترلاسه کېدونکی عايد زيات کړئ.<br>• له برګرې پرته عايداتي فرصتونه زيات کړئ (د مثال په ډول؛ د مهارتونو د لوړوالي او د بازار اړيکو د رامنځته کولو له لارې) |
| اوبه | • د اوبو د هر واحد په بدل کې د کوکنارو ګټه:(په هغو سيمو کې چې يوازې يو فصل پکې کرل کېږي، د ترياکو کښت ډېره ګټه کوي).<br>• يو له محدودو کښتونو څخه دی چې سرمايه او نور د دوراني مصارف پوره کوي. | • خړوبېدونکې کرنيزې ځمکې زياتې کړئ (اوړي او ژمی)<br>• ګډ اسلوب چې د اوبو بسياينې د تخنيکونو/تکنالوژۍ او همدارنګه د زيات اضافي آرزښت د توليدي ټولګو له لارې په کښت کې اضافي ارزښت نور هم ښه شي. |
| پور (يا نغدو پيسو ته لاسرسی) | • د راتلونکې کښت په بدل کې د پيسو مخکې له مخکې اخيستنه د کرنيزو توکو د پېرودلو لپاره اسانتيا رامنځته کوي<br>• هغوی چې ترياک کري، په ځانګړی ډول بې سرچينې کسان د (پور اخيستلو) اهل ګڼل کېږي. دوی کولای شي پور ته لاسرسی ولري، چې په دې کې د مصرف لپاره پور شامل دی او په دې ډول دوی کولای شي چې هم موسمي پورونه او هم پاتې پورونه ادأ کړي | • ځينې مهال پر نورو کښتونو (تاکونو، پيازو، زيرې) د پيسو مخکې له مخکې ورکړې ته لاسرسی شته، د بازار اړيکې ترويج کړئ<br>• قراردادي کرکيله، د کرنيزو توکو د چمتو کولو په شمول<br>• د وړو پورونو له لارې د مصرف او پانګونې لپاره د پور فرصتونه بهتره کړئ. |
| کار | • د زيات زيار کښت؛ د لو او د وښو د ايسته کولو پر مهال د کار پام وړ فرصتونه رامنځته کېږي.<br>• له بې اجرته کورنيو کارګرو څخه په زياته پيمانه کار اخيستل کېږي، چې ښځې پکې شاملې دي.<br>• کله چې شريکې کروندګر ترياک کري نو د مشروع کښت په پرتله دوی د نهايي کښت زياته برخه ترلاسه کوي<br>• د هغو کسانو لپاره خواړه چمتو کېږي چې د ترياکو په لو کې برخه اخلي. | • د زيات زيار کرنيز پروسس فرصتونو ته وده ورکړئ. مثلاً؛ د وچو ميوو په برخه کې.<br>• د ښځو لپاره د ممکنه عايداتي سرچينو د زياتولو له لارې له کورنيو کارګرو څخه د ګټې اخيستنې د فرصت مصرف زيات کړئ (چې په دې کې مالداري، د چرګانو پالنه، لبني محصولات، کرنيز پروسس او داسې نور شامل دي)<br>• له کښت پرته عايداتي فرصتونه رامنځته کړئ.<br>• (د نغدو پيسو په بدل کې کار) په هغو سيمو کې د کارګرو لپاره د تقاضا د اوج پر مهال عملي کړئ چې د ترياکو د کرکيلې په تړاو قانون په سختۍ سره عملي کېږي.<br>• د شريکو کروندګرو لپاره کرنيزو توکو ته لاسرسی زيات کړئ چې د مشروع کښتونو په نهايي حاصل کې دوی ته زياته ونډه ورسېږي. |

د هغو پراختيايي اقداماتو ترڅنګ چې بيوزلو بزګرو کورنيو ته د مستقيم عايد د لاسته راوړلو زمينه چمتو کوي، ممکن داسې نور اقدامات هم وشي چې د حکومتولۍ د ښه والي او د کليوالو ټولنو او دولت ترمنځ د مسوولانه متقابل عمل د رامنځته کېدو سبب کېږي. د اغيزمنو او اړينو عامه خدماتو لکه روغتيا او پوهنې پراختيا او همدارنګه د همکارو ټولنيزو جوړښتونو لکه د والدينو- استادانو د شورا رامنځته کول د حکومت د پراختيايي لوړتيا لپاره د درناوي د زياتوالي سبب کېږي، د ځايي ټولنو مسووله ټولنيزه پانګه رامنځته کوي او د مخدره توکو د ستونزې په اړه د خبرو اترو لپاره زمينه مساعدوي. پر دې سربېره؛ د پوهنې، روغتيا او د ملي پيوستون پروګرام (NSP) په څېر ځانګړي پروګرامونه ممکن د پوهنې او خبرو اترو لپاره د ننوتلو ښلابښل ټکي رامنځته کړي او همدارنګه د اعتماد او ښې حکومتولۍ سبب شي. په دې ډول د کوکنارو ستونزه يوه داسې ملاحظه ده چې کولای شي په کليوالو سيمو کې د پراختيايي فعاليتونو يو لويه تر پوښښ لاندې راولي.

په پای کې، په لويه کچه ښنسټيزه پراختيا- د بيلګې په ډول؛ د مرکزي او ځايي اداري پياوړي کول يا په ځانګړو سکتورونو کې د ادارو او مېکانيزمونو اصلاح کول، چې د کوکنارو د اقتصاد مخه ډب کوي، لکه مالي خدمات (يا مثلاً د پيسو مينځلو پر وړاندې اقدامات) - کولای شي د حکومتولۍ د بهبود او مخدره توکو د مخنيوي په برخه کې د حکومت له ستراتېژۍ سره مرسته وکړي. د حکومتولۍ او ښنسټيزه پراختيا ډېر اړخونه ممکن په لويه سطحه کې د کوکنارو پر اقتصاد اغېزه ولري.

**ج. د نړيوال بانک له لوري د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې د فعاليتونو په تړاو د ارزونې پلي کول.**

دا برخه د نړيوال بانک د فعاليتونو د بياکتنې په اړه يو چک لېست وړاندې کوي، له دې لارې ترلاسه کېدونکې ګټې ارزوي او د هغو د عملي کېدو په تړاو پر ښنسټيزو مسووليتونو بحث کوي.

**چک لېست (د بياکتنې ليکلړ)**

لاندې اته پوښتنې يو داسې شننيز چوکاټ وړاندې کوي چې په واسطه يې د نړيوال بانک فعاليتونه ارزول کېدای شي. دا پوښتنې په داسې ډول طرح شوي دي چې په دې اړه پوهاوی ترلاسه شي چې څنګه دغه فعاليتونه ممکن د مخدره توکو پر وړاندې له مبارزې سره مرسته وکړي او همدارنګه پر ټولو هغو خطرونو تاکيد وکړي چې مديريت ته اړتيا لري.

۱. دا ډول فعاليت څنګه له موخې لرونکو وګړو او سيمو سره تړاو لري؟ د فعاليت شرحې ته دې بياکتنه وشي او د کوکنارو له اقتصاد سره دې يې تړاو د موخې لرونکو ټولنو له اړخه وڅېړل شي، يعنې د کرکيلې عوامل، هغه فعاليتونه چې په پام کې نيول شوي او د کوکنارو د توليد په تړاو يې موخه، وخت او جغرافيايي موقعيت وکتل شي.

۲. ايا دغه فعاليت حکومتولي او ښنسټ جوړونه پياوړي کوي؟ ايا ددې فعاليت تر چوکاټ لاندې حکومتولي او ښنسټ جوړونه په يو پړاو کې د دولت او وګړو ترمنځ د مخدره توکو د موضوع په اړه د مسوولانه تعامل د امکان د رامنځته کېدو سبب ګرځي؟ ددې فعاليت د حکومتولۍ او ښنسټ جوړونې په چوکاټ کې دننه، ايا د مخدره توکو د موضوع په اړه د خبرو اترو يا د معلوماتو د شريکولو، د پوهاوي د ورکړې او په اړيکو کې د ښکېل کيدو لرليد شته؟ کوم اقدامات کولای شي پر حکومتولي د داسې فعاليت اغېزې پياوړې کړي؟

۳. ايا په عمومي ډول د خلکو پر ژوندانه او معيشيت باندې کوم ډول اغېز لري؟ ايا دا ډول فعاليت د مخدره موادو په توليدوونکو يا «متضررو» سيمو کې د ژوندانه د معيار او عايد د ښه والي سبب کېږي؟ کوم اقدامات کولای شي د ژوندانه پر معيار اغېزې لازياتې کړي؟ ايا دا فعاليت له نورو پراختيايي هڅو سره همغږی شوی چې د کارونو د تکرار او نيمګړتياوو مخنيوی وشي او په پايله کې په ځايي کچه پر معيشيتونو د اغېزو يوه داسې ټولګه ترلاسه شي چې په مرسته يې د مخدره توکو د توليد پرځای د قانوني فعاليتونو لور ته جذابيت زيات شي؟

۴. ايا فعاليت پر موخه لرونکو وګړو باندې مستقيمې اغېزې لري؟ ايا شونې ده چې د فعاليت عناصر په مستقيم ډول د مخدره توکو حقيقي او احتمالي توليدوونکې کورنۍ اغېزمنې کړي؟ ايا دا عناصر په داسې ډول غوره شوي چې د کروندګرو لپاره د کوکنارو د کرکيلې د فرصت د مصرف چانس زيات کړي؟ د کوکنارو د بديل د وړاندې کولو سبب شي؟ څرنګه کېدای شي مستقيمې اغېزې يې نهايي حد ته ورسول شي؟ ايا داسې توجيه شته چې په حقيقي ډول په نښه شوی يا «له ګواښ سره مخامخ» کوکنار توليدونکې سيمې او کورنۍ د احتمالي او (د کرکيلې په ګواښ کې) کوکنار کرونکې سيمې غوره شي، يا د پروګرام عناصر په داسې ډول تغيير شي چې د هغو کسانو چې د ترياکو په اقتصاد کې ښکېل دي د توليد سيستمونو ته رسېدګي وشي او څوک به وي؟ ايا داسې موخو ټاکل مناسب دي؟ که هو؛ نو ايا د عملي کېدو امکان يې شته؟

۵. ايا ګواښ يا زيان شته؟ ايا داسې ګواښ شته چې يو فعاليت ممکن د مخدره توکو د توليد د هڅونې سبب شي؟ څرنګه کېدای شي داسې يو ګواښ مديريت شي؟ ايا امکان لري چې ددې ډول ګواښ د کمولو لپاره اقدامات د نورو نوښتونو سره هم مهاله، هدفمند او همغږي شي؟

۶. ایا څارنه، اروزنه او راپور ورکونه پایلي لري؟ څنګه امکان لري چې د مخدره توکو د ملي کنټرول له موخو سره یو مرسته کوونکی فعالیت تر څارنې او ارزونې لاندې ونیول شي؟ څنګه کېدای شي چې له ناقانونه معیشیت څخه د یو قانوني معیشیت پر لور د بدلون د عملیاتو او پالیسۍ له برخې سره د مرستې لپاره کار واخیستل شي؟ څومره شونې ده چې یو څرګندېدونکی ګواښ وپېژندل شي او راپور یې ورکړل شي؟

۷. ۷. په ټوله کې، ایا داسې یو فعالیت په افغانستان کې د مخدره توکو پر وړاندې له هڅو سره مرسته کولای شي؟ په ټولیز ډول، تر کومه بریده داسې فعالیت د افغانستان د تریاکو له کمښت او په پایله کې ددې ستونزې د له منځه وړلو له تګلارې سره مرسته کولای شي؟

۸. ایا د داسې فعالیت په واسطه لازیاتې اغېزې ترلاسه کېدای شي؟ کومې حل لارې کولای شي د مخدره توکو پر وړاندې د افغانستان له جګړې سره ددې فعالیت مرسته زیاته کړي؟ په کومه بیه کېدای شي دغه ډول اغېزې ترلاسه شي؟ کومو عملیاتي بدلونونو ته به اړتیا وي؟

# اخځلیکونه


انډرسن، ج.ل.، (۲۰۰۷)، «د طالبانو د ترياکو جګړه: د کښتونو د تخريب پروګرام سختۍ او خطرونه،» نيويارکر، د ۲۰۰۷ کال د جولای د ۹مې نېټې ګڼه.

د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې او قانون د تنفيذ د نړيوال رياست «د مخدره توکو د مخنيوي د نړيوالې ستراتيژۍ راپور ۲۰۱۰،» د ۲۰۱۰ کال مارچ، د متحده ايالاتو د بهرنيو چارو وزارت: واشنګټن، ډي سي.

کارټر مالکيسيان، جګړه ګرمسېر ته راځي؛ پر افغان پوله د برش کاله جګړه، (د اکسفورډ پوهنتون مطبعه، ۲۰۱۳)

چندراسيکاران، ر.، وړوکې امريکا: د افغانستان لپاره په جګړه کې دننه جګړه، (نيويارک، ۲۰۱۲).

د کانګرس څېړنيز خدمات، «افغانستان، مخدره توکي او د متحده ايالاتو پاليسي» CRS RL ۳۲۶۸۶، د ۲۰۱۰ کال د جولای د ۱۵مه نېټه.

کاپر-کولز، س. (۲۰۱۱) له کابل څخه مراسلې؛ په افغانستان کې د لوېديځ د مبارزې داخلي داستان (لندن: د هارپر مطبعه، ۲۰۱۱).

د کرانفيلډ پوهنتون (۲۰۰۹)، «له ۲۰۰۷ کال څخه تر ۲۰۰۹ کال پورې په هلمند کې د کوکنارو او غله جاتو کرکيله» ناچاپ شوی راپور.

ډيويډ مانسفيلډ، « تر څمکې پورته: تر څه باندې يوې لسيزې«دولت جوړونې» وروسته د هلمند کليوالي خلک چېرته ولاړ دي؟» د افغانستان د مخدره توکو د بين الاداري واحد لپاره ناچاپ شوی راپور، د ۲۰۱۴ کال د مې ۲۱مه نېټه.

ډيويډ مانسفيلډ، پاول فيشتاين او OSDR، «د مخ پر وړاندې تلو وخت را رسېدلی: په افغانستان کې د کوکنارو د کرکيلې لپاره له پوهاوي د يوه ډک انکشافي اقدام چمتو کول» (د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد: کابل، ۲۰۱۲).

ډيويډ رينالډز، «افغانستان: په هلمند کې د برتانيې جګړه: يو تاريخی روايت» (د DRA مطبعه: پلايموت، ۲۰۱۲)، ۷۵مه پاڼه.

د دفاع وزارت د انځوريزو معلوماتو د وېشنې خدمات «د هلمند حکومتي چارواکي د خوږو زون شورا جوړوي» د ۲۰۱۰ کال د اکتوبر ۱۷مه نېټه.

د دفاع وزارت د انځوريزو معلوماتو د وېشنې خدمات «افغان کروندګر د کښتونو د تخريب له امله تاواني کېږي» د ۲۰۱۰ کال د اپرېل ۲۹مه نېټه.

د نړيوالې پراختيا اداره «قضيوي مطالعه: په افغانستان کې د کوکنارو پر ځای د غنمو کرل – امنيتي وضعيت څنګه ښه شو او څنګه د برتانيې له خوا کرنيز ملاتړ له افغان کروندګرو سره مرسته کوي چې د کوکنارو له کرکيلې څخه لاس واخلي او زيات پايښت لرونکو کښتونو ته مخه کړي» د ۲۰۱۱ کال د مې ۲۲ مه نېټه.

ډيون نيسينبام، «د افغانستان کوکنار د امريکايي سمندري ځواکونو لپاره يوه بله ننګونه ده» مکلاچې، د ۲۰۱۰ کال د مارچ ۱۲مه نېټه.

ګورډن، س. د زړونو او مغزونو ګټل؟ د افغانستان په هلمند کې د مرستو او امنيت ترمنځ د اړيکو څېړل. (ميډفورډ، MA: د فاينشټاين نړيوال مرکز، د تفتس پوهنتون، ۲۰۱۱).

نيکول ګالان، «د شنه ماشوم ناروغي څه ده؟» د نن طبي خبرونه، د ۲۰۱۸ کال د مې ۲۹مه نېټه.

د مرستو د اغېزې لپاره مستقل کميسيون «په افغانستان کې د ودې او معيشيت لپاره د برتانيې د نړيوالې پراختيايي ادارې دوه اړخيز ملاتړ، د راپور شمېره ۳۱،» د ۲۰۱۴ کال مارچ.

جيمز کلارک، «د ملاتړ د تخمونو کرل: سمندري ځواکونه د کرنيز انتقال له لارې د کښتونو تغيير ته لاره هواروي» د سمندري ځواکونو اعزامي لېواء، د ۲۰۱۰-کال د اپرېل ۲۰مه نېټه.

جين مکينزی «په افغانستان کې د بدو وروسته ښې پيسې» ګلوبل پوسټ، د ۲۰۱۰ کال د جنوري ۱۸مه نېټه.

جوناتن واکر «حکومت پر داسې ناکامه پلان ۸ ميليونه برتانوي پاونډه ضايع کوي چې غواړي د ترياکو کرونکي په دې قانع کړي چې نوي کاروبارونه پيل کړي» بيرمنګم پوسټ، د ۲۰۱۴ کال د مارچ ۲۱مه نېټه.

لیدویج، ف. «په وینو کې پانګونه: د برتانیې د افغان جګړې اصلي بیه» (نیو هیون: ییل، ۲۰۱۳).

م. رایډر او س. ریډ، «د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې په اړه د هلمند د پلان بیاکتنه» (د افغانستان د مخدره توکو د بین الاداري واحد لپاره ناخپور شوی سند، H ضمیمه، د ۲۰۱۰ کال اګسټ).

مانسفیلډ، ډ. «دوی له بدو څخه بدتر کړل: د هلمند او ننګرهار ولایتونو په جګړه ځپلو سیمو کې د تریاکو تراکم» د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد د قضیوي مطالعاتو لړۍ. (کابل: د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد، ۲۰۱۴).

مانسفیلډ، ډ. (۲۰۰۵). نفرت که بېوزلي؟ په ننګرهار ولایت کې د ۲۰۰۵/۲۰۰۴ کلونو د کرکیلې د موسم پر مهال پر تریاکو بندیز او د کلیوالي معیشیت پر تګلارو د هغه اغېزه. په ختیځ افغانستان کې د بدیل معیشیتونو لپاره د المان د تخنیکي همکاریو پروژه، داخلي ۱۱ شمېره سند.

مانسفیلډ، ډ. (۲۰۰۹) «د کښتونو د تخریب د اغېزې مطالعه» د برتانیې حکومت د افغانستان د مخدره توکو د بین الاداري واحد لپاره ناچاپ شوی راپور، د ۲۰۱۰ کال مې.

مانسفیلډ، ډ. (۲۰۰۹). د زوال دوام؟ د ۲۰۰۹/۲۰۰۸ کلونو د کرکیلې په موسم کې د تریاک کرونکو کورنیو په کلیوالي معیشیت کې د تغییر پر ماهیت پوهېدل. د برتانیې حکومت د افغانستان د مخدره توکو د بین الاداري واحد لپاره یو راپور.

مانسفیلډ، ډ.، السیس لمټډ.، او OSDR. د هم مهاله او پرلپسې خطرونو مدیریت: په مرکزي هلمند کې د ۲۰۰۸ – ۲۰۱۱ کلونو ترمنځ د تریاکو په تولید کې د کموالي په اړه توضیحات. (کابل: د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد، ۲۰۱۱).

مارک چېسلم «سمندري ځواکونه افغان کروندګرو ته پیسې ورکوي چې خپل کښتونه تخریب کړي» رویټرز، د ۲۰۱۰ کال اپرېل.

مایک مارټین، یوه دوستانه جګړه: د هلمند د جګړې یو شفاهي تاریخ (هرسټ: لندن، ۲۰۱۴).

د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې وزارت «د خوړو زون پروګرام، کندهار، فراه، اروزګان او بدخشان.»

نیومن، ر. ی. بله جګړه: په افغانستان کې ګټل او بایلل. (واشنګټن، ډي سي: پوټومک کتاب پلورنځی، ۲۰۰۹).

د ولایتی بیارغونې ټیم «د ولایتي بیارغونې ټیم د ایساف - سمندري ځواکونو اعزامي لېواء او د قوماندانانو د بېړني غبرګون پروګرام له خوا د وړو پورونو د ورکړې د پروګرام لپاره د بدیل سپارښتنه کوي» ۲۰۱۰.

ریلیف ویب. «افغانستان: په هلمند کې د انکشاف لپاره د برچتانیې اضافي مالي مرستې» ۹ مارچ ۲۰۱۰.

روډ نورډلنډ، «متحده ایالات د افغانستان په یوه ښارګوټي کې تریاک له پامه غورځوي» نیویارک ټایمز، د ۲۰۱۰ کال د مارچ ۲۰مه نېټه.

رایډر، م. او ریډ، س. (۲۰۰۹، اګسټ). د هلمند د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې پلان بیاکتنه. د افغانستان د مخدره توکو د بین الاداري واحد لپاره ناخپور شوی سند.

شراړډ کاپر-کولز، له کابل څخه مراسلې: په افغانستان کې د لوېدیځ د مبارزې داخلي داستان (لندن: د هارپر مطبعه، ۲۰۱۱)، ۱۲۲مه پاڼه.

د افغانستان د بیارغونې لپاره ځانګړی سرمفتش «د مخدره توکو پر وړاندې مبارزه: په افغانستان کې د متحده ایالاتو له تجربې څخه ترلاسه شوي درسونه» د ۲۰۱۸ کال جون: واشنګټن، ډي سي.

د افغانستان لپاره د سوېډن کمېټه «د هلمند ولایت د نادعلي ولسوالي کرنیز سیستمونه» د افغانستان کرنیزه سروې، ۱۵ راپور، (پېښور: SCA، ۱۹۹۲).

ګارډین»د متحده ایالاتو د سفارت مراسلات: متحدین د هلمند د والي ستاینه کوي» د ۲۰۰۸ کال د مې ۲۲مه، د ۲۰۱۰ کال د ډسمبر پر ۲مه نېټه خپور شو.

ګارډین «ګورډن براون له کرزي غواړي چې د هلمند والي لرې نه کړي» د ۲۰۰۸ کال د اګسټ ۲۲مه نېټه، د ۲۰۱۰ کال د ډسمبر په ۲مه نېټه خپور شو.

ګارډین»د متحده ایالاتو د سفارت مراسلات:کرزی هڅه کوي چې نامتو جنګسالار او مجرم وګوماري» د ۲۰۰۹ کال جون، د ۲۰۱۰ کال د ډسمبر په ۲مه نېټه خپور شو.

تیو فاریل، ناګټونکی: په افغانستان کې د برتانیې جګړې ۲۰۱۱ – ۲۰۱۴، (پنګوین: لندن، ۲۰۱۷).

د متحده ایالاتو حکومت د تفتیش اداره»د افغانستان د مخدره توکو مخنیوی: د ستراتیژۍ تکامل او د پرمختګونو د راپور ورکول، خو د موقتو کړنو اهداف او د قضایي اصلاحاتو د ارزونې هڅو ته اړتیا ده،» GAO-۱۰-۲۹۱، د ۲۰۱۰ کال مارچ.

د ملګرو ملتونو د جرمونو او مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې دفتر، «افغانستان، د ۲۰۰۳ کال د تریاکو سروې» (کابل: ملګري ملتونه، ۲۰۰۳).

د ملګرو ملتونو د جرمونو او مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې دفتر، «افغانستان، د ۲۰۰۴ کال د تریاکو سروې» (کابل: ملګري ملتونه، ۲۰۰۴).

د ملګرو ملتونو د جرمونو او مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې دفتر، «افغانستان، د ۲۰۰۷ کال د تریاکو سروې « (کابل: ملګري ملتونه، ۲۰۰۷).

د ملګرو ملتونو د جرمونو او مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې دفتر، «افغانستان، د ۲۰۰۹ کال د تریاکو سروې» (کابل: ملګري ملتونه، ۲۰۰۹).

اپر کوارټایل، «د هلمند د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې او بدیلو معیشیتونو ارزونه» د بهرنیو او مشترک المنافع چارو وزارت لپاره ناچاپ شوی راپور، د ۲۰۱۰ کال اګست.

د متحده ایالاتو نړیواله پراختیایي اداره (۲۰۱۴) «د افغانستان د کرنیز سکتور مرستې، د کوکنارو کرکیله او په افغانستان کې د متحده ایالاتو د نړیوالې پراختیایي ادارې انکشافي هڅې: مسوده،» د ۲۰۱۴ کال د سپټمبر ۲۲مه نېټه.

په افغانستان کې د متحده ایالاتو د نړیوالې پراختیا اداره، «په افغانستان کې د بدیل انکشاف د غوراویو ارزونه، نهایي راپور» د ۲۰۱۲ کال مارچ.

د متحده ایالاتو د نړیوالې پراختیا اداره»د افغانستان په اسلامي جمهوریت کې د جنوب لپاره د متحده ایالاتو د نړیوالې پراختیایي ادارې د بدیل انکشاف د پروګرام (ADP/S) نهایي ارزونه» د ۲۰۱۰ کال اپرېل.

د متحده ایالاتو د نړیوالې پراختیا اداره «د سرمفتش دفتر (۲۰۱۱) د افغانستان جنوبي سیمې ته د ثبات راوستلو په برخه کې د متحده ایالاتو د نړیوالې پراختیایې ادارې د نوښت پلټنه، د پلټنې راپور شمېره F-۳۰۲-۱۲-۰۰۱-P،» د ۲۰۱۱ کال نومبر.

د متحده ایالاتو د نړیوالې پراختیا اداره، د سرمفتش دفتر (۲۰۱۰) د متحده ایالاتو د نړیوالې پراختیایي ادارې د افغانستان د ګټورې کرنې لپاره د کوپونونو (AVIPA) د پروګرام تفتیش (پلټنه)، د تفتیشي راپور شمېره ۵-۳۰۲-۱۰-۰۰۸، د ۲۰۱۰ کال د اپرېل ۲۰مه نېټه.

وال سټریټ جورنال، «د متحده ایالاتو یو متحد د افغان حکومت په ادلون بدلون کې له دندې ګوښه شو،» د ۲۰۱۲ کال د سپټمبر ۲۰مه.

ویلټین پارک، «کنفرانس د ۲۰۱۴ کال وروسته د ثبات په اړه خبر ورکوي: له معاصرو عملیاتو څخه درسونه،» ۲۵ – ۲۷ جون ۲۰۱۴ کال، WP۱۳۳۷.

زبیدي، ګ. (۲۰۱۰، مارچ). په هلمند کې د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې د ولایتي پلان بیاکتنه: دوهم راپور. دا بیاکتنه د هلمند ولایتي بیارغونې ډلې د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې د ټیم په سپارښتنه ترسره شوه.

# د غبرګون او نظرونو غوښتنه

د AREU اداره ډېره لېواله ده چې د دغې څېړنې د کاروونکو نظرونه واوري. که تاسو زموږ د خپرونو یو دوامداره لوستونکي یاست، د AREU لیکچر یا ورکشاپ کې مو ګډون کړی، کتابتون یې کاروئ، یا یوازې په دې وروستیو کې له دغه ادارې سره بلد شوي یاست، ستاسو نظرونه او غبرګون زموږ لپاره ارزښت لري. دغه نظرونه موږ سره مرسته کولی شي چې خپلې موخې په لا ښه ډول لاسته راوړو او د څېړنې په اړه خپلې تګلارې او د پایلو د شریکولو طریقې و ارزوو. د نظرونو شریکولو تر ټولو اسانه لار موږ ته ایمیل کول دي: areu@areu.org.af

یا کولی شئ موږ ته زنګ ووهئ: ۰۰۹۳۷۹۹۲۰۸۵۴۸. تاسو چې هر څه غواړئ موږ ته یې ویلی شئ، خو په ممکنه ډول یو څه ګټور مالومات دا دي:

- تاسو له AREU سره څنګه اړیکه نیسئ (یعنې د خپرونو ، غونډو یا نورو لارو )؟
- تاسو د AREU له څېړنو څخه د څه لپاره کار اخلئ؟
- تاسو د AREU خپرونې څنګه لاسته راوړئ؟
- تاسو د څېړنو بریښنایي که چاپ شوې بڼه کاروئ؟
- خپرونې څنګه کولی شي تاسو ته مالومات په لا ښه ډول وړاندې کړي؟
- زموږ د څېړنې د بهیرونو یا پایلو په اړه ستاسو نظرونه؟
- هغه برخې یا موضوع ګانې چې تاسو یې په اړه د څېړنو ترسره کېدو سپارښتنه کوئ؟
- د AREU هغه خپرونې یا فعالیتونه/غونډې چې ستاسو ډېرې خوښېږي؟
- ستاسو په اند موږ په کومو برخو کې خپل کار ښه کولی شو؟
- ستاسو د خوښې یا لېوالتیا ډګر، دنده یا څېړنه، او دغه راز موقعیت؟

# د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداري نوې خپرونې

ټولې خپرونې د ډونلود لپاره(ښکته کولو لپاره ) په www.areu.org.af کې د لاسرسۍ وړ دي، او ډېرې ئې د هارد کاپي(چاپي بڼه ) په ډول په وړيا توګه په کابل کې د AREU له دفتر څخه لاس ته راوړلای شي.

| نېټه | د خپرونې نوم | ليکونکی ( مولف ) | په دري ژبه | په پښتو ژبه | د څېړنې موضوع | د خپرونې ډول |
|---|---|---|---|---|---|---|
| دسامبر ۲۰۱۹ | د افغانستان په ټاکنو کې د ښځو په وړاندې تاوتريخوالی | واه کوبورن، محمد حسن وفايي | √ | √ | جندر | توضيحي پاڼه |
| دسامبر ۲۰۱۹ | نن ورځ په افغانستان کې د کوچيانو او ځايي اوسيدونکو شخړه | داکتر انتونيو جيستوزی | √ | √ | د طبيعي سرچينې مديريت | تلفيقي ليکنه |
| سپتامبر ۲۰۱۹ | په افغانستان کې د کوچيانو د ميشتيدنې بهيرونه او پر شخړې د هغوی اغيزې | داکتر انتونيو جيستوزی | √ | √ | د طبيعي سرچينې مديريت | موضوعي ليکنه |
| سپتامبر ۲۰۱۹ | په افغانستان کی د کوچيانو د ميشتيدنی بهيرونه او پر شخړی د هغوی اغيزی | داکتر انتونيو جيستوزی | √ | √ | د طبيعي سرچينې مديريت | موضوعي ليکنه |
| د ۱۳۹۸ غبرګولې | لمر په دوو ګوتو نه پټيږي | ډيويډ منسفيلډ | √ | √ | د طبيعي سرچينې مديريت | موضوعي ليکنه |
| د ۱۳۹۷ لړم | د ۱۳۸۲ کال د اساسي قانون په رڼا کې د افغانستان د عامه اداري سازمان او جوړښت څېړنه | ميرويس ايوبي او ډاکټر هارون رحيمي | √ | √ | اساسي قانون | د پاليسی نوټ |
| د ۱۳۹۷ مرغومی | د ۱۳۸۲ کال د اساسي قانون په رڼا کې د افغانستان د عامه اداري سازمان او جوړښت څېړنه | ميرويس ايوبي او ډاکټر هارون رحيمي | √ | √ | اساسي قانون | تحليلي څېړنه |
| د ۱۳۹۷ سلواغه | د افغانستان پارلمان: د ۲۰۰۱ کال راهيسې د اساسي قانون پر بنسټ د ورکړل شوو واکونو او عملي کړنو پرتله | شمشاد پسرلي او زلمی ماليار | √ | √ | اساسي قانون | د پاليسی نوټ |
| د ۱۳۹۷ سلواغه | د افغانستان پارلمان: د ۲۰۰۱ کال راهيسې د اساسي قانون پر بنسټ د ورکړل شوو واکونو او عملي کړنو پرتله | شمشاد پسرلي او زلمی ماليار | √ | √ | اساسي قانون | تحليلي څېړنه |
| د ۱۳۹۷ سلواغه | د کوچيتوب، د کوچيانو او دسيمې د اوسېدونکو ترمنځ د شخړو په مديريت کې د افغانستان د دولت رول | ډاکټر انتونيو ګيستوزی | √ | √ | د کوچيانو او د سيمې د اوسيدونکو ترمنځ ښخړې | تحليلي څېړنه |
| د ۲۰۱۸ اپريل | نور معياري پروګرامونه بس دي: په ماتيدونکو شرايطو کې اقتصادي پرمختک | SLRC | | | تولنيز ملاتړ | لنډه ليکنه |
| د ۲۰۱۸ مارچ | يوه نقشه ايزه څېړنه: په افغانستان کې د انسانانو له قاچاق سره د مبارزې بنستيز مکانيزمونه | سوپروا نارا سيمهايا | | | ټولنيز ملاتړ | موضوعي ليکنه |
| د ۲۰۱۸ مارچ | يوه نقشه ايزه څېړنه: په افغانستان کې د انسان له قاچاق سره د مبارزې بنستيز مکانيزمونه | ولي محمد کنډيوال | √ | √ | ټولنيز ملاتړ | د پاليسي يادښت |

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| د ۲۰۱۸ جنوري | ښاري خونديتوب: په افغانستان د ښاري سولې جوړونې پروګرام ته بیا کتنه | یما ترابي | √ | √ | ټولنیز ملاتړ | د پالیسي یادښت |
| د ۲۰۱۸ جنوری | په افغانستان کې د میشتوکوچیانو د شخړو ډولونه | انتونیو ګیستوزي | √ | √ | د طبیعی سرچینې مدیریت | موضوعی لیکنه |
| د ۲۰۱۷ نومبر | ناروغتیا یا علامی؟ په ۲۰۱۷ کال کې د افغانستان د ودې کوونکو تریاکو اقتصاد | ویلیام ای. بایرد | | | د طبیعی سرچینی مدیریت | د پالیسي یادښت |
| د ۲۰۱۷ دسمبر | په افغانستان کې د اروپایی ټولنې د ستونزې د غبرګون تحلیل | چونا آر. ایچاویز، قیوم سروش | | | ټولنیز ملاتړ | د پالیسي یادښت |
| د ۲۰۱۷ اکتوبر | په واقعی توګه بیساری: په هلمند کې د خوړو زون څنګه په ولایتونو کې د تریاکو د تولید د ډیروالی ملاتړ وکړ | ډیویډ منسفیلډ | √ | √ | د طبیعی سرچینی مدیریت | موضوعی څیړنه |
| د ۲۰۱۷ کال اګست | په افغانستان کې قضایې بیا کتنه | غزال حارس | √ | √ | اساسي قانون | موضوعی څیړنه |
| د ۲۰۱۷ کال آګست | په افغانستان کې اجرایي بیا کتنه | کاوون کاکړ | √ | √ | اساسی قانون | موضوعی څیړنه |
| د ۲۰۱۷ کال جولای | ښځې د افغانستان په کرنه کې | لینا ګانیش | | | جنسیت | موضوعی څیړنه |
| د ۲۰۱۷ کال جولای | د اوبو په برخه کې د سمونې اغیزې | اتل احمدزی | | | حکومتولي | موضوعی څیړنه |
| د ۲۰۱۷ کال جولای | په افغانستان کې ښاري حکومتولی. | دیتلیف کمیر | | | حکومتولي | موضوعی څیړنه |
| د ۲۰۱۷ کال جولای | د دولت د ادارو دندو ته بیا کتنه | اکسل کویتز | | | حکومتولی | موضوعی څیړنه |
| د ۲۰۱۷ جولای | په افغانستان کې د کوچیانو – بزګرانو شخړې | انتونیو جیو ستوزي | | | د طبیعی سرچینی مدیریت | لنډیز |
| د ۲۰۱۷ کال جون | په افغانستان کې د حکومتولی د ارزونی چوکاټ (LGAF) | AREU | | | حکومتولی | ریپوټ |
| د ۲۰۱۷ جنوری | په افغانستان کې د معیشت تګ کړښې: د هرات له درې کلیو څخه بیلګې | دانیل هت، ادم پین او احسان الله غفوري | | | ټولنیزه ساتنه | کاري لیکنه |
| د ۲۰۱۷ جنوري | په افغانستان کې د معیشت تګ کړښې: د «وروسته پرمختیا» په وخت کې ژوند | جیولیا مینویا او ادم پین | | | ټولنیزه ساتنه | کاري لیکنه |
| د ۲۰۱۷ جنوری | په افغانستان کې د معیشت تګ ګرښې: د کندهار په ولایت کې چوپ تاوتریخوالی | دانیل هوټ، ادم پین او احسان الله غفوری | | | ټولینزه ساتنه | کاری لیکنه |



د افغانستان
د څېړنې او
ارزونې اداره

څېړنه د ښه افغانستان لپاره

د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداری ټولی خپرونی
ددغی اداری له کورپاڼی ( www.areu.org.af )
څخه ترلاسه کولای شی.

په کابل کې ددغه ادارې په دفتر کې چاپ شوی
کاپیانې هم موجودی دی.

د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره
لسمه ناحیه، لومړی سړک، شهرنو،
کابل، افغانستان
تیلفون: ۰۷۹۹۶۰۸۵۴۸ (۰) ۹۳+
بریښنالیک: publications@areu.org.af
ویب پاڼه: www.areu.org.af

ISBN 978-9936-641-45-7
9 789936 641457